د افغانستان اسلامي جمهوریت | د مالیې وزارت

# ملي بودجه

د ۱۳۹۸ مالي کال

یوه اغیزمنه، رڼه او پر پایلو ولاړه بودجه

# لړلیک


د بودجې ستراتیژي او لړلید.................................................................................................................. ۱
بودجې ته ټولیزه کتنه ................................................................................................................. ۱
د بودجې لړلید.................................................................................................................... ۱
اقتصادي لړلید ................................................................................................................... ۵
تورم ............................................................................................................................... ۶
د تبادلې بیه (افغانۍ د امریکایي ډالرو پر وړاندې) ............................................................. ۷
د کورني اقتصاد لړلید............................................................................................................ ۸
د نړیوال اقتصاد لړلید ............................................................................................................ ۹
د سیمې اقتصادي لړلید ........................................................................................................... ۹
مالي لر لید او ستراتیژي ............................................................................................................ ۱۱
مالي ستراتیژي.................................................................................................................... ۱۱
مالي او اقتصادي موخې ......................................................................................................... ۱۱
د لګښتونو منځمهاله چوکاټ او له 1398 – 1401 پورې د څو کلونو وړاندوینې.............................. ۱۲
د 1398 مالي کال توحید شوې بودجه ..................................................................................... ۲۱
د 1398 کال په بودجه کې نوي عمده پرمختیایي فعالیتونه ........................................................ ۲۶
د 1398 د کال منځنۍ بودجې ارزونه......................................................................................... ۲۸
ترلاسه شوي عواید او مرستې (عواید)........................................................................................ ۲۹
دعوایدو لړلید (1396 – 1401) ............................................................................................... ۲۹
د کورنیو عوایدو لړلید ........................................................................................................... ۲۹
د ارزښت پر زیاتوالي مالیې وړاندوینې (VAT)........................................................................... ۳۲
د بهرنیو مرستو له لارې د عوایدو لر لید 1398 – 1401.............................................................. ۳۲
په عادي بودجه کې مرستې:.................................................................................................... ۳۲
د اختیاري بودجې مرستې 1398 – 1401..................................................................................... ۳۳
د وظیفوي طبقه بندۍ له مخې د دولت لګښت ............................................................................. ۳۶
پېژندنه ............................................................................................................................... ۳۶
د کړنو له مخې د لګښتونو لنډیز................................................................................................ ۳۶

عمومي عامه خدمات ........ ۳۶
دفاع ........ ۳۶
عامه نظم او خونديتوب ........ ۳۷
اقتصادي چارې ........ ۳۷
د چاپيريال خونديتوب ........ ۳۷
کور جوړول او د ټولنې تهذيب ........ ۳۷
روغتيا ........ ۳۸
تفريح، کلتور او مذهب ........ ۳۸
پوهنه ........ ۳۸
ټولنيز خونديتوب ........ ۳۸
مالي گواښونه ........ ۴۳
عمومي مالي گواښونه ........ ۴۳
امنيت ........ ۴۳
داخلي بيځايه شوي وگړي او د کډوالو بېرته ستنيدنه ........ ۴۳
د اقليم بدلون او مالي گواښونه ........ ۴۴
وچکالي –د اقليم بدلون په برخه کې وروستی شاک/ضربه ........ ۴۵
**دولتي تصدی** ........ ۴۶
تقاعد ........ ۴۷
عامه او خصوصي مشارکت ........ ۵۰
د بودجې د اجرا اصول ........ ۵۴
د بودجې د تطبيق حقوقي چوکاټ ........ ۵۴
د ملي بودجې د تطبيق لپاره اداري اړتياوې ........ ۵۴
عمومي حکمونه ........ ۵۴
بدلونونه او تعديلات ........ ۵۵
د پروژو او قرادادونو مديريت ........ ۵۷
د کارکوونکو اړوند موضوعات ........ ۵۹
د ۱۳۹۸ کال نوي پاليسی ........ ۶۰

لنډه کتنه ........................................ ۶۰
د پالیسی نوي فعالیتونه څه دي؟ ........................................ ۶۰
د عوایدو د زیاتولو طرحه او وړاندیزونه ........................................ ۶۰
د ۱۳۹۸ مالي کال په بودجه کې اصلاحات ........................................ ۶۲
د زیربنایي پروژو ارزونه (Portfolio Review) ........................................ ۶۴
د اداراتو تشکیل ........................................ ۶۷
ساختاري کتنه او د تمرکز نشتوالی ........................................ ۶۷
تشکیل ........................................ ۶۷
ملي تخنیکي مرستې (NTA) ........................................ ۶۹
په ولایتونو کې مالي عملیات ........................................ ۷۰
اجمالي مرور ........................................ ۷۰
له ۱۳۹۴ ـــ۱۳۹۷ کال پورې د ولایتونو په کچه حکومتي لګښتونه ........................................ ۷۰
د ولایتي لګښتونو تحلیل ........................................ ۷۲
خلکو سره د حکومت مشورتي غونډې ........................................ ۷۶
**ولسي تړون** ........................................ ۷۸

## دجدولونو لړلیک

جدول ۱ (د 1397 – 1401 کال د بودجې لنډیز او د تمویل سرچینې) ........................................ ۳
جدول ۲ (د ستر اقتصاد منځمهاله چوکاټ) ........................................ ۵
جدول ۳ (د سکتورونو جوړښت د حکومت د دندو پر بنسټ) ........................................ ۱۵
جدول ۴ (د 1398 کال توحید شوې بودجه (ارقام په افغانیو) ........................................ ۲۲
جدول ۵ (د 1398 کال د نویو پروژو نوملړ) ........................................ ۲۶
جدول ٦ (د عوایدو د وړاندوینې فرضیې) ........................................ ۳۰
جدول ۷ (د عادي بودجې مرستې) ........................................ ۳۲
جدول ۸ (د اختیاري بودجې مرستې) ........................................ ۳۳
جدول ۹ (د ۱۳۹۸ کال په پرمختیایي بودجه کې غیراختیاري مرستې او پورونه) ........................................ ۳۳
جدول ۱۰ (د دولت د مالي احصائیې د معیار په اساس مرستې) ........................................ ۳۵
جدول ۱۱(د 1398 – 1401 کلونو لپاره د دندو پر بنسټ د حکومت لګښتونه) ........................................ ۳۹
جدول ۱۲ (هغه ۱۰ وزارتونه چې د تشکیل ترټولو لوړه شمېر لري) ........................................ ۶۸
جدول ۱۳( هغه ۱۰ بودجوي واحدونه چې د NTA ترټولو زیات کارکوونکي لري) ........................................ ۶۹

جدول ۱۴( د حکومت لګښتونه د ولایتونو پر بنسټ) ........................................................................ ۷۱
جدول ۱۵ (د ولایت پربنسټ اړتیاوې)........................................................................ ۷۷
جدول ۱٦ (د ولایت او ولسوالۍ پربنسټ د ولسي تړون لګښتونه –ارقام په ډالر)........................................... ۷۹
جدول ۱۷ (سیمه ییزی شوراګانی)........................................................................ ۸٦
جدول ۱۸(د پورونو د مدیریت ربعوار راپور- د ۱۳۹۷ مالی کال د دریمی ربعی د پورونو راپور)........................ ۸۷
جدول ۱۹ (د ۱۳۹۸ مالي کال د بودجې او تمویل لنډیز) ........................................................................ ۸۸
جدول ۲۰ (د ۱۳۹۸ مالي کال عادي بودجه د اداراتو پربنسټ)........................................................................ ۸۹
جدول ۲۱ (د ۱۳۹۸ مالي کال تشکیل د اداراتو پربنسټ)........................................................................ ۹۳
جدول ۲۲ (د ۱۳۹۸مالي کال پرمختیایي بودجه د اداراتو پربنسټ)........................................................................ ۹۵
جدول ۲۳ (د ۱۳۹۸مالي کال توحید شوی بودجه د اداراتو پربنسټ)........................................................................ ۹۸
جدول ۲۴ (د ۱۳۹۸ مالي کال پرمختیایي پروژو لست)........................................................................ ۱۰۳

## د شکلونو لړلیک

شکل ۱ (تورم)........................................................................ ٦
شکل ۲ (د تبادلې بیه) ........................................................................ ۷
شکل ۳ (کورنی عواید او بهرنۍ مرستې)........................................................................ ۱۲
شکل ۴ (د عوایدو او لګښتونو سیر)........................................................................ ۱۳
شکل ۵ (د کورنی عوایدو عمده کټګورۍ) ........................................................................ ۳۱
شکل ٦ (د زیانونو او تاوانونو سرچینې -تر ۲۰۵۰ کاله پورې د ناخالصو کورنیو تولیداتو په وده کې کموالې) .......... ۴۵
شکل ۷ (تشکیل - ملکی او نظامی کارکونکي)........................................................................ ٦۸
شکل ۸ ( NTA کارکونکي) ........................................................................ ٦۹
شکل ۹ (د ولایتونو پر بنسټ د حکومت لګښتونه)........................................................................ ۷۳
شکل ۱۰ (د ولایتونو پر بنسټ د سړي سر لګښت)........................................................................ ۷۵

# د بودجې ستراتیژي او لرلید

## بودجې ته ټولیزه کتنه

د 1398 کال بودجه د مالي پلان جوړونې په تګلاره کې د دولت د هغو مثبتو اصلاحاتو او بدلونونو ساتلو په موخه چې په 1397 کال کې رامنځته شول، چمتو شوې ده. موږ هڅه کوو ترڅو د اصلاحاتو د ساتلو ترڅنګ هغو معیاري ارزونو مطابق چې مخکې ترسره شوې دي د مالي چارو ښه والي ته هم بشپړ پاملرنه وشي او هر کال د تیر هغه په پرتله د چارو د ښه والي شاهد اوسو. د 1398 مالي کال بودجه هم د تیر کال په څیر یوه واحده ملي بودجه ده چې د نړیوالو معیارونو سره سم عادي او پرمختیایي بودجې پکې شاملې دي.
د افغانستان دولت د ملي بودجې روڼ، ځواب ورکوونکي او اغیزمن مدیریت ته ژمن دی او په دې برخه کې یې ډیرې هڅې کړې دي. روڼتیا، ریښتیني پلان جوړونه، او د ملي بودجې اغیزمن لګښت د هغې په اعتبارکې زیاتوالي راولي او دولت ته وړتیا ورکوي ترڅو د مالي محدودیتونو په اړه  ګټوره او پروخت پریکړه وکړي چې  دې ته په پام سره نوې پانګونې په ښه او هدفمنده توګه صورت نیسي. له بل پلوه، هڅه کیږي چې شته پروژې هم موخې لرونکې شي او دې موخو ته رسیدو لپاره د کمزوریو اجراآت لرونکو یا ټیټ لومړیتوب لرونکو پروژو پیژندل او له دا ډول پروژو څخه هغو پروژو ته د وجوه لیږدول چې په ښه توګه وکولای شي د دولت له پالیسیو څخه ملاتړ وکړي او اغیزمن اجراآت هم ولري، هغه اقدامات دي چې دولت ورته په تیرو کلونو کې ژمن وو او له دې لارې یې هڅه کړې ترڅو د لګښتونو اغیزه او هدفمندي زیاته کړي.
همدا راز، د څو کلونو بودجوي تخمین  د هغو معتبرو میتودونو  پر بنسټ شوي دي چې کولای شي د راتلونکي یو حقیقي انځور وړاندې کړي. دغه وړاندوینې اړتیاوې، د لګښتونو کچه او هغه عواید چې د حقیقي پیښو پر بنسټ ولاړ وي، او هڅه شوې چې د څو کلونو پر اټکل باندې اغیز لرونکي عوامل هم په پام کې ونیول شي.

## د بودجې لرلید

په هیواد کې سیاسي او اقتصادي بدلونونو ته په کتو سره ملي بودجه په ټوله کې نسبتاً محدود لرلید له ځانه سره لري. که چیرې په دې سند کې د څو کلونو وړاندوینې ته رجوع وکړو، لیدل کیږي چې په منځمهاله  کې د کورنیو عوایدو ښه والې ښیي مګر په بهرنیو مرستو کې د پام وړ کموالي راځي. دا پدې معنا ده چې په منځمهاله کې چې کومه مالي خلا رامنځته کیږي هغه د بهرنیو مرستو د پای له امله ده.

د 1398 مالي کال ټوله بودجه شاوخوا 399 میلیارده افغانی اټکل شوې ده چې د کورنیو ناخالصو تولیداتو %25 تشکیلوي. عادي بودجه چې د حکومت د عملیاتي فعالیتونو د تمویل لپاره کارول کیږي، د مجموعي بودجې شاوخوا %69 تشکیلوي. د لګښتونو د وړاندوینې پر بنسټ د1397 مالي کال تر پای پورې د عادي بودجې لګښت له 278 میلیارد افغانیو څخه زیاتیږي. په 1398 مالي کال کې عادي لګښتونه د 1397 کال تر پای پورې د لګښتونو اټکل په نسبت شاوخوا %1 کموالي مومي چې پدې حساب سره په 1398 کال کې د عادي بودجې مجموع له 275 میلیارد افغانیو څخه زیاتیږي. همدا راز وړاندوینه کیږي چې د 1397 مالي کال تر پای پورې د پرمختیایي بودجې لګښت به شاوخوا 120 میلیارد افغانیو ته ورسیږي. په دې توګه د 1398 کال پرمختیایي بودجه د 1397 کال له پرمختیایي لګښتونو څخه شاوخوا %3 زیاته پلان شوې ده چې له 124 میلیارد افغانیو څخه زیاتیږي.

په 1398 مالي کال کې د عوایدو مجموع له 387 میلیارد افغانیو څخه زیاته ده چې له دې جملې څخه 188 میلیارد یې له کورنیو عوایدو او 199 میلیارد افغانۍ یې له مرستو څخه ورکول کیږي. پورتنیو ارقامو ته په کتو سره لاهم د ملي بودجې ډیره برخه (51%) په مرستو باندې تمویل کیږي چې په بهرنیو مرستو باندې د افغانستان تکیه څرګندوي. له بل پلوه د یادونې وړ ده چې کورني عواید مخ په ښه کیدو دي او تمه کیږي چې د 1397 کال په نسبت به شاوخوا 7.7 سلنه زیاتوالې پکې راشي. د 1398 کال لپاره د عوایدو ټاکل شوې هدف راتلونکو سیاسي پیښو ته په کتو سره (پارلماني او ولسمشریزې ټاکنې) نسبتاً په محافظه کارانه ډول اټکل شوی دی. بهرنۍ مرستې د کورنیو عوایدو برعکس مخ پر کمیدو دي چې د 1397 مالي کال پر نسبت په 1398 مالي کال کې شاوخوا 11% کموالی ښيي چې دغه امر په منځمهاله کې مالي وضعیت تر زیات مالي فشار لاندې راولي.

څرنګه چې پوهیږو دولت تل هڅه کړی چې لګښتونه د عوایدو سره متناسب پلان کړي او د بودجې کسر په ټیټه کچه کې حفظ کړي. پدې توګه په 1398 مالی کال کې د بودجې کسرشاوخوا 12.3 میلیارد افغانۍ ده چې د کورنیو ناخالصو تولیداتو 0.8 سلنه تشکیلوي او د مدیریت وړ ده.

جدول ۱ (د 1397 – 1401 کال د بودجې لنډیز او د تمویل سرچینې)

| | 1397 منظور شوې بودجه | 1398 بودجه | 1399 وړاندوینه | 1400 وړاندوینه | 1401 وړاندوینه |
|---|---|---|---|---|---|
| **د عوایدو مجموع** | **397,083,022,572** | **387,021,492,028** | **382,491,971,932** | **369,372,956,054** | **354,003,295,052** |
| **کورني عواید** | **173,500,000,000** | **188,005,594,664** | **208,376,441,637** | **234,446,192,482** | **259,100,144,554** |
| د تقاعد ونډه | | 5,460,902,691 | 6,128,934,917 | 6,753,620,479 | 7,235,254,924 |
| **بهرنۍ مرستې** | **223,583,022,572** | **199,015,897,364** | **174,115,530,295** | **134,926,763,571** | **94,903,150,497** |
| عادي | 106,762,039,274 | 98,843,863,664 | 82,063,544,567 | 45,591,857,305 | 45,591,857,305 |
| **پرمختیایي** | **116,820,983,298** | **100,172,033,700** | **92,051,985,728** | **89,334,906,266** | **49,311,293,192** |
| اختیاري | 41,584,354,066 | 37,200,000,000 | 30,800,000,000 | 33,180,000,000 | - |
| د قرضې په ګډون غیر اختیاري | 75,236,629,233 | 62,972,033,700 | 61,251,985,728 | 56,154,906,266 | 49,311,293,192 |
| **لګښتونه** | **413,206,671,388** | **399,417,934,931** | **417,692,387,873** | **425,016,777,419** | **430,014,308,604** |
| **عادي بودجه** | **280,262,039,681** | **275,223,837,836** | **296,459,105,113** | **313,398,117,883** | **331,473,472,534** |
| مزد او معاشونه | 183,066,108,918 | 196,746,008,824 | 208,204,149,353 | 220,696,398,315 | 233,938,182,214 |
| د اجناسو او خدمتونو پلور | 61,134,725,721 | 52,503,309,427 | 53,394,769,804 | 55,618,320,596 | 58,073,053,420 |
| د قرضونو د ورکړو ګټه | 1,802,850,000 | 2,300,000,000 | 2,300,000,000 | 2,300,000,000 | 2,300,000,000 |
| تقاعد | 25,869,796,000 | 17,365,000,000 | 25,865,000,000 | 27,675,550,000 | 29,612,838,500 |

| | 1397<br>منظور شوې بودجه | 1398<br>بودجه | 1399<br>وړاندوینه | 1400<br>وړاندوینه | 1401<br>وړاندوینه |
|---|---|---|---|---|---|
| د شتمنیو لاسته راوړل | 8,388,559,042 | 6,309,519,585 | 6,695,185,956 | 7,107,848,973 | 7,549,398,401 |
| **پرمختیایي بودجه** | **132,944,631,707** | **124,194,097,095** | **121,233,282,760** | **111,618,659,536** | **98,540,836,070** |
| اختیاري | 57,708,002,474 | 61,222,063,395 | 59,981,297,032 | 55,463,753,270 | 49,229,542,877 |
| غیر اختیاري | 75,236,629,233 | 62,972,033,700 | 61,251,985,728 | 56,154,906,266 | 49,311,293,192 |
| **د بودجې کسر** | **(16,123,648,815)** | **(12,396,442,902)** | **(35,200,415,942)** | **(55,643,821,366)** | **(76,011,013,552)** |
| تمویل | 10,000,000,000 | 2,900,000,000 | 10,000,000,000 | 10,000,000,000 | 10,000,000,000 |
| **د مرکزي بانک د پانګې د کموالي جبران** | - | **(7,100,000,000)** | - | - | - |
| **ریزرفي وجوه** | **10,000,000,000** | **10,000,000,000** | **10,000,000,000** | **10,000,000,000** | **10,000,000,000** |
| بیلانس | (6,123,648,815) | (9,496,442,902) | (25,200,415,942) | (45,643,821,366) | (66,011,013,552) |

## اقتصادي لرليد

په 1398 مالي کال کې اقتصادي وده 3% اټکل شوې ده چې 1397 کال په پرتله 1.7% نزولي ميزان په ګوته کوي. همدا راز د اقتصادي تنزيل ګواښ له پخوا څخه ډيروالی مومي. د 1398 مالي کال 3 سلنه پيشبيني شوي ناخالص کورني توليدات په بنسټيز ډول په کرهنيز توليداتو کې د ښه والي او د دولت لخوا د پرمختيايي بودجې لوړ لګښت له امله ده چې د ودانيزو چارو، برښنا، ګاز او اوبو لپاره د زياتو غوښتنو په پايله کې د لوړې اقتصادي ودې سبب شوی دی. په افغانستان کې اقتصادي وده تر ډيره حده د کرهنې په سکتور باندې تکيه کوي (په معمول ډول ميوې او حبوبات) چې اوس مهال د کورنيو ناخالصو توليداتو په مجموع کې د کرهنې برخه شاوخوا 21% ده او د 1401 کال پورې به تر 24% پورې زياتوالی ومومي. تمه کيږي چې د 1401 کاله پورې به منځمهاله اقتصادي وده تر 4.5% ورسيږي.

جدول ۲ (د ستر اقتصاد منځمهاله چوکاټ)

| | پخوا | اوسنی | بودجه | راټلونکي کلونه | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | 1396 | 1397 | 1398 | 1399 | 1400 | 1401 |
| د کورنيو ناخالصه توليداتو حقيقي وده – د بازار بيه | 2.9% | 2.2% | 3.0% | 3.6% | 3.8% | 4.5% |
| د کورنيو ناخالصه توليداتو اسمي کچه (ميليارد افغانۍ) | 1384.9 | 1485.6 | 1564.0 | 1689.3 | 1849.6 | 2037.0 |
| د سکټور په اساس د کوني ناخالصه اسمي توليدات (ميليارد افغانۍ) | | | | | | |
| لومړی – کرهنه | 281.5 | 286.5 | 321.6 | 361.8 | 406.5 | 455.6 |
| دويم – صنايع | 307.5 | 344.4 | 350.0 | 362.9 | 388.9 | 427.2 |
| دريم – خدمتونه | 729.0 | 817.1 | 852.9 | 919.0 | 1002.3 | 1096.5 |
| ډيفليټور/ د کورنيو ناخالصه توليداتو تعديل | 0.9% | 4.9% | 2.2% | 4.2% | 5.4% | 5.4% |
| د مستهلک د بيې د شاخص اوسط تورم | 5.1% | 4.6% | 6.3% | 3.9% | 3.9% | 4.2% |
| په افغانيو باندې د ډالرو د تبادلې بيه | 68.4 | 75.9 | 76 | 77 | 78 | 79 |

**يادداښت:** د تبادلې ليکل شوې بيه يواځې په مختلفو کلونو کې په بازار کې د امريکايي ډالرو په مقابل کې د افغانيو په ارزښت کې د تغييرونو پشبيني په ډاګه کوي. د 1398 مالي کال لپاره د افغانۍ/ډالرو د تبادلې بيه في ډالر په 74.4 افغانيو باندې په پام کې نيول شوې ده.

د منځمهاله اقتصادي ودې وړاندوينې پر لاندې فرضيو باندې ولاړې دي:

- داسې فرض کيږي چې اقليمي شرطونه به مساعد وي او باراني کرهنو لپاره به نامطلوب زيانونه شتون ونلري. د زراعت په سکتور کې به کرهنه ښه والي ومومي او په 1397 کال کې د 286.5 ميليارد افغانيو لـه اسـمي ارقـام څخه به په 1398 کال کې تر 321.6 ميليارد افغانيو ته ورسيږي (12.3 سـلنه زيـاتوالی) او د کرهنـې سـکتور وده په منځمهاله کې په اوسط ډول 12 سلنه پيشبيني شوې چې د نزول لپاره يې هيڅ دليل نه ليدل کيږي.

- د ډاډگيرنې نشتون او نامعلومو شرطونو له امله په ودانيزو فعاليتونو کې له چټک کموالي څخه وروسته چې په ودانيزو برخو کې يې پانگونه ډېره اغيزمنه کړې ده، داسې وړاندوينه کيږي چې په روان کال کې بـه د ودانيـزو فعاليتونو وضعيت به ثابت پاتې شي؛ مگر له 1391 څخه تر 1393 کلونو په پرتله چې په دې کلونـو کـې بهرنـۍ مرستې په لوړه کچه وې، ودانيز فعاليتونه به ورو وي.
- په 1398 مالي کال کې به د انفلاسيون يا تورم ميزان په منځنې ډول تر 6.4 سلنه وي چې د تير کال په پرتله لـوړ دی؛ مگر داسې انگيرنه (فرض) کيږي چې د تنزيل خطر به د پام وړ وي. دغه بهير په منځمهال کې پـه اوسط ډول تر 4.3سلنې پورې پيشبيني شوی دی.

## تورم

د افغانستان اقتصاد يو مصرفي اقتصاد دی چې تر ډيره حده د سـوداگريزو مـالونو پـر وارداتـو بانـدې تکيـه کـوي. د وارد شويو اجناسو په بيې او حجم کې هر ډول بدلون د افغانستان اقتصاد اغيزمنوي. په منځمهاله کې بـه انفلاسـيون پـه اوسـط ډول 4 سلنه ثابت پاتې شي. د انفلاسيون د ميزان وړاندوينه د تير بهير پر بنسټ ده چې لاندې وړاندی شوی دی.

شکل ۱ (تورم)




که چيرې په منځمهاله کې د تمويل کوونکو بلاعوضه مرستې کمې شي وضعيت به بل ډول وي – د مرسته کوونکو بلاعوضه مرستې به د امريکايي ډالرو په مقابل کې د افغانۍ ارزښت راټيت کړي او په پايله کې به داخلي بيې لوړې شي. په داخلي بيو کې زياتوالی به د ټولنې په بيوزله خلکو باندې منفي اغيزه ولري؛ ځکه چې د هغوی د پلور توان به ډير اغيزمن شي. د افغانيو په حقيقي ارزښت کې د کموالي سره سره د بيو زياتوالی پر ملي بودجه باندې هم اغيزه لري ځکه چې د اجناسو او خدمتونو د عين کميت د پيرودلو لپاره په زياته اندازه پيسې ورکول کيږي. پدې توگه، د افغانستان د

مرکزي بانک مالي او پولي پالیسي به دې ته اړتیا ولري چې د داخلي بیو د ثبات لپاره خپلې ټولې هڅې په کار واچوي ترڅو د بیو د ثبات ساتنه، د پیشبیني شویو ارقامو مطابق پاتې شي.

ځرنګه چې دویم مهم خطر د 2019 کال ټاکنې دي، د امنیتي ډاډ نشتون او د نوي دولت سیاسي ستراتیژي هم ښایي د اجناسو او خدمتونو لپاره پر داخلي تقاضا باندې منفي اغیزه ولري. په دې توګه، په منځمهاله کې به د انفلاسیون میزان نسبت پیشبیني شویو ارقامو ته کم وي.

## د تبادلې بیه (افغانی د امریکایي ډالرو پر وړاندې)

تمه کیږي چې په 1398 کال کې د امریکایي ډالرو پر وړاندې د افغانیو ارزښت له 68.9 افغانی (یو ډالر) څخه تر 75.9 (یوډالر) افغانی پورې ټیټوالي ومومي. د دې عمده لامل د خصوصي بانکونو د قرضې په اوراقو باندې د ټکټانې د میزان کموالی دی چې د مرکزي بانک د سیالیت مدیریت د پولي پالیسی د کموالي سبب شوی دی. همدا راز د افغانستان بانک د ادعا پر بنسټ د ایران بازار ته د ډالرو قاچاق د افغانیو د ارزښت د کموالي لامل ګڼل کیږي. د امریکا لخوا پر ایران باندې د نړیوالو سوداګریزو بندیزونو له وضع کولو څخه وروسته، د ایران سوداګرو د افغاني سوداګرو لپاره د ایراني تولیداتو د پیر یا د هغو تولیداتو لپاره د مخکې ورکړې په صورت کې چې په راتلونکې کې یې پیري، د تبادلې مناسبه بیه

**شکل ۲ (د تبادلې بیه)**




وړاندیز کړې ده. په همدې وخت کې د بودجې په اختیاري او غیراختیاري برخو کې د تمویل کوونکو فعالیتونه/ مرستې په عمومي ډول کمې شوې دي چې په بازار کې د امریکایي ډالرو د مقدار د کموالي لامل شوی دی.

***یادداښت:*** *د تبادلې لیکل شوې بیه یواځې په مختلفو کلونو کې په بازار کې د امریکایي ډالرو په مقابل کې د افغانیو په ارزښت کې د تغییرونو پشبیني په ډاګه کوي. د 1398 مالي کال لپاره د افغانی/ډالرو د تبادلې بیه في ډالر په 74.4 افغانیو باندې په پام کې نیول شوې ده.*

په بلاعوضه مرستو کې په بودجه باندې د تبادلې د بیې د یوه متفاوت میزان اغیزه به په کافي ډول احساس شي؛ اوسمهال د دولت د بودجې د مجموع شاوخوا 60 سلنه د مرسته کوونکو لخوا تمویل کیږي او د دغو مرستو ډیره برخه په امریکایي ډالرو باندې ژمنه شوې ده. د بودجې د جوړونې پرمهال، دغه ډول ارقام د هغو د افغانیو په معادل په بودجه کې وړاندې شوي دي. مګر د مالي کال له پیل څخه وروسته، د ډالرو په بیه کې د کال په بهیر کې نوسانات، د صعودي او نزولي فشار په اساس په افغانیو باندې د متفاوتو اغیزو لامل کیږي.

لاندې موارد کیدای شي چې د تبادلې د بیې د کموالي په اړه درې عمده منځمهاله اندیښنې اوسي:

- د دولت د قرضونو بیرته وکړه چې په بهرنیو اسعارو باندې وي ښايي زیاته شي؛ ځکه مونږ اړتیا لرو چې د قرضو د ورکړې لپاره زیاتې افغانی تبادله کړو؛
- له وارداتو څخه په افغانیو باندې ترلاسه شوي عواید ښايي ډیر وي؛ ځکه هغه اجناس چې ارزښت یې په بهرنیو پیسو وي په افغانیو باندې به د ډیرو مالیاتو د ورکړې اړتیا ولري؛
- په امریکايي ډالرو یا نورو بهرنیو اسعارو باندې د هر ډول بهرنیو مرستو یا قراردادونو ورکړه کولای شي چې پر دولت باندې منفي مصرفي فشار ولري چې د اسعارو کموالی به هم له ځانه سره ولري.

د اسعارو د تبادلې د بیې ټیټوالی په منځمهاله کې کیدای شي لاندې اغیزې ولري:

- دا چاره کیدای شي چې د تورم د فشار سبب شي او ښايي دولت مجبور کړي چې د پروژو د بودجې بیا ارزونه وکړي؛
- په همدې ترتیب، شاید د دولت ټول لګښتونه د تورم له امله زیاتوالی ومومي. د افغانیو د ارزښت ټیټوالی د وارداتو په بیو باندې د صعودي فشار لامل کیږي چې په منځمهاله کې به د تورم نرخ زیات کړي. دا پدې معنا ده چې د راتلونکي کال بودجه به له لوړو بیو سره مخ وي. په دې توګه، د منځمهاله لګښتونو پلان باید په صعودي ډول نوی او بیا وکتل شي. دې ته په پام سره چې پر معاشونو او نورو مواردو باندې ډیر مالیات وضع کیږي، دغه تورمي اغیزې کیدای شي په عوایدو باندې اغیزه ولري یا یې ونلري. په منځمهال کې له وارداتو څخه ترلاسه شوي عواید ښايي یو وار بیا نزول وکړي، ځکه د اسعاري ارزښتونو ټیټوالی په پایله کې د وارداتو بیه لوړیږي او په نتیجه کې د وارداتي اجناسو د کمې استفادې لامل کیږي.
- د لتفا (LOTFA) او سیستیکا (CSTC-A) پروګرامونه امکان لري چې په منځمهاله کې پر خپل ځای پاتې شي؛ ځکه چې د بهرنیو مرستو د بودجې تخصیص په بهرنیو اسعارو باندې دی.

## د کورني اقتصاد لرلید

د افغانستان اقتصادي وده په بنسټیز ډول پر بهرنیو مرستو باندې تکیه کوي. د 1382 او 1393 کلونو تر منځ افغانستان د بهرنیو مرستو ترټولو لوی ترلاسه کوونکی وو چې پدې اساس د کلني اقتصادي ودې متوسط میزان یې د بهرنیو مرستو د جریان له امله 9.4 سلنې ته رسیده. وروسته بیا د 1393 او 1397 کلونو په منځ کې اقتصادي ودې له یوه متوسط حد یعنی 9.5 سلنې څخه 2.1 سلنې ته د پام وړ کموالي وموند. په وده کې کموالی تر ډیره حده په بهرنیو مرستو کې د کموالي (په اساسي ډول د بهرنۍ بودجې په برخه کې) او قسماً د سیاسي کډوډیو له امله ده.

تمه کیږي چې بهرنۍ مرستې په منځمهاله کې ډیرې کمې شي او ملي بودجه لازیاته محدوده او مقیده شي. په پایله کې په بهرنیو مرستو باندې اتکاء کول به یو ښه انتخاب نه وي او دولت باید هڅه وکړي چې د ودې د یقیني کولو لپاره په نورو انتخابونو باندې تمرکز وکړي. په منځمهاله کې، انتخاب به دا وي چې پر هغه پروژو / پروګرامونو باندې د وجوه پر درولو تمرکز وشي چې اجراآت یې کمزوري وي او دا وجوه هغه پروژو / پروګرامونو ته تخصیص شي چې ښه اجراآت ولري او په مستقیم ډول د ټولنې اړتیاوو ته ځواب ویونکی وي.

د ودې سناریو په منځمهاله کې خوشبینه معلومیږي، ځکه چې په 1398 کال کې یې 3 سلنه او په 1401 کال کې یې د 4.5 سلنې حقیقي ودې وړاندوینه کړې مګر د ښه اجراآت لرونکو پروګرامونو ته د سرچینو په بیا تخصیصولو سره کیدای شي چې د ودې سناریو تردې هم زیات لوړوالی ومومي. یو مالي تحلیل ته په کتو سره چې د نړیوال بانک لخوا ترسره شوی

ده، د کرهنې په سکتور، بشري څواکونو، د کانونو استخراج او تولنیز مصؤنیت باندې پانګونه د نورو سکتورونو پر نسبت په ودې باندې ښه اغیزه لري. دغه ټول موارد د ښه امنیت پورې مشروط دي. په دې توګه، د لوړ ضریب لرونکو سکتورونو ته د پرمختیایي وجوه بیا اختصاصول کولای شي د لازیاتې اقتصادي ودې ضامن اوسي.

د افغانستان دولت هیله لري چې اقتصادي وده به د څو کلونو د وړاندوینې په موده کې تر 1401 کال پورې ښه والی ومومي. د کرهنې سکتور د فعالیتونو په ښوالي سره، دولت په زیربنایي پروژو لکه انرژی او سیمه ایز پیوستون باندې پانګونې ته ژمن دی چې د بشپړیدو سره سم به اقتصادي خوځښت رامنځته کړي. مګر دغه چاره ځینو عواملو یا کورنیو زیانونو پورې مشروطه ده چې کیدای شي د ودې د لرلید د بدلون لامل شی. راتلونکې ټاکنې کیدای شي چې د سوداګریز چاپیریال او د دولت مصرفي پالیسی لپاره د ابهامونو سبب شي. د تیرو ټاکنو تجربو څرګنده کړه چې په عمومي اقتصادي فعالیتونو کې کمې رامنځته شو او په 1394 کال کې یې اقتصادي وده یوه ټیټ حد یعنی 1.1% ته راښکته کړه. د دې سربیره، اقتصادي وده د هیواد امنیتي شرایطو پورې هم تړاو لري، او ډیره ناامني د ټیټې اقتصادي ودې سره تړلې ده.

## د نړیوال اقتصاد لرلید

په ۱۳۹۷ کال کې د افغانستان سترو سوداګریزو شریکانو لپاره اوسطه اقتصادي وده 4 سلنه وه او د 1396 او 1397 کلونو لپاره په ترتیب سره 4.1 او 4.2 سلنه پیشبیني شوې وه. په 1397 کال کې د افغانستان د سوداګریزو شریکانو په منځ کې چین او هندوستان د ودې ترټولو لوړو کچه درلوده چې د دغه هیوادونو د ودې سلنه په ترتیب سره 6.6 او 7.4 ته رسیده. په داسې حال کې چې په 1397 کال کې د انګلستان او سعودي عربستان اقتصادي ودې تر ټولو ټیټه کچه یعنی په ترتیب سره په 1.6 او 1.7 سلنه کې قرار درلود. وړاندوینه کیږي چې په 1397 کال کې د چین اقتصادي وده 6.1% ته نزول وکړي پداسې حال کې چې د هندوستان به په همدې وخت کې وده وکړي.

## د سیمې اقتصادي لرلید

**هندوستان:** هندوستان د افغانستان یو مهم سوداګریز شریک بلل کیږي. د افغانستان او هندوستان ترمنځ د ورو ستي هوایي دهلیز په جوړیدو سره له افغانستان څخه هندوستان ته د صادراتو فرصت رامنځته شوی دی. د کارګو خدمتونو موخه د نړیوال بازارونو سره د افغانستان د اړیکو ښه کول او د دې هیواد د کرهنې او د غالیو د صنعت د ليدلوری پیاوړي کول دي. د افغانستان د سوداګری په توازن کې د وروستي زیاتوالی تر ډیره بریده د همدې هوایي دهلیز پرانیستلو له امله ده .

**چین:** د چین اقتصاد د یو ستر جوړښتي بدلون لاندې قرار لري. پداسې حال کې چې د پانګونې وده وروستیو کلونو ته په کتو سره ټیټه ده، چین پدې لټه کې دی چې ډیری فعالیتونه یې مصرفي وي. د چین اقتصاد د لوړو ظرفیت لرونکو سکتورونو د تعداد د کموالي لامل شوی دی. د 2018 کال په لومړی ربع کې، چین د 2001 کال راهیسې د لومړي ځل لپاره د خپل جاري حساب کسر ثبت کړ. تمه کیږي چې په راتلونکو کلونو کې د چین وده د اجناسو پر نړیوالو غوښتنو باندې د وروستیو اغیزو له امله ورو شي. البته د مالي برخو د زیانمنتوب لیدلوری او د سوداګریزو شرکانو ترمنځ د سوداګریزو جنجالونو شدت، د ملاتړ کوونکي سیاست د زیاتوالي لامل کیږي. افغانستان د خپلو صادراتو لپاره پر چین

باندې ډېر متکي نه دی؛ مګر په سوداګریزو او اقتصادي فعالیتونو کې دوامداره ټیټوالی کولای شي د افغانستان په استخراجي صنعت کې د چین د راتلونکې پانګې اچونې احتمالات کم کړي.

**ایران**: ایران په دې وروستیو کې د خپلو ځینو سکتورونو (د ساختماني او تولیدي سکتورونو په ګډون) په اقتصادي فعالیت کې د پام وړ کموالي سره مخ دی. په داسې حال کې چې له دې هیواد څخه بندویزونه لرې شوي دي، د پانګونې په پریکړو کې ځنډ، او په نړیواله کچه د اجناسو په بیه کې کموالي د ایران اقتصاد کمزوری کړی دی. مګر تمویلي انتخابونو، مالي خدمتونو، نړیوالې سوداګرۍ او پانګونې ته محدوده لاسرسي سره یوځای که چیرې بندیزونه پرځای پاتې شي، ښایي د دې هیواد وده کې د پام وړ کموالی راشي. پر ایران باندې د امریکا متحده ایالتونو لخوا د بندیزونو بیا نوي کیدل به په افغانستان باندې غیرمستقیمه اغیزه ولري. ترهغه ځایه چې قاچاقبران د امریکا متحده ایالتونو د بندیزونو له امله امریکایي ډالر ایران ته لیږدوي، افغانۍ د غیرمتوقعه ضربې قرباني شوې ده. د امریکا متحده ایالتونو لخوا په ایران باندې بندیزونه د نورو اسعارو پر وړاندې د تومانو د ټیټوالي لامل شوی دی. پدې توګه، د دې لپاره چې د اړتیا وړ امریکایي ډالر د قاچاقبرانو لخوا په چټک ډول ایران ته لیږدول کیږي، د افغانیو ارزښت به ډېر زیات ضرر سره مخ شي.

**پاکستان**: د پاکستان اقتصادي فعالیت په صادراتو او ځینې نورو سکتورونو کې متضرر شوی دی. په ټولیز ډول د انرژۍ د پراختیا په برخه کې پلان شوې پانګونې او نړیوالې سوداګرۍ ته په کتو سره، ښایي وړاندوینې مثبتې وي. د پاکستانۍ کلدارو په ارزښت کې هم د افغانۍ په څیر د پام وړ کموالی راغلی؛ پدې معنا چې افغانستان د نورو اسعارو پّ پرتله د کلدارو پر وړاندې کوچني ثاثیرات لري. افغانستان له پخوا څخه د وارداتو په برخه کې پر پاکستان تکیه کوله؛ مګر د ګاونډیو هیوادونو لکه ترکمنستان، قزاقستان، ازبکستان او ایران (چابهار) سره د وروستیو سوداګریزو لارو په پرانیستلو سره پر پاکستان باندې سوداګریزه تکیه را کمه شوې ده. د لومړنیو پروژو پر وړاندې، په راتلونکو دوه کلونو کې د کورنیو ناخالصه تولیداتو د ودې وړاندوینه به 3 سلنه وي چې په 2018 کال کې 5.7 سلنه کمه ده. د 2016 کال له پیل څخه، د چین د زیربنایي شرکتونو اړوند د ودانیزو توکو واردات د دې لامل شو چې د دې هیواد د جاري حساب کسر صعود وکړي؛ په داسې حال کې چې د دې هیواد د پیسو د ارزښت کموالي سره یوځای د دې هیواد اقتصادي وده د تورم د زیاتوالي لامل شوی دی.

**د آسیا د شمال ختیځ هیوادونو اقتصاد**: د وړاندوینو له مخې، د سیمه ایزې ودې اوسط د 2018 کال پورې 6.3 سلنه او تر 2019 کال پورې 6.1 سلنې ته رسیږي. په چین کې ساختاري کندي به د آسیا په نورو سیمو کې د لازیات توازن سبب شي. د نړیوال فعالیتونو خوځښت کیدای شي د جامدو صادراتو او شدیدې داخلي تقاضا سره یوځای سیمې ته له تمې څخه زیاته وده ورکړي. په ټولیز ډول، د نړیوالې پیاوړې سوداګرۍ، د قرضونو کم لګښتونه او د پانګې د ثابت جریان په ګډون په 2018 کال کې به شرطونه د سیمې لپاره لا زیات مطلوب وي. مګر د نړیوال مالي تامیناتو د شرطونو د چټک محدودیتونو احتمال او د دوه نړیوال اقتصادونو ترمنځ جدي سوداګریز جنجالونه ښایي د آسیایي اقتصاد د سلامتې ګټو ته په منفي ډول ضرر ورسوي. هغه هیوادونه چې مالي کسرات یې د زیاتیدو په حال کې دي د مالي فعالیتونو د اختلالاتو پر وړاندې زیانمنونکي دي. د کوریا په ټاپوزمه کې ژئوپولیتیک خطرونه او جنجالونه په خپل حالت پاتې دي. په داخل کې پولي شرطونه تر یو حده پورې محدود شوي او ډېرې احتیاطي پالیسۍ د دې لامل شوي چې د دې هیوادونو د اعتباراتو وده په چک کې پاتې شي. څو سترو اقتصادونو (لکه: چین، اندونیزیا، مالیزیا او ویتنام) د خپل مالي توحیدونو هڅې په 2018 کال کې نوې کړې دي.

# مالي لر ليد او ستراتيژي

## مالي ستراتيژي

د حکومت د ځان بساينې لپاره د يوې مهمې او هراړخيزه مالي استراتيژي شتون يو له اساسي او لومړنيو شرطونو ګڼل کيږي. حکومت د اقتصادي پرمختيا او ودې لپاره د خپلو مالي پلانونو جوړولو لپاره پر اوږد مهاله موخو ولاړ منظم سيستم څخه کار اخلي. د حکومت مالي ستراتيژي چې د افغانستان د سولې او پراختيا په ملي چوکاټ کې مشخص شوې ده لاندې درې فرضيې لري:

1. حکومت به مالي پاليسي د اقتصادي مديريت لپاره د يو ډيرې مهمې وسيلې په توګه وکاروي؛
2. حکومت به د وخت په تيريدو سره د عادي او پرمختيايي بودجې د تمويل لپاره ډير عوايد راټول کړي او په تدريج سره به په راتلونکو پنځلسو کلونو کې په نړيوالو پرمختيايي مرستو د اتکا کچه راکمه کړي؛
3. حکومت په منځمهال او اوږد مهاله کې پرته له بې ثباته پور اخيستلو څخه به خپله بودجه متوازنه کړي. هر ډول پور اخيستنه به مشروط او د پيسو نړيوال صندوق د هوکړو سره سم وي.

د حکومت د مالي ستراتيژي اساس دا ده چې پر ځان بسيا شي. د مالي پلوه دا د باثباته وسايلو له لارې د اقتصادي او ټولنيزو اهدافو د لاسته راوړلو په مانا ده: يعنې له ډيرو لګښتونو څخه ډډه، ډيرې مرستې نه منل، او له شته سرچينو څخه زياته ګټه پورته کول. د دې دندې د ترسره کولو لپاره به حکومت خپلو مالي اصلاحاتو ته دوام ورکړي ترڅو حکومت وتوانيږي په لاندې پنځو برخو کې د مالي محدودې پر زياتوالي باندې تمرکز ډير کړي:

١. له فساد څخه د مخنيوي، کشف او مبارزې په ګډون د حکومت د چارو په اجراآتو کې مؤثريت؛
٢. د کورنيو عوايدو د کچې لوړول؛
٣. د اغيزمنه او کم خطره پانګونې لپاره د مشروطو پورونو او ابتکاري وجوهو ترلاسه کول؛
۴. له مرستو څخه اغيزمنه او مسؤلانه ګټه اخيستنه؛
۵. او په راتلونکي کې د لومړيتوب پر بنسټ د پاليسيو تنظيم او د مالي اجراآتو لاښه کول.

## مالي او اقتصادي موخې

حکومت لنډمهال او منځمهاله موخې ټاکلي څو د اړينو پانګونو په پيژندنه کې د بودجې جوړونې په بهير کې مرسته وکړي.

درې موخې د بودجې جوړونې لارښوونه کوي په لاندې ډول دي:

1. تر 2020 زيږديز کاله پورې پنځه سلنه کلنې وده؛
2. په منځمهاله کې هر کال د پوهنې او روغتيا د خدمتونو د وړاندې کولو سره د پرمختيايي بودجې په لګښتونو کې له 10 – 15 سلنه زياتوالی؛

3. د کورنیو عوایدو تر 12 سلنه کلني زیاتوالي او تر 2020 کاله پورې د کورنیو عوایدو د ناخالص کورنیو تولیداتو 14 سلنې ته رسول.

## د لګښتونو منځمهاله چوکاټ او له 1398 – 1401 پورې د څو کلونو وړاندوینې

دغه سند، د راتلونکو درېو کلونو لپاره د وړاندوینو سره یوځای د 1398 کال بودجه وړاندې کوي. دغه میتود حکومت ته توان ورکوي ترڅو د عوایدو لرلید ته په باوري سترګه وګوري او د هغو په رڼا کې د حکومت د پالیسیو پریکړې ونیسي. د څو کلونو وړاندوینې چې په دې سند کې منعکس شوي دي د تیرو کلونو د حقیقي اجرااتو پر بنسټ دي او هڅه شوې ترڅو دغه وړاندوینې په رښتیني او محافظه کارانه ډول وړاندې شي. دغه هڅې د ملي بودجې د پلان جوړونې اصلاحاتو ساتنې او د پلان شوې او حقیقي بودجې ترمنځ تشه له منځه وړلو په موخه شوې دي.

څرنګه چې لیدل کیږي په منځ مهاله موده کې کورني عواید ښه شوي مګر په مرستو کې د پام وړ کموالی راځي. د څو کلونو د وړاندوینې په اساس د 1397 کال په پرتله کورني عواید د 1398 کال څخه تر 1401 کال پورې په ترتیب سره 8%، 20%، 35%، او 49% زیاتوالی په ګوته کوي. مګر له بل پلوه په هر کال کې د مرستو د کموالی کچه لوړه شوې او د تناسب په لحاظ هم د عوایدو د زیاتوالي څخه يې نسبت زیات دی 1397 مالي کال ته په کتو سره په 1398، 1399، 1400 او 1401 کلونو کې بهرنی مرستې په ترتیب سره 16%، 23%، 46% او 60% کموالي څرګندوي.

شکل ۳ (کورنی عواید او بهرنی مرستې)




د 1397 مالي کال د بودجې په پرتله په 1398 کال کې لګښتونه 3 سلنه کمښت څرګندوي مګر په 1399، 1400 او 1401 کلونو کې د لګښتونو کچه په ترتیب سره 1%، 3%، او 4% زیاتوالی په ګوته کوي. څرنګه چې لیدل کیږي حکومت په 1398 کال کې هڅه کوې ترڅو د لګښتونو کچه په خاص ډول په عادي بودجه کې ټیټه کړي. دغه هڅې به په راتلونکو کلونو کې هم دوام ولري.

شکل ۴ (د عوایدو او لګښتونو سیر)




وړاندوینې څرګندوي چې مالي تشه مخ پر زیاتوالي ده او نسبت تیر کال ته په هر کال کې مالي فشار زیاتیږي. اصلي لامل یې د مرسته کوونکو د ژمنو په کچه کې ټیټوالی او په لګښتونو کې زیاتوالی دی. که چیرې وضعیت په همدې ډول ادامه وکړي په 1398 مالي کال کې د بودجې کسر به له 12.2 میلیارد افغانیو څخه په 1401 کال کې 76 میلیاردو ته ورسیږي. د دې کسر جبران حکومت په ستونزمنو حالتونو کې اچوي تر دې چې په پای کې به د یو لړ اقداماتو په نیولو باندې مجبوره شي. دغه اقدامات شایي د صرفه جویي یا د عوایدو د زیاتوالي د طرحو په څیر او یا د دې دواړو طرحو د ترکیب په توګه وړاندې شي.

په لګښتونو کې صرفه جویي یوه ډیره حساسه ستونزه ده او هر ډول پریکړه شایي اړونده پایلې له ځانه سره ولري. د بیلګې په ډول که چیرې حکومت په پرمختیایي برخه کې صرفه جویي وکړي کیدای شي چې په پرمختیایي پروګرامونو باندې اغیزه ولري او د پرمختګ بهیر له ستونزو سره مخ کړي مګر د عامه او خصوصي مشارکت له لارې د ځینو پروژو تطبیق کولای شي د مالي فشار په کموالي کې ګټور ثابت شي. په عملیاتي برخه کې په داسې حالت کې صرفه جویي کول چې د عملیاتي چارو د اغیزمنتیا لوړوالي ته پکې ډیره پاملرنه وشي کیدای شي چې یو ښه انتخاب اوسي مګر دغه انتخاب هم تر یو حده پورې ګټور ثابت کیدای شي خو په منځمهاله کې نشي کولای پیش بیني شوی کسر په بشپړ ډول جبران کړي، په دې توګه حکومت اړ دی چې د عوایدو د زیاتوالي لپاره هم طرحې وړاندې کړي.

عواید کیدای شي چې له مختلفو لارو څخه زیات شي. لومړی هغه هڅو ته باید زیاته پاملرنه وشي چې د عوایدو اغیزمني راټولونې په برخه کې له پخوا څخه پیل شوي دي ترڅو دغه بهیر لاهم پیاوړی شي او له مالیاتو څخه د تیښتې کچه ټیټ حد ته ورسیږي. له دې سره سره، حکومت کولای شي چې پر ځینو وارداتي اقلامو باندې د ګمرکي تعرفو د زیاتوالو له لارې او یا هم په ځینو برخو کې د مالیاتو لوړولو له لارې چې د هیواد پرمليي اقتصاد باندې ناوړه اغیزه ونلري د یوې وسیلې په توګه کار واخلي. له دې سربیره، د کانونو په برخه کې د پانګونې جلب هم کیدای شي چې د حکومت د عوایدو د زیاتولو لپاره یو مهم انتخاب وي. په دې برخه کې حکومت ډیرې هڅې کړي دي چې د کانونو په برخه کې

عواید د مالیاتي او غیرمالیاتي عوایدو په ګډون امکان لري چې تر ۱۴۰۱ کاله پورې لوړ شي چې له دې سره د کانونو د عوایدو او پر زیات شوي ارزښت مالیاتو د تحقق سره به یوه ښه مالي وضعیت ولرو.

**مالي چارچوب او د بودجې ریفورم**

د تېرو کلونو د اصلاحي اقداماتو او د یو لړ ریفورمونو د تطبیق په دوام، د ۱۳۹۸ مالي کال بودیجه هم د تېرو کلونو د ریفورمونو د کچې ساتلو او تداوم په پار او د عامه لګښتونو او مالي چارو د بهبود لپاره ترتیب شوې ده. دا اصلاحات د نړیوالو منل شویو معیارونو د رعایتولو له لارې د دې لامل شوي دي چې روڼتیا او حساب ورکوونه رامنځته او د ملي بودیجې اعتبار لوړ کړي. د دې ترڅنګ، دا زمونږ د کار پای نه دی بلکې اصلاحات او بهبود یوه دوامداره چاره ده او دا ایجابوي چې هر کال د اصلاحاتو لپاره هڅې وشي.

پورته څرګندونو ته په کتو سره د ۱۳۹۸ کال د ملي بودیجې په سند کې په جلا جلا ډول د عادي او پراختیایي بودجې د ارایه کولو تر څنګ، ملي بودیجه په توحیدي بڼه هم ذکر شوې ده. سربېره پر دې د نوموړې بودیجې په برابرولو کې اقتصادي ډلبندی، حکومتي دندې، برنامې، جغرافیوي موقعیتونه او نړیوال معیارونه په پام کې نیول شوي دي. همدارنګه د ۱۳۹۸ کال په ملي بودجه کې یو مهم ټکی په اغېزمنه توګه د استماعیه غونډو دایرول وو، چې د دغه واقعبینانه سند په ترتیب کې مرستندویه ثابت شوې ده.

**د منځ‌مهاله لګښتونو د چارچوب واقعبینانه اټکلونه ۱۳۹۸ - ۱۴۰۱**

د ۱۳۹۸ او د درې وروستي کلونو د منځ‌مهالي لګښتونو چارچوب په رښتیني او واقعبینانه توګه ترتیب او چمتو شوی دی. د بهرنیو مرستو کموالی او دې ورته نور اغیزمن اټکل شوي لاملونه د منځ‌مهالي لګښتونو د چارچوب د ترتیب په وخت کې په پام کې نېول شوي. نهایي هڅه شوې چې د راتلونکو کلونو لپاره ارایه شوی مالي تصویر د حقایقو پر بنسټ وړاندې شي او همدارنګه نور اغیزمن څوکلن اټکل شوي لاملونه د مالي خطرونو په برخه کې ارایه شوي. د یادونې وړ ده ، چې د منځ‌مهالي لګښتونو د چارچوب او د څو کلونو وړاند وینه یا اټکل د ترتیبولو بهیر به په راتلونکو کلونو کې نور هم اصلاح او بهبود مومي. د مالیې وزارت په پام کې لري چې د دغو وړاند وینو یا اټکلونو د کیفیت د بهبود لپاره له ټولو اداراتو څخه بودیجوي ارقام راټول کړي او د شاخصونو تطبیق په ټیټه سطحه ترسره کړي. په منځ مهال کې دا روش کولای شي چې د مالي وضعیت یو څرګند انځور وړاندې کړي.

**اړوندو ادارو ته د احتیاط له کوډ څخه د پیسو لېږد**

د اړینو اصلاحاتو له ډلې څخه یو هم د احتیاط له کوډ څخه اړوندو ادارو ته د پیسو لېږد دی چې دا کار په لومړي ځل په دې کچه ترسره کیږي. د ۱۳۹۸ مالي کال کې هڅه شوې چې د امکان تر حده هغه احتیاطي کوډونه چې د تثبیت او لېږد وړتیا ولري، اداراتو ته ولېږدول شي. په تېرو کلونو کې د احتیاطي کوډونو تر نامه لاندې د دې پیسو انتقال په مختلفو دلایلو لکه د ځینو ریفورمونو تطبیق، د ټاکل شویو موخو لپاره د لګښت څخه د ډاډ نه شتون او همداراز په اړوندې ادارې یا برخې کې د لګښت د حجم نامشخص والی، ترسره کېده. اوس دا مسایل د هغه احتیاط کوډ څخه چې ادارو ته لېږل شوي، حل شوي دي.

**د سکتورنو د جوړښت بدلون**

د اصلاحاتو په لړ کې یوه بله ریفورم  د عمومي بودجې د ریاست په چوکاټ کې د سکتورونو د ساختار بدلون دی. دغه ساختارونه چې مخکې د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژي پر بنسټ ترتیب شوي ول، اوس د یو نوي ساختار چې د حکومت د دندو پر اساس ده، تنظیم شوي دي. د حکومت د دندو ساختار د حکومت د مالي احصایې د لارښود (GFS) څخه په الهام اخیستنې چمتو شوی دی، خو په هېڅ وجه پدې مانا نده چې د حکومت دندې وټاکي، څکه چې د حکومت د دندو پر بنسټ د مالي معلوماتو ترتیبول تر اوسه هم د حکومت د مالي احصایې د لارښود د معیاراتو تابع دي او په یاد شوي ساختار کې یوازې د ندو نوم په عاریت اخستل شوی دی. د دې تغیر موخه د اداراتو بودیجوې امورو ته بهتره رسیدګي په ګوتو شوې ده او له بلې خوا د حکومت دندې د حکومت له ساختار سره اړیکې لري چې په اوږد مهال کې بدلونونه پکې راتلای شي چې دا به د مالي سیستم د ثبات او پایداری لامل شي.

جدول ۳ (د سکتورونو جوړښت د حکومت د دندو پر بنسټ)

| سکتور | بودیجوی واحدونه |
| --- | --- |
| عامه خدمات | |
| | **د جمهوری ریاست عالي مقام د دفتر لوی ریاست** |
| | **د افغانستان اسلامی جمهوری ریاست د چارو د اداری لوی ریاست** |
| | **د مالیې وزارت** |
| | **په پارلمانی چارو کی د دولت وزارت** |
| | **د بهرنیو چارو وزارت** |
| | **ستره محکمه** |
| | **د ټولګټو وزارت** |
| | **د اداری اصلاحات او ملکی خدمتونو خپلواکه کمیسیون** |
| | **د پلټنې عالی اداره** |
| | دترانسپورت وزارت |
| | د احصایې او معلوماتو اداره |
| | **په افغانستان کی د کوچنیو مالی سرچینو د ملاتړ لپاره آسانتیاوی برابرول** |
| | **د اجراییوی دفتر ریاست او د وزیرانو د شورا دارالانشا** |
| | **مشرانو جرګه – ملی شورا** |
| | **ولسی جرګه – ملی شورا** |
| | دنفوسو دثبتولو مرکزی اداره |
| دفاع | |
| | درئیس جمهور دساتنی دفتر |
| | دملی امنیت لوی ریاست |
| | **د ملی دفاع وزارت** |

| سکتور | بودیجوی واحدونه |
|---|---|
| | د ملی امنیت شورا |
| ټولنیز خوندیتوب | |
| | د کورنیو چارو وزارت |
| | دعدلی وزارت |
| | لوی څارنوالی |
| | د اداری فساد پر وړاندی د مبارزی عالی اداره |
| | داصلاحی اوملکی خدماتو کمیسیون |
| اقتصادی چاری | |
| | دسوداگری او صنعت وزارت |
| | د کانونو او پطرولیم وزارت |
| | د مخابراتو او معلوماتی تکنالوژئ وزارت |
| | داقتصاد وزارت |
| | دکرهڼی او اوبو لگولو وزارت |
| | د اوبو او انرژی وزارت |
| | د افغانستان د ریلو پټلی اداره |
| | د ملکي هوايي چلند خپلواکه اداره |
| حکومتداری | |
| | د سیمه ایزو ارگانونو مستقله اداره |
| | د ټولټاکنو خپلواک کمیسیون |
| | د ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمیسیون |
| | د اساسی قانون د پلی کولو د څار خپلواک کمیسیون |
| | د افغانستان د استندرد ملی خپلواکه اداره |
| دکورجوړول او اجتماعی سازگاری | |
| | دکابل ښاروالی |
| | د پلازمینی د زون د پراختیا خپلواکه اداره |
| | د ښار جوړونی او مسکن وزارت |
| | د افغانستان د اراضي خپلواک کمیسیون |
| | د افغانستان برشنا شرکت |
| | د اوبو لگونې او کانالیزاسیون شرکت |
| روغتیا | |
| | د عامې روغتیا وزارت |
| | د نشه یی توکو پر وړاندی د مبارزی وزارت |

اړوندې ټولې چارې په ښه توګه منسجم او ريښتينې پايلې ولري. اوسمهال لس وزارتونه جنډر ته د ځواب ويوونکې بودجې په امتحاني دوره کې قرار لري او جنډر ته ځواب ويوونکې بودجې پاليسی په تصويب سره، دغه پاليسي-په تدريجي توګه به پر ټولو ادارو تطبيق شي.

جنډر ته ځواب ويوونکې پاليسی عمده موخې په لاندې ډول دي:

- د جنډر پر انډول او د ښځو پر ځواکمنه کولو د پانګونې د زياتولو له لارې د جنډر اړوند ستراتيژۍ او پلانونو د تطبيق ښه کول؛
- په مختلفو سکتورنو کې د جنډر ځواب ويوونکو پروګرامونو او پاليسي ګانو تطبيق چې خدمتونو ته د لاسرسی د ښه والي لامل وګرځي؛
- پر ښځو او انجونو د هرډول منفي اغيزو مخنيوی کول (په ځانګړي ډول کله چې حکومت د لګښتونو د کمولو او د سپما په اړه پرېکړه کوي)؛
- د ښځو او نارينو په ټولو برخو کې مساوي ګډون.

**د ۱۳۹۸ کال په بودجه کې جنډر ته رسېدنه**

پدې وروستيو کې د جنډر په برخه کې، په ځانګړي توګه جنډر ته ځواب ويوونکې بودجې په اړه پاملرنه زياته شوی ده. د ۱۳۹۸ کال د بودجې په استماعيه غونډو کې جنډر د بحثونو يو اساسي برخه وو. جنډر ته د ځواب ويوونکې پاليسي نشتون ته په پام سره، دمګړی پر ځينو لاندې اساسي بحثونو اکتفا کوو:

- په اداراتو کې د ښځو د شتون د زياتوالي په برخه کې پروګرام؛
- د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي څخه د مخنيوی قانون او د ښځو او ماشومانو د ځورونې څخه د مخنيوی قانون د تطبيق په اړه پروګرامونه؛
- د ښځو د اقتصادي پياوړتيا ملي لومړيتوب لروونکی پروګرام؛
- د افغانستان د ۱۳۲۵ قطعنامه؛
- ملکي خدمتونو کې د ښځو د ګډون زياتوالی پاليسي؛
- د ښځو د ظرفيتونو لوړولو په موخه پروګرامونه.

دغه اساسي مسايل به په دوامداره توګه تعقيب او پيګيري شي او په اوږدمهاله کې به جنډر ته ځواب ويوونکې پاليسي په ټولو ادارو کې تطبيق شي او د ښځو او انجونو ستونزو ته د رسېدنې په موخه به د اقدماتو د اغيزمنتيا د زياتولو په برخه کې هم پاملرنه وشي. بايد وويل شي چې حکومت د افغانستان د سولې او پراختيا په ملي چوکاټ (۲۰۱۷-۲۰۲۱) کې د ښځو پر پياوړتيا ټينګار کړی دی او د بشري حقونو، د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د مخنيوی، امنيت، پوهنې او روزنې ته لاسرسی، لوړو زده کړو، روغتيايي خدمتونو، د ښځو اقتصادي پياوړتيا او د قوانينو د تعديل په برخه کې په حکومت کې د ښځو د حضور څخه د ملاتړ په موخه د نړيوالو ژمنو تطبيق ته پخپل لومړيتوبونو کې ځای ورکړی دی.

راتلونکي پلانونه:

- د افغانستان اسلامي جموري دولت له لوری جنډر ته ځواب ويوونکې بودجه جوړونې پاليسي تصويب؛

- د کاري پلان ترتیب ترڅو جنډر ته ځواب ویوونکې بودجې پالیسي په تدریجي ډول ټولو اداراتو باندې تطبیق او تکثیر شي؛
- د مالیې وزارت د بودجې په لوی ریاست کې جنډر ته ځواب ویوونکې بودجه جوړونې څانګې جوړول ترڅو د دغه ریفورم رهبري او تنظیم په اړوندو اداراتو کې ترسره شي؛
- جنډر ته ځواب ویوونکې بودجه جوړونې اغیزمنه تطبیق په موخه په اداراتو کې د ظرفیت جوړونې پروګرامونو جوړول؛
- د جنډر بودجې د شرحې چمتو کول؛
- جنډر ته ځواب ویوونکې بودجه جوړونې اغیزمنه تطبیق په موخه د همغږۍ میکانیزمونو ایجاد او د رهبرۍ کمېټې او تخنیکي کاري ګروپونو د غونډو دایرول.

پدې منځ کې د جنډر بودجې د شرحې چمتو کول جنډر ته ځواب ویوونکې بودجې د پالیسۍ د تطبیق لپاره به یوه مهمه پایله وي چې مالیې وزارت ته دا فرصت ورکوي ترڅو د جنډر له لید څخه د ملي بودجې تحلیل وړاندې کړي او د هغې پربنسټ د جنډر مسایلو ته د رسېدنې په هکله پوهاوي رامنځ ته شي. د یادونې ده چې دغه سند به ټولو ښکېلو غاړو سره شریکه او د روڼتیا د زیاتولو لپاره مدني ټولنې او خلکو ته په لاسرسۍ کې ورکړل شي.

همداراز جنډر ته د ځواب ویوونکې بودجې په پالیسۍ کې د رهبرۍ یوه کمېټه په پام کې نیول شوې چې جنډر ته ځواب ویوونکې بودجې اړوند مسایل له دې لارې همغږي او رهبري کېږي. برسېره پر دې، پدې پالیسۍ کې د تخنیکي کاري ګروپونو په اړه هم یادونه شوې چې د دغه پالیسۍ د غوره تطبیق په موخه به اړین کارونه تعقیب او د رهبرۍ کمېټې ټولې پرېکړې سنبال کړي. باید وویل شي چې د رهبرۍ کمېټې او تخنیکي کاري ګروپونو لپاره د چارو د ښه ترسره کولو په موخه د دندو لایحه جوړه شوې ده.

### د مرکزي بانک د پانګې د کموالي جبران

د کابل بانک له بحران څخه وروسته د افغانستان حکومت د بانکدارۍ سیستم د اعتبار ساتنې لپاره یو لړ اقدامات ترسره کړل. له ورشکستګۍ څخه د نوموړي بانک خلاصول او خلکو ته د هغوی د امانتونو ورکول هغه لومړیتوبونه ول چې په هغه وخت کې باید رسیدګي ورته شوې وای چې همدې موخې ته د رسېدو لپاره مالیې وزارت له مرکزي بانک سره یو هوکړه لیک لاسلیک کړ. د دې هوکړه لیک له مخې مالیې وزارت ژمنه وکړه چې د مرکزي بانک د پانګې کموالي به، چې د کابل بانک ستونزې د هواري لپاره په مصرف رسېدلې وې، په څو کلونو کې جبران کړي. دا موضوع د ۱۳۹۱ کال څخه را پدېخوا په ملي بودیجه کې شامله او اجرا شوې ده. د ۱۳۹۸ مالي کال کې هم د مرکزي بانک د پانګې د کموالي د جبرانولو لپاره ۷.۱ ملیارده افغانۍ په پام کې نیول شوې دي چې د خزاینو له نقدي ذخیرې څخه به تمویلیږي.

د نړیوالې منل شوې حسابي اصول ایجابوي چې د هرې دورې لګښت د هماغې دورې له عوایدو تمویل شي. پرهمدې بنسټ؛ د مالیې وزارت په پام کې لري چې یادې پیسې چې مصرفي ماهیت نه لري، د خزاینو د نقدي ذخایرو څخه تمویل شي. د خزاینو نقدي ذخیرې د مخکینیو دورو د عوایدو څخه ترلاسه شوي دي او د حسابي له لحاظه د دولت دارایي ګڼل کیږي. د دې پیسو ورکړه دا مانا لري چې د حکومت په دارایي کې ۷.۱ ملیارده افغانۍ کموالی راځي او په عین وقت کې حکومت په همدې اندازه خپل پورونه ورکوي چې په هېڅ وجه په ۱۳۹۸ مالي کال کې د حکومت

لګښت او د حکومت اټکل شوي عواید نه اغېزمنوي. نو په دې توګه ويلای شو چې دا کار د نړيوالې محاسبې د منل شويو معيارونو په رڼا کې ترسره کيږي او د دې په اړه خلکو ته توضيحات ورکول د حکومت د ژمنتيا ، تعهد د جواب ورکونکې په معنا دي.

**راتلونکې ګامونه**

په تېرو کلونو کې د پروژو ترتيبول د بوديجې جوړونې د بهير له مهمې برخې څخه ګڼل کېده، خو د معياري کانسېپټ نوټونو د برابرولو په برخه کې ستونزې موجودې وې. د دې ستونزو د رفع کولو لپاره د ماليې وزارت د اقتصاد وزارت سره په همغږۍ هوډ لري چې د پروژو د دوران (سايکل) په راتلونکو کلونو کې د بوديجې له سايکل نه جلا کړي. دا کار د پلان جوړونې د کيفيت د لوړاوي او همداراز د پروژو د اغېزمنې ارزونې په موخه ترسره کيږي چې له مخې به يې اداري د پروژو د ترتيب لپاره کافي اندازه وخت ولري. په دې اساس اداري کولای شي چې د پروژو د مطالعې، طرحې، ترتيب او ډيزاين لپاره لا زيات وخت ولري او له بلې خوا به د ماليې او اقتصاد وزارتونه وکړای شي چې په تخنيکي لحاظ د موثريت د ډاډمنولو په پار د انکشافي پروژو د ارزيابۍ لپاره کافي وخت په خپل اختيار کې ولري. اداري کولای شي چې پرته د زماني محدوديت څخه د ټول کال په جريان کې د نويو انکشافي پروژو په طرحې او ترتيبولو باندې کار وکړي. دا پروژې به وروسته د اقتصاد او ماليې وزارت لخوا ارزيابي شي او بيا د بوديجوي امکاناتو او د لومړيتوب د ساحې په پام کې نيولو سره د اقتصاد/ماليې وزارت له منظورۍ څخه وروسته به د ملي بوديجې په سند کې شاملې شي.

## د 1398 مالي کال توحید شوې بودجه

د 1398 مالي کال بودجه د حقیقي پیښو او د 1397 کال تر پای پورې د اټکل شـویو لګښـتونو د کچـې پـر بنسـټ جـوړه شوې ده چې پکې د لګښتونو کچه تر یو معقول حد پورې حفظ شوې او له بل پلوه د حکومت لومړیتوبونه هم پکې تـر یو ممکن حده منعکس شوي دي. په 1398 مالي کال کې د بودجې کسر شاوخوا 12.3 میلیارد افغانیو پـورې پـیش بینـي شوې مګر تمه کیږي چې دغه مبلغ د 1398 کال په اوږدو کې د عوایدو په زیاتیدو سره ټیټ حد ته ورسیږي.

د 1398 مالي کال د بودجې مجموع له 399 میلیارد افغانیو څخه زیاته ده چې له دې څخه 275 میلیارد افغانۍ چې د بودجې ټولټال 69% تشکیلوي عادي بودجه ده او پاتې 124 میلیارد افغانۍ چې د بودجې 31% تشکیلوي، پرمختیایي بودجې ته اختصاص شوې ده. په ټوله کې د 1398 کال بودجه د 1397 مالي کال د لګښتونو په پرتله لږ څه زیاتوالی څرګندوي چې دغه زیاتوالی د 1397 مالي کال تر پای پورې د اټکل شویو لګښتونو کچې ته په کتو سره په پرمختیایي بودجې کې د زیاتوالي له امله ده.

جدول ۴ (د 1398 کال توحید شوې بودجه (ارقام په افغانیو)

| | سکتور / بودجوي واحد | ۲۱ – مزد او معاشونه | ۲۲ – داجناسو او خدمتونو څخه ګټه اخیستنه | ۲۳- سود او د پورونو بیرته ورکړې | ۲۴ – سبسایډی ګانې، ګرانټونه او ټولنیز ګټې | ۲۵ – د شتمنیو ترلاسه کول | مجموع |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 10 | د ریاست دولت دفتر | 3,320,000,000 | 901,056,000 | - | - | 69,593,000 | 4,290,649,000 |
| 11 | ملي شورا مشرانو جرګه | 433,695,000 | 110,740,000 | - | - | 21,292,000 | 565,727,000 |
| 12 | ملي شورا ولسي جرګه | 1,420,681,000 | 266,849,000 | - | - | 39,960,000 | 1,727,490,000 |
| 13 | د جمهوري ریاست د چارو د ادارې لوی ریاست | 2,700,419,000 | 4,718,768,000 | - | 3,000,000,000 | 404,458,000 | 10,823,645,000 |
| 14 | ستره محکمه | 3,555,746,000 | 192,880,000 | - | - | 46,216,000 | 3,794,842,000 |
| 15 | د ولسمشر د ساتنې ریاست | 1,744,344,000 | 300,000,000 | - | - | 369,400,000 | 2,413,744,000 |
| 16 | د افغانستان د ملي راډیو ټلویزیون عمومي ریاست | 305,577,520 | 246,967,831 | - | - | 18,979,944 | 571,525,295 |
| 17 | د ملي امنیت شورا | 630,849,000 | 195,269,000 | - | - | 6,921,000 | 833,039,000 |
| 20 | د مالیې وزارت | 1,626,226,605 | 2,486,275,918 | - | - | 547,326,117 | 4,659,828,640 |
| 21 | په پارلماني چارو کې د دولت وزارت | 126,525,840 | 38,388,776 | - | - | 12,583,200 | 177,497,816 |
| 22 | د ملي دفاع وزارت | 62,996,123,977 | 12,810,773,125 | - | - | 3,033,456,907 | 78,840,354,009 |
| 23 | د بهرنیو چارو وزارت | 3,633,323,000 | 2,501,352,344 | - | - | 711,156,576 | 6,845,831,920 |
| 24 | د حج او اوقافو وزارت | 1,182,744,000 | 310,300,000 | - | - | 333,549,000 | 1,826,593,000 |
| 25 | د صنعت او سوداګری وزارت | 314,569,416 | 350,004,067 | - | - | 59,975,141 | 724,548,624 |
| 26 | د کورنیو چارو وزارت | 42,875,524,612 | 9,664,219,140 | - | 365,000,000 | 2,034,326,026 | 54,939,069,778 |
| 27 | د پوهنې وزارت | 32,549,169,000 | 5,408,123,892 | - | - | 546,625,183 | 38,503,918,075 |

| | سکتور / بودجوي واحد | ۲۱ – مزد او معاشونه | ۲۲ – داجناسو او خدمتونو څخه ګټه اخيستنه | ۲۳- سود او د پورونو بيرته ورکړې | ۲۴ – سبسايډی ګانې، ګرانټونه او ټولنيز ګټې | ۲۵ – د شتمنيو ترلاسه کول | مجموع |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 28 | د لوړو زده کړو وزارت | 3,981,680,000 | 3,976,221,514 | - | - | 280,783,486 | 8,238,685,000 |
| 29 | د کډوالو او بيرته ستنيدونکو چارو وزارت | 246,676,920 | 124,123,515 | - | - | 64,114,885 | 434,915,320 |
| 31 | د نفوسو احوال ثبت کولو مرکزي اداره | 297,400,000 | 505,100,000 | - | - | 26,000,000 | 828,500,000 |
| 32 | د کانونو او پطروليم وزارت | 455,000,000 | 823,522,572 | - | - | 15,377,428 | 1,293,900,000 |
| 33 | د معلوليت لرونکو افرادو او د شهداو له ورثو څخه د ملاتړ ملي اداره | 96,000,000 | 270,595,000 | - | 7,000,000,000 | 2,000,000 | 7,368,595,000 |
| 34 | د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژی وزارت | 420,000,000 | 2,968,672,881 | - | - | 973,272,119 | 4,361,945,000 |
| 35 | د اقتصاد وزارت | 196,496,000 | 416,742,807 | - | - | 39,573,193 | 652,812,000 |
| 36 | د اطلاعاتو او کلتور وزارت | 435,352,000 | 369,709,865 | - | - | 108,090,135 | 913,152,000 |
| 37 | د عامې روغتيا وزارت | 2,837,360,000 | 12,478,230,299 | - | - | 1,865,322,572 | 17,180,912,871 |
| 38 | د ښځو چارو وزارت | 163,445,000 | 64,042,384 | - | - | 12,583,200 | 240,070,584 |
| 39 | د کرنې او اولو لګونې او مالداری وزارت | 1,167,673,000 | 6,479,677,671 | - | - | 2,334,555,329 | 9,981,906,000 |
| 40 | د تخنيکي او مسلکي زده کړو اداره | 1,309,769,000 | 738,800,000 | - | - | 6,000,000 | 2,054,569,000 |
| 41 | د انرژی او اوبو وزارت | 500,000,000 | 3,533,453,820 | - | - | 3,350,782,872 | 7,384,236,692 |
| 42 | د ټولګټو وزارت | 471,000,000 | 7,388,279,464 | - | - | 5,044,700,056 | 12,903,979,520 |
| 43 | د کليو بيارغونې او پراختيا وزارت | 352,236,000 | 11,221,713,770 | - | - | 7,788,020,024 | 19,361,969,794 |
| 44 | د ملکي هوايي چلند اداره | 220,000,000 | 3,744,168,713 | - | - | 577,615,957 | 4,541,784,670 |
| 45 | د ټرانسپورت وزارت | 207,550,000 | 127,500,000 | - | - | 48,791,600 | 383,841,600 |

| | سکتور / بودجوي واحد | ۲۱ – مزد او معاشونه | ۲۲ – داجناسو او خدمتونو څخه ګټه اخيستنه | ۲۳- سود او د پورونو بيرته ورکړې | ۲٤ – سبسايډی ګانې، ګرانټونه او ټولنيز ګټې | ۲۵ – د شتمنيو ترلاسه کول | مجموع |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 46 | د سرحدونو، قومونو او قبايلو چارو وزارت | 234,741,640 | 321,842,720 | - | - | 29,507,424 | 586,091,784 |
| 47 | د کار، ټولنيزو چارو وزارت | 881,303,040 | 680,853,461 | - | 7,007,276,817 | 58,812,060 | 8,628,245,378 |
| 48 | د مخدره توکو سره د مبارزې وزارت | 147,348,000 | 145,527,438 | - | - | 123,549,562 | 416,425,000 |
| 49 | د ښار جوړونې وزارت | 253,500,000 | 2,912,840,413 | - | - | 2,596,421,587 | 5,762,762,000 |
| 50 | د عدليې وزارت | 602,000,000 | 232,280,000 | - | - | 162,449,000 | 996,729,000 |
| 51 | لوی څارنوالي | 2,411,873,000 | 343,498,000 | - | - | 119,079,000 | 2,874,450,000 |
| 58 | د افغانستان د ملي استندرد خپلواکه اداره | 64,136,000 | 62,774,000 | - | - | 758,000 | 127,668,000 |
| 59 | د سيمه ايزو ارګانونو خپلواکه اداره | 1,941,067,000 | 3,304,745,039 | - | - | 2,254,287,961 | 7,500,100,000 |
| 60 | د چاپيريال ساتنې ملي اداره | 168,844,084 | 90,000,000 | - | - | 61,671,400 | 320,515,484 |
| 61 | د افغانستان د علومو اکاډمي | 225,381,300 | 44,986,751 | - | - | 2,651,700 | 273,019,751 |
| 62 | د ادارې اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کميسيون | 369,500,000 | 548,296,000 | - | - | 25,857,000 | 943,653,000 |
| 63 | د بدني روزنې او سپورټ عمومي رياست | 85,000,000 | 206,943,878 | - | - | 87,184,600 | 379,128,478 |
| 64 | د ملي امنيت لوی رياست | 14,530,696,000 | 3,492,239,000 | - | - | 194,759,000 | 18,217,694,000 |
| 66 | د پلټنې عالي اداره | 124,507,000 | 303,355,000 | - | - | 10,194,000 | 438,056,000 |
| 68 | طبيعي پيښو سره د مبارزې اداره | 81,722,000 | 58,585,000 | - | - | 3,145,800 | 143,452,800 |
| 71 | د ټاکنيزو شکايتونو خپلواک کميسيون | 197,984,000 | 74,905,000 | - | - | 50,333,000 | 323,222,000 |
| 72 | د ټاکنو خپلواک کميسيون | 324,926,340 | 131,879,000 | - | - | 410,880 | 457,216,220 |
| 73 | د احصائيې او معلوماتو مرکزي اداره | 165,466,000 | 306,769,908 | - | - | 29,573,000 | 501,808,908 |

| | سکتور / بودجوي واحد | ۲۱ – مزد او معاشونه | ۲۲ – داجناسو او خدمتونو څخه ګټه اخیستنه | ۲۳- سود او د پورونو بیرته ورکړې | ۲٤ – سبسایډی ګانې، ګرانټونه او ټولنیز ګټې | ۲۵ – د شتمنیو ترلاسه کول | مجموع |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 75 | د افغانستان د اټمي انرژی عالي کمیسیون | 36,000,000 | 10,800,000 | - | - | 3,000,000 | 49,800,000 |
| 76 | د کوچیانو د انسجام لوی ریاست | 82,060,000 | 77,051,000 | - | - | 17,696,000 | 176,807,000 |
| 79 | کابل ښاروالی | - | 2,451,240,000 | - | - | 500,000,000 | 2,951,240,000 |
| 81 | د افغانستان د کوچنیو تمویلي منابعو د ملاتړ لپاره د اسانتیاوو د برابرولو اداره | - | 164,450,000 | - | 164,450,000 | - | 328,900,000 |
| 82 | د اوبو رسونې اوکانالیزاسیون شرکت | - | 258,384,576 | - | - | 257,615,424 | 516,000,000 |
| 83 | د افغانستان برشنا شرکت | - | 6,467,021,273 | - | - | 7,334,478,727 | 13,801,500,000 |
| 84 | د پلازمیني زون د پراختیا خپلواکه اداره | 8,048,000 | 415,579,244 | - | - | 495,487,756 | 919,115,000 |
| 85 | د اساسي قانون پر تطبیق د څار خپلواکه اداره | 55,348,530 | 24,344,102 | - | - | - | 79,692,631 |
| 86 | د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون | - | 41,160,000 | - | - | 20,200,000 | 61,360,000 |
| 87 | د افغانستان د څمکو خپلواکه اداره | 413,410,000 | 432,654,835 | - | - | 245,696,165 | 1,091,761,000 |
| 88 | د اجرائیه رئیس دفتر او د وزیرانو شورا دارالانشاء | 257,991,000 | 532,530,000 | - | - | 25,166,000 | 815,687,000 |
| 89 | د افغانستان د اوسپنې د پټلې اداره | 30,000,000 | 2,025,700,000 | - | - | 4,000,000 | 2,059,700,000 |
| 98 | احتیاطي کوډونه | 280,000,000 | 14,632,056,288 | 2,300,000,000 | - | 800,000,000 | 18,012,056,288 |
| | **د توحید شوې بودجې مجموع** | **196,746,008,824** | **136,527,813,293** | **2,300,000,000** | **17,536,726,817** | **46,307,385,997** | **399,417,934,931** |

### عادي بودجه

د 1398 مالي کال عادي بودجه د 1397 مالي کال د عادي لګښتونو د کچې په پرتله شاوخوا 1 سلنه کموالی په ګوته کوي. د مزد او معاشونو د کوډ په استثناء په نورو کوډونو کې کموالی راغلی دی. د 1398 کال د مزد او معاشونو کوډ د لاندې دلیلونو له امله زیاتوالی ښايي:

- له ځینو احتیاطي کوډونو څخه اړوندو اداردو ته د معاشونو د لګښتونو لیږد،
- د 1397 مالي کال د منځ ارزونه کې منظور شوې تشکیل شاملول ( د بیلګې په ډول د ملي امنیت په لوی ریاست کې د 4000 بستونه زیاتوالی)،
- د محصلینو د اعاشې زیاتوالی ،
- د تحصیلي سند او سوپر اسکیل امتیازونو توپیر،
- د قدم تفاوت،
- د دوکتورانو د کادري، علمي او تخصصي معاشونو ورکړه چې په تیر کال کې له احتیاطي کوډ څخه ورکول کیدل،
- د نویو تاسیس شویو ادارو لپاره نوي بستونه.

### پرمختیایي بودجه

د 1398 مالي کال پرمختیایي بودجه د 1397 مالي کال تر پای پورې د اټکل شویو لګښتونو په پرتله شاوخوا 4 سلنه زیاتوالی رابښيي. دغه زیاتوالی تر یوه حده حتمي دی. که چیرې پرمختیایي لګښتونه کم شي دا به پدې معنا وي چې پرمختیایي پروګرامونه له ستونزو سره مخ دي او په ټوله کې به د ټولنې په عمومي وضعیت باندې منفي اغیزه ولري. له دې امله حکومت هڅه کوي چې د صرفه جویې انتخابونه تر ډیره حده د عادي بودجې په برخه کې ولټوي.

## د 1398 کال په بودجه کې نوي عمده پرمختیایي فعالیتونه

په 1398 کال کې ټولټال 31 نوې پرمختیایي پروژې شاملې دي چې ډیرې یې له هراړخیزو ارزونو څخه وروسته د اقتصاد وزارت یا د مالیې وزارت د پالیسی معینیت او د معیاري کانسپټ نوټ په اساس په پام کې نیول شوي دي. د پروژو د ارزونې په طریقه کې بدلونونه کیدای شي د دې لامل وګرځي چې دغه پروژې د تیر کال د پروژه خلاف په اغیزمن ډول عملي شي او ټاکل شوې موخې یې ترلاسه شي.

جدول ۵ (د 1398 کال د نویو پروژو نوملړ)

| مسئول اداری | عنوان | تمویل کونکی | بودجه ۱۳۹۸ |
|---|---|---|---|
| **مجموع پروژه جدید** | | | **2,498,232,948** |
| **د سیمه ایزو ارگانونو خپلواکه اداره** | | | **3,720,000** |
| **AFG/590213** | د کارموندنې پروژه | بانک جهانی | 3,720,000 |
| **د مخابراتو او معلوماتی ټکنالوجی وزارت** | **د کارموندنې پروژه** | | **45,000,000** |
| **AFG/340117** | د دولت د سرچینو د مدیریت او پلان جوړونې سیستم | دافغانستان حکومت | 10,000,000 |

| مسئول اداری | عنوان | تمویل کونکی | بودجه ۱۳۹۸ |
|---|---|---|---|
| AFG/340118 | د ARCA الکترونيکي تصديقونو لپاره زيربنا | دافغانستان حکومت | 10,000,000 |
| AFG/340119 | د اقلام پستی د ترافیکی سیستم جوړول | دافغانستان حکومت | 25,000,000 |
| **د اوبو او انرژی وزارت** | **د اقلام پستی د ترافیکی سیستم جوړول** | | **5,000,000** |
| AFG/410780 | د هیواد په پنځو دریایي حوزو کې د اوبو د بندونو د امکان سنجې او ډیزاین مطالعات | دافغانستان حکومت | 5,000,000 |
| **د ښار جوړولو چارو وزارت** | **د هیواد په پنځو دریایي حوزو کې د اوبو د بندونو د امکان سنجې او ډیزاین مطالعات** | | **576,000,000** |
| AFG/490512 | د چین هیواد د اپارتمانونو د اداري پروژه | دافغانستان حکومت | 26,000,000 |
| AFG/490513 | د غزنوي خواجه رواش په ښارګوټي کې د کانونو وزارت او د ټولګټو وزارت د اداري کمپلکس جوړول | دافغانستان حکومت | 550,000,000 |
| **د افغانستان د ملی رادیو تلویزیون لوی ریاست** | **د غزنوي خواجه رواش په ښارګوټي کې د کانونو وزارت او د ټولګټو وزارت د اداري کمپلکس جوړول** | | **45,000,000** |
| AFG/160022 | د سټډیوګانو لپاره د تخنیکي تجهیزاتو پیرودل | دافغانستان حکومت | 45,000,000 |
| **د لوړو زده کړو وزارت** | **د سټډیوګانو لپاره د تخنیکي تجهیزاتو پیرودل** | | **600,000,000** |
| AFG/280321 | د پوهنتونونو او لیلیو لپاره د تجهیزاتو پیرودل | دافغانستان حکومت | 100,000,000 |
| AFG/280322 | د پوهنتونونو او لوړو زده کړو د موسسو د پیاوړتیا او پرمختیا پروګرام | دافغانستان حکومت | 500,000,000 |
| **د اطلاعاتو او کلتور وزارت** | **د پوهنتونونو او لوړو زده کړو د موسسو د پیاوړتیا او پرمختیا پروګرام** | | **36,000,000** |
| AFG/360287 | د نشراتو پراختیا | دافغانستان حکومت | 20,000,000 |
| AFG/360288 | د کلتور پراختیا | دافغانستان حکومت | 10,000,000 |
| AFG/360289 | د مسلکي او تخنیکي کارکوونکو ظرفیت جوړول | دافغانستان حکومت | 6,000,000 |
| **د عامې روغتیا وزارت** | **د مسلکي او تخنیکي کارکوونکو ظرفیت جوړول** | | **504,199,000** |
| AFG/370881 | د روغتیایي پاملرنې اعتبار ورکولو ملي اداري پیاوړتیا | دافغانستان حکومت | 10,000,000 |
| AFG/370882 | بیرته ستنیدونکو لپاره د روغتیایي خدمتونو وړاندې کول | اروپایی ټولنه | 484,199,000 |
| AFG/370883 | تقویت شورای نرس ها وقابله های افغانستان | دافغانستان حکومت | 10,000,000 |
| **د کرهنې اوبه لګولو او مالداری وزارت** | **تقویت شورای نرس ها وقابله های افغانستان** | | **295,100,000** |
| AFG/390765 | د کرهنیزو محصولاتو د خوندي کولو او پانګې اچونې پراختیا | دافغانستان حکومت | 26,300,000 |
| AFG/390766 | په پکتیا، پکتیکا او خوست ولایتونو کې کورنیو بوزغلیو احداث. | دافغانستان حکومت | 60,000,000 |
| AFG/390767 | د کوچیانو د پرمختیا ئ پروژی د کرنې وزارت اړه وند | دافغانستان حکومت | 30,000,000 |
| AFG/430488 | د کوچیانو د چارو پراختیا | دافغانستان حکومت | 30,000,000 |
| AFG/430489 | د افغانستان د کلیو او پراختیا د کرنی بین المللی صندوق | دکرهنی پرمختیایی نړیوال سازمان | 148,800,000 |
| **د کار او ټولنیزو چارو وزارت** | **د افغانستان د کلیو او پراختیا د کرنی بین المللی صندوق** | | **37,315,948** |

| مسئول اداری | عنوان | تمویل کونکی | بودجه ۱۳۹۸ |
|---|---|---|---|
| AFG/470249 | بهر ته د کارکوونکو لیږد او په هیواد کې دننه کارموندنه | نړیوال بانک | 37,315,948 |
| **د ښځو چارو وزارت** | **بهر ته د کارکوونکو لیږد او په هیواد کې دننه کارموندنه** | | **30,000,000** |
| AFG/380143 | د ملي او نړیوالو مسؤلیتونو پلي کول، د جنډر عدالت او پیاوړتیا او د ښځو کمپاین او بروشورونه نشرول او پلي کول | دافغانستان حکومت | 30,000,000 |
| **د اقتصاد وزارت** | **د ملي او نړیوالو مسؤلیتونو پلي کول، د جنډر عدالت او پیاوړتیا او د ښځو کمپاین او بروشورونه نشرول او پلي کول** | | **74,840,000** |
| AFG/350075 | د کار موندنې پروګرام | نړیوال بانک | 5,000,000 |
| AFG/350077 | د اقتصاد وزارت د اساسي دندو بنسټیزه پیاوړتیا (پلان جوړونه او ارزونه، اقتصادي تحلیلونه، د ثابتې پراختیا موخې او د غیردولتي مؤسساتو شفافیت او حساب ورکونه) | دافغانستان حکومت | 69,840,000 |
| **د افغانستان د نورم او استندرد ملي اداره** | **د اقتصاد وزارت د اساسي دندو بنسټیزه پیاوړتیا (پلان جوړونه او ارزونه، اقتصادي تحلیلونه، د ثابتې پراختیا موخې او د غیردولتي مؤسساتو شفافیت او حساب ورکونه)** | | **36,058,000** |
| AFG/580045 | د غالیو د آزمایښتي لابراتوار د تجهیزاتو تدارک | دافغانستان حکومت | 16,750,000 |
| AFG/580046 | د اداري د مرکزي ډیټابیس سیستم جوړول | دافغانستان حکومت | 3,015,000 |
| AFG/580047 | د مرکز د برق او نفتي موادو د لابراتوار تدارت او عیارول | دافغانستان حکومت | 16,293,000 |
| **د احصائیې او د معلوماتو ملی اداره** | **د مرکز د برق او نفتي موادو د لابراتوار تدارت او عیارول** | | **210,000,000** |
| AFG/730015 | د کابل ښار د نفوسو د سروې پروژه | دافغانستان حکومت | 70,000,000 |
| AFG/730016 | د معارف سارنې پروژه | دافغانستان حکومت | 70,000,000 |
| AFG/730017 | د کرنیزی سیمی سارنې پروژه | دافغانستان حکومت | 70,000,000 |

## د 1398 د کال منځنۍ بودجې ارزونه

د 1398 مالي کال بودجه د حقیقت ګرایانه وړاندوینو پر بنسټ پداسې ډول چمتو شوې چې د ادارو د لګښتونو توان پکې په پام کې نیول شوی دی. ډېره پاملرنه هغې کره پلان جوړونې ته شوې چې د پلان شوې او حقیقي بودجې ترمنځ خلا ټیټ حد ته رسوي. له بل پلوه د لګښتونو هدفمند کول یو اړین امر دی چې حکومت یې تل په هڅه کې دی. د 1398 بودجې په جوړونه کې دغه موضوع د امکان تر حده په پام کې نیول شوې ده مګر دغه بهیر دوامداره ده او اړینه ده ترڅو د 1398 کال د بودجې د منځ په ارزونه کې د یوې موخې په توګه مطرح شي. د 1398 مالي کال د منځ ارزونه کې به په دې باندې تمرکز وشي ترڅو شته تمویلي سرچینو ته په کتو سره د ضعیفو اجراآتو لرونکو پروژو څخه وجوه د ښه اجراآتو لرونکو او یا هم د ډېر لومړیتوب لرونکو پروژو ته انتقال شي. دا چاره به د هغو ادارو د بودجې د کموالي لامل شي چې لګښتونه یې د قناعت وړ نه دي. دا دقیقاً د «ویې کاروه او یا یې له لاسه ورکړه» (use it or lose it) قاعدې په اساس چې په نړۍ کې منل شوې قاعده ده، تطبیقیږي.

## ترلاسه شوي عواید او مرستې (عواید)

دغه برخه د رسیدونو یا د عوایدو او مرستو (نړیوالې پراختیایي مرستې) په اړه جزئیات وړاندې کوي. حکومت سږ کال د خپلو کورنیو عوایدو په اړه او همدا راز د روان کال، بودجې کال او د درې راتلونکو کلونو په اړه یې وړاندوینې چمتو کړي. چې د نورو کلونو په پرتله یې کچه خورا لوړه ده او له همدې لارې کولای شو افغانستان د غوره نړیوالو معیارونو جوګه کړو.

په دې برخه کې حکومت د 1398 کال او د دریو نورو کلونو لپاره د نړیوالو شریکانو لخوا د راتلونکي مالي ملاتړونو وړاندوینې وړاندې کوي. دغه وړاندوینې د اوسنیو ژمنو په اساس چمتو شوي چې په هغه کې د دولت د لومړي ځل لپاره د راتلونکو څلورو کلونو لپاره د افغانستان لپاره د شته سرچینو یو بشپړ او واحد انځور وړاندې کړی. د څو کلونو وړاندوینې د ډونرانو هغه ژمنتیاوې هم رانغاړي چې په وارسا او بروکسل کې شوې او په راتلونکي کې له افغانستان سره د نړیوالو شریکانو د ملاتړ په اړه د بحثونو مخه نه نیسي- پدې برخه کې یواځې اوسنۍ ژمنتیاوې شاملې دي.

## دعوایدو لړلید (1396 – 1401)

د عوایدو د وړاندوینې په فرضیو کې لاندې موارد شاملیږي:

- د بودجې او راتلونکو کلونو لپاره د عوایدو وړاندوینه د هر انفرادي عایداتي خط پر بنسټ شوي ده او د ستر اقتصاد د ځانګړو فرضیو له لارې یې وده کړې ده لکه کورني ناخالص تولیدات، د کورنیو ناخالصو تولیداتو کموونکي (GDP Deflator)، د فرعي سکتورنو لخوا کورني ناخالص تولیدات، کورنۍ تورم، نړیوال تورم، د وارداتو وده، اغیزمنتیا، عایداتي تدابیر او داسې نور.
- د تاپي (TAPI) پروژې عایداتي اټکل او له انتقالاتو څخه ترلاسه کیدونکي نور عواید، د راتلونکو کلونو د عوایدو په وړاندوینې کې ځای پر ځای شوي دي.
- همدا ډول مونږ د ارزښت پر زیاتوالي مالیې (VAT) د عوایدو اټکل ته هم ځای ورکړې دی ځکه چې د ارزښت پر زیاتوالي مالیې د پالیسی تطبیق هم په 1400 کال کې پیل کیږي.

## د کورنیو عوایدو لړلید

د کورنیو عوایدو لړلید په منځمهاله کې مثبت دی. د 1397 (2018) مالي کال لپاره واقعي اټکل شوي عواید 173.5 میلیارد افغانۍ وړاندې شوي دي، له دې سربیره تمه کیږي چې د بودجې په وړاندوینې کې تر دې زیات مقدار راټول کړو. دې موضوع د عوایدو په راټولولو کې د اغیزې له زیاتوالي او د تبادلې د بیې ډیروالي له امله محرک شوي چې د وارداتي اجناسو پر ګمرکي ارزښت او مالیاتي اداري په اصلاحاتو باندې اغیزه لري. لاندې ځینې فرضیې دي چې د تناسب په اساس د هدف په کچه د عوایدو د وړاندوینې لپاره کارول شوي دي.

**جدول ٦ (د عوایدو د وړاندوینې فرضیې)**

| | 1396 | 1397 | 1398 | 1399 | 1400 | 1401 |
|---|---|---|---|---|---|---|
| **شاخصونه** | | | | | | |
| په اوسط ډول د لګښتونو د بیې شاخص (CPI) | 5% | 3% | 4% | 4% | 4% | 4% |
| د لګښتونو د بیې د شاخص اوسط جمع ERC | 13% | 6% | 6% | 5% | 5% | 5% |
| د تعدیل شاخص | 1% | 5% | 2% | 4% | 5% | 5% |
| د تعدیل شاخص جمع ERC | 11% | 3% | 3% | 3% | 2% | 2% |
| د لګښتونو د بیې د شاخص اوسط EOP | 3% | 8% | 3% | 4% | 4% | 4% |
| د لګښتونو د بیې د شاخص اوسط EOP جمع ERC | 12% | 7% | 6% | 5% | 5% | 5% |
| ERC | 8% | 0% | 0% | 0% | 0% | 0% |
| د خوراکي توکو د لګښتونو د بیې شاخص | 7% | 5% | 8% | 5% | 7% | 7% |
| د خوراکي توکو د لګښتونو د بیې شاخص جمع ERC | 14% | 7% | 8% | 6% | 6% | 8% |
| M2 | 6% | 8% | 8% | 8% | 8% | 7% |
| کورني ناخالصه اسمي تولیدات | 5% | 5% | 8% | 9% | 10% | 10% |
| د کرهنې کورني ناخالصه اسمي تولیدات | 5% | 4% | 7% | 9% | 10% | 10% |
| د تولیداتو کورنی ناخالصه اسمي تولید | 1% | 2% | 4% | 7% | 10% | 10% |
| د خدمتونو کورني ناخالصه اسمي تولیدات | 5% | 4% | 8% | 9% | 9% | 9% |
| د غیرخوراکي توکو د لګښتونو د بیې شاخص | 3% | 3% | 3% | 2% | 3% | 3% |
| د غیر خوراکي توکو د لګښتونو د بیې شاخص جمع ERC | 12% | 4% | 4% | 4% | 3% | 4% |
| نفوس | 2% | 2% | 2% | 2% | 2% | 2% |
| نفوس او د لګښتونو د بیې شاخص | 7% | 5% | 6% | 6% | 6% | 6% |
| صفر | 0% | 0% | 0% | 0% | 0% | 0% |
| **د مؤثریت وندې ګټه** | **-2%** | **-2%** | **-2%** | **-2%** | **-2%** | **-2%** |
| **د کورنیو ناخالصو اسمي تولیداتو وړاندوینه په میلیونو باندې** | 1,384,905 | 1,485,622 | 1,563,993 | 1,689,330 | 1,849,552 | 2,036,954 |

مالیاتي عواید (پرعایداتو او شتمنیو مالیات ، پر اجناسو او وارداتو مالیات، سوداګریز مالیاتو او داسې نورو مالیاتو په ګډون ) د کورنیو عوایدو لویه برخه تشکیلوي او اټکل کیږي چې په 1397 کال کې به دغه عواید له 173.5 میلیارد افغانیو څخه زیات شي. غیرمالیاتي عواید د کورنیو عوایدو دویم ستر تشکیلونکی دی چې اټکل کیږي سږ کال به له 56 میلیارد افغانیو څخه زیات شي.

وړاندوینه کیږي چې په 1398 (2019) کال او راتلونکو کلونو کې د عواید د اصلاحاتو او د مالیاتو د اداري د ښوالي په پایله کې به عواید تر 188 میلیارد افغانیو پورې لوړ شي. د راتلونکو کلونو په اټکلونو کې داسې وړاندوینه کیږي چې په 1398 کال کې به مالیات له 127.1 میلیارد افغانیو څخه په 1399، 1400 او 1401 کلونو کې په ترتیب سره 140 میلیارده، 157.6 میلیارده او 174 میلیارد افغانیو پورې زیاتوالی ومومي، پداسې حال کې اټکل کیږي چې غیرمالیاتي عوایدو به په 1398(2019) کال کې له 60.8 میلیارد افغانیو څخه په 1399، 1400 او 1401 کلونو کې په ترتیب سره 68 میلیارده، 76.7 میلیارده او 84 میلیارد افغانیو ته ورسیږي.

له 1397 څخه تر 1402 کلونو په بهیر کې به د عوایدو د ودې د ثابت او پیاوړي لړلید شاهدان یو. د وړاندوینې په اساس تمه کیږي چې کورني حقیقي عواید په 1396 کال کې له 165.1 میلیارد افغانیو څخه ( د one-off پرته) په 1397 کال کې 173.5 میلیارد افغانیو بودجوي هدف ته او په 1398، 1399 او 1400 کلونو کې په ترتیب سره 188 میلیارد افغانی، 208 میلیارد افغانی او 234 میلیارد افغانیو ته ورسیږي. د عوایدو په اصلي کټګوریو کې مالیاتي عواید، غیرمالیاتي عواید، ګمرکي تعرفې شاملیږي چې د ستر اقتصاد اړوندو فرضیو له لارې وده کوي (لکه کورني ناخالص تولیدات، تورم، د کورنیو ناخالصو تولیداتو کمونکې، د وارداتو وده، اغیزمنتیا او داسې نور). د عوایدو په پورته ذکر شویو ارقامو کې د کارکوونکو تړلینزه ونډه هم شامله ده چې تمه کیږي د کابینې او پارلمان لخوا د تقاعد د قانون تعدیل د تصویب په صورت کې به د تقاعد جلا حساب ته انتقال شي چې په دې سره به د عوایدو هدف هم ټیټ شي.

تمه کیږي چې د 1401 مالي کال تر پای پورې کورني عواید تر 259 میلیارد افغانیو ته ورسیږي. د دولت لخوا د مالیاتو په مدیریت کې اصلاحات او ښه والی د عوایدو د زیاتوالي لامل ګڼل کیږي. دولت ژمن دی چې خپل عواید پیاوړي کړي او په راتلونکو کلونو کې اړین اقدامات او اصلاحات راولي. له دې سربیره، د ارزښت پر زیاتوالي مالیې او د کانونو په برخه کې د اصلاحاتو په صورت کې داسې تمه کیږي چې په 1400 کال او له هغې څخه وروسته کلونو کې به د کورنیو عوایدو په وړاندوینې باندې مثبته اغیزه ولري.

شکل ۵ (د کورنی عوایدو عمده کتګوری)



## د ارزښت پر زیاتوالي مالیې وړاندوینې (VAT)

دولت ژمن دی چې د کورنیو عوایدو د زیاتوالي لپاره د پالیسۍ په کچه تغییرات او د مالیاتو پرمختللی مدیریت رامنځته کړي. د نړیوالې سوداګرۍ سازمان هوکړه لیک د افغانستان دولت اړ کوي ترڅو پر وارداتو باندې ثابتې مالیې له منځه یوسي او د 2021 کال د جنورۍ له لومړۍ نیټې څخه وړاندې د ارزښت پر زیاتوالي مالیې پالیسي تطبیق کړي. دغه موضوع کیدای شي د عوایدو زیاته برخه له لاسه ورکړي او د ارزښت پر زیاتوالي مالیې د سم مدیریت پر وړاندې د هیواد زیربناوې له ستونزو سره مخ کړي. په دې توګه، دولت د پیسو نړیوال صندوق سره هوکړه کړې ترڅو د ارزښت پر زیاتوالي مالیې د پالیسۍ تطبیق تر 2021 کال د جنورۍ پورې پیل کړي. د دولت او د پیسو نړیوال صندوق د محاسبې له مخې، تمه کیږي چې د ارزښت پر زیاتوالي مالیې ۱۰ سلنه نورم به په کورنیو ناخالصه تولیداتو کې 1.9 سلنه زیاتوالی رامنځته کړي.

## د بهرنیو مرستو له لارې د عوایدو لړ لید 1398 – 1401

### په عادي بودجه کې مرستې:

په 1398 کال کې د عادي بودجې مرستې ټولټال له 98 میلیارد افغانیو څخه زیاتې دي چې د 1397 کال په پرتله شاوخوا 8 سلنه کموالی راښیي چې دا کموالی په امنیتي سکتور کې د ډونرانو لخوا د ژمنو د ټیټې کچې له امله ده. د نړیوالې ټولنې سره د افغانستان د دولت د ژمنیتا په اساس افغانستان باید د امنیتي ځواکونو د بودجې د تمویل په برخه کې خپله ونډه د وخت په تیریدو سره زیاته کړي. د افغانستان د امنیت انتقال د ګډې قوماندانۍ د ژمنو سربیره، د ناټو صندوق هم د 1398 مالي کال لپاره د ۲۴.۵ میلیون افغانیو ژمنه کړې ده چې د امنیت شورا د معاشونو په برخه کې به ولګول شي.

جدول ۷ (د عادي بودجې مرستې)

| ارقام په میلیون افغانی | 1398<br>بودجه | 1399<br>وړاندوینې | 1400<br>وړاندوینې | 1401<br>وړاندوینې |
|---|---|---|---|---|
| بلاعوضه مرستې | 136,044 | 112,864 | 76,791 | 45,591 |
| عادي مرستې | 98,844 | 82,064 | 45,591 | 45,591 |
| د افغانستان د بیارغونې وجهي صندوق | | | | |
| د افغانستان د بیارغونې وجهي صندوق (تشویقي وجوه) | | | | |
| د افغانستان د بیارغونې وجهي صندوق (تشویقي وجوه - پلس) | | | | |
| د نظم او قانونو وجهی صندوق | 28,000 | 25,484 | 14,158 | 14,158 |
| د افغانستان د امنیت انتقال ګډې قوماندانی اداره | 70,819 | 56,579 | 31,433 | 31,433 |
| د افغانستان د امنیت انتقال ګډې قوماندانی اداره – د ملي دفاع وزارت لپاره | 60,520 | 42,559 | 23,644 | 23,644 |
| د افغانستان د امنیت انتقال ګډې قوماندانی اداره – د بهرنیو چارو وزارت لپاره | 10,299 | 14,020 | 7,789 | 7,789 |
| ناټو | 25 | | | |
| د بریتانیا مرستې (SPAD) | | | | |
| نوې پراختیایي پالیسي | | | | |
| د اروپا اتحادیه (د دولت بیاجوړونې قرارداد) | | | | |

## د اختیاري بودجې مرستې 1398 – 1401

په 1398 مالي کال کې د اختیاري مرستو مجموع له 37 میلیارد افغانیو څخه زیاته ده چې د 1397 کال په پرتله 14% کموالی راښیي. دغه مرستې په راتلونکو کلونو کې تر 1401 مالي کال پورې 49 میلیارد افغانیو ته رسیږي چې د 1397 مالي کال په نسبت شاوخوا 57% کمیږي. د یادونې وړ ده چې دغه ټولې مرستې په مالي او جوړښتي اصلاحاتو کې د دولت ژمنو پورې مشروطې دي چې د ناغیږې په صورت کې کیدای شي په شدید ډول اغیزمنې شي.

جدول ۸ (د اختیاري بودجې مرستې)

| ارقام په میلیون افغانۍ | 1398 بودجه | 1399 وړاندوینې | 1400 وړاندوینې | 1401 وړاندوینې |
|---|---|---|---|---|
| پراختیایي بلاعوضه مرستې –اختیاري | 37,200 | 30,800 | 31,200 | - |
| د افغانستان د بیارغونې وجهې صندوق (تشویقي وجوه) | | | | |
| د افغانستان د بیارغونې وجهې صندوق (تشویقي وجوه - پلس) | 29,760 | 23,100 | 23,400 | |
| نړیوال بانک | - | - | | |
| نوې پراختیایي پالیسي<br>د متقابلې حساب ورکونې چوکاټ له لارې په خان بسیاکېدنه ((SMAF | | | | |
| اروپایي اتحادیه (د مهاجرینو او بیرته ستنیدونکو صندوق | | | | |
| اروپایي اتحادیه (د دولت جوړونې قرارداد) | 7,440 | 7,700 | 7,800 | |

## غیراختیاري مرستې او پورونه

په 1398 مالي کال کې د غیراختیاري پروژو لپاره مرستې هم د 1397 مالي په نسبت شاوخوا 16 سلنه کمې پلان شوې دي. څرنګه چې د مالیې وزارت کولای شي د کال په بهیر کې د کابینې له منظورۍ څخه وروسته غیراختیاري وجوه زیاته کړي ، په دې توګه په بودجه کې غیراختیاري وجوه په محافظه کارانه ډول په پام کې نیول شوې ده.

په 1398 مالي کال کې د پور مجموع له 574 میلیون افغانیو ته رسیږي چې دغه مبلغ به زیربنایي پروژې تمویل کړي.

جدول ۹ (د ۱۳۹۸ کال په پرمختیایي بودجه کې غیراختیاري مرستې او پورونه)

| غیراختیاري مرستندویه اداري | د ۱۳۹۸ کال بودجه |
|---|---|
| د غیراختیاري مرستو او پورونو مجموع | 62,398,033,698 |
| د واکسین او معافیت لپاره سراسري اتحاد | 452,538,000 |
| اروپایي اتحادیه | 484,199,000 |
| استرالیا | 62,064,000 |
| ایتالیا | 240,636,000 |
| المان | 744,000,000 |
| آسیایي پراختیایي بانک | 14,924,393,729 |
| نړیوال بانک | 14,843,544,658 |
| د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې قانون د پلي کیدو نړیواله خانګه | 161,710,871 |
| نړیوال مالي تسهیلات | 585,676,800 |

| غیراختیاري مرستندویه ادارې | د ۱۳۹۸ کال بودجه |
|---|---|
| د قزاقستان حکومت | 22,410,244 |
| ډنمارك | 18,600,000 |
| نړیوال کرهنیزې پراختیایي سازمانونه | 1,525,200,000 |
| د ملګرو ملتونو تعلیمي، علمي او کلتوري سازمان (یونسکو) | 6,913,174 |
| د افغانستان د بیارغونې وجهي صندوق | 21,133,895,197 |
| د سولې او بیاادغام وجهي صندوق | 17,426,699 |
| د سهیل آسیا د سیمه ییزو همکاریو د پراختیایي سازمان صندوق - سارک | 8,800,000 |
| د مخابراتو د پراختیا صندوق TDF)) | 1,421,609,000 |
| فرانسه | 4,869,156 |
| د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنري | 17,342,000 |
| د امریکا مرستې | 777,852,000 |
| هندوستان | 2,507,504,170 |
| چین | 33,500,000 |
| کاسا یک هزار | 744,000,000 |
| د نړیوال بانک نړیوالې پراختیایي مرستې | 1,396,159,000 |
| ګلوبل فند(نړیوال صندوق) | 263,190,000 |
| **اداره قرضه دهنده** | **574,000,000** |
| ایټالیا | 199,000,000 |
| اسلامي پراختیایي بانک | 25,000,000 |
| د سعودي پراختیایي صندوق | 350,000,000 |
| **مجموع کمک های غیر اختیاری و قرضه** | **62,972,033,698** |

جدول ۱۰ (د دولت د مالي احصائيې د معيار په اساس مرستې)

| مرستې | 1396 لګښتونه | 1397 اصلي بودجه | 1397 حقيقي (تراوسه) | 1398 بودجوي کال | 1399 وړاند وينه | 1400 وړاند وينه | 1401 وړاند وينه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| **مجموع** | **185,938,382,080** | **190,372,711,688** | **105,595,126,218** | **198,441,897,365** | **173,553,871,296** | **134,410,037,291** | **94,448,431,374** |
| ۱ د بهرنيو هېوادونو مرستې | 56,435,417,044 | 68,580,433,220 | 42,908,289,302 | 74,452,947,235 | 59,768,726,845 | 34,171,253,997 | 33,737,760,072 |
| ۱۹۱۰۰۰ د بهرنيو هېوادونو عادي مرستې | 53,331,710,657 | 62,866,015,886 | 39,141,143,905 | 70,819,363,664 | 56,579,414,567 | 31,434,007,305 | 31,434,007,305 |
| ۱۹۱۰۱۰ د بهرنيو هېوادونه د پانګه اچونې مرستې | 3,103,706,387 | 5,714,417,334 | 3,767,145,397 | 3,633,583,571 | 3,189,312,278 | 2,737,246,692 | 2,303,752,767 |
| ۲ د نړيوالو بنسټونو مرستې | 129,502,965,036 | 121,792,278,468 | 62,686,836,916 | 123,988,950,130 | 113,785,144,451 | 100,238,783,294 | 60,710,671,302 |
| ۱۹۲۰۰۰ د نړيوالو بنسټونو رواني مرستې | 35,512,981,877 | 69,444,185,306 | 19,271,152,784 | 28,024,500,000 | 25,484,130,000 | 14,157,850,000 | 14,157,850,000 |
| ۱۹۲۰۱۰ نړيوالې مرستې -غيرمنقول | 93,989,983,159 | 52,348,093,162 | 43,415,684,132 | 95,964,450,130 | 88,301,014,451 | 86,080,933,294 | 46,552,821,302 |

# د وظیفوي طبقه بندۍ له مخې د دولت لګښت

## پېژندنه

د COFOG د لګښت طبقه بندي د دولت له اداري جوړښت څخه خپلواکه ده او د هغو ادارو په پام کې نیولو پرته د سکتورونو تر منځ د سرچینو ځانګړي کول ښيي، چې دغه لګښتونه پکې رامنځته کیږي. د COFOG طبقه بندي د بودیجې د پالیسی تحلیل او نړیوالو پرتلنو دواړو لپاره اړینه ده ځکه چې دا د مالي راپور ورکولو لپاره منل شوي نړیوال معیارونه تعقیبوي. دغه طبقه بندي د تحلیلي پروګرامونو د ډېرو ډولونو لپاره ګټوره ښودل شوې ده. د بېلګې په ډول، د روغتیا، زده کړې، ټولنیز خوندیتوب او چاپېریال خوندیتوب په اړه شمېرنې، په دغو ساحو کې د دولتي پروګرامونو د اغېزمنتوب د مطالعې او د دولت له بیان شوو لومړیتوبونو سره د لګښتونو د برابرولو لپاره کارېدلی شي.

د بودیجې په بیانیو کې وړاندې شوو COFOG کې د تفصیلاتو درې کچې ګډون لري. دا له ۱۰ سترو کړنو څخه تشکیل شوی دی چې د لومړۍ کچې برخه یې بولي، لکه روغتیا (۰۷ برخه) او ټولنیز خوندیتوب (۰۷۳). په هره ډله/ګروپ کې یوه یا ډېرې طبقې یا څلور – عددي کټګورۍ موجودې دي لکه د نرسینګ او د ورو ورو ښه کېدلو کورني خدمات (۰۷۳۴ طبقه). د "۷" شمېرې مختاړی د دې لپاره اضافه شوی دی چې د COFOG کوډونه د GFSM د طبقه بندۍ له نورو کوډونو سره برابر کړي.

## د کړنو له مخې د لګښتونو لنډیز

لاندې یولسم جدول د سترو کړنو له مخې د بودیجې د پلان شوو لګښتونو لنډیز بیانوي. ملي دفاع د لګښت ستره ساحه تشکیلوي (د بشپړې کچې ۲۵ سلنه یا ۱۰۰ بیلیونه افغانۍ) چې دا په هېواد کې خرابېدونکی امنیتي حالت ښيي او اقتصادي چارې (د بشپړې کچې ۱۷ سلنه یا ۶۷ بیلیونه افغانۍ) یې تعقیبوي. عامه نظم او خوندیتوب د لګښت د کټګوریو په درېیمه درجه کې شمېرل کیږي او د کورنیو چارو په وزارت کې د پولیسو تنخاګانې او کارونه پکې ګډون لري (د بشپړې کچې ۱۶ سلنه یا ۶۳ بیلیونه افغانۍ). زده کړه او روغتیا دواړه په ګډه د بشپړې بودیجې ۱۷ سلنه یا ۵۰ بیلیونه او ۱۷ بیلیونه افغانۍ ترلاسه کوي.

## عمومي عامه خدمات

د عمومي عامه خدماتو کړنه کې د اجرائیه او قضائیه غړو، مالي او پولي چارو، بهرنیو چارو او عمومي خدماتو لپاره لګښتونه ګډون لري. د لګښت ستره برخه پر اجرائیه او قضائیه غړو (د بشپړې بودیجې ۷۵ سلنه یا ۴۰ بیلیونه) ورپسې د عامه خدماتو کټګورۍ ته ځانګړې شوې ده چې د بشپړې بودیجې ۲۳ سلنه تشکیلوي.

## دفاع

د دفاع کړنه کې د اداري او پوځي دفاعي چارو او خدماتو، د ځمکنیو، بحري او هوایي دفاعي ځواکونو لپاره لګښتونه ګډون لري. د لګښت ستره برخه پر پوځي دفاع (د بشپړې بودیجې ۷۸ سلنه یا ۷۸،۸ بیلیونه افغانۍ) ورپسې *دفاع* ته چې

بل ځای طبقه بندي شوي نه دي (د بشپړې بودیجې ۲۱ سلنه یا ۲۱،۴ بیلیونه افغانۍ) ځانګړې شوې ده. محکمې د مدني او جنایي محکمو او عدلي سیستم اداري، عملیاتو او ملاتړ سره تړاو لري. *دفاع* کې د دفاع، د قضائیه چارو چمتووالي او تطبیق او د دفاع په اړه تخنیکي اسناد جوړولو او احصائیې پورې د تړاو لرونکو ټولو پالیسیو، پلانونو او پروګرامونو د جوړولو، اداره کولو، همغږي کولو او څارنې په څېر کړنو اداره، عملیات او ملاتړ لګښتونه ګډون لري.

## عامه نظم او خوندیتوب

د عامه نظم او خوندیتوب کړنه کې د پولیسو د کار اړوند د نیولو د ریکارډونو او شمېرنو د ساتلو په ګډون، د اداري او پولیسو چارو او خدماتو، د سړک د ترافیکي قواعدو او د قاچاق د کنترول او مخنیوي، لپاره لګښتونه ګډون لري. د پلان شوي لګښت ستره برخه د پولیسو خدماتو (د بشپړې بودیجې ۸۷ سلنه یا ۵۵ بیلیونه افغانۍ) ورپسې د قانون محکمو (د بشپړې بودیجې ۱۲،۴ سلنه یا ۷،۸ بیلیونه افغانۍ) پورې تړاو لري. محکمې د مدني او جنایي محکمو او عدلي سیستم اداري، عملیاتو او ملاتړ سره تړاو لري.

## اقتصادي چارې

د اقتصادي چارو په کړنه کې عمومي اقتصادي، سوداګریزو او کاریګری چارو لپاره لګښتونه ګډون لري. تر دغې طبقه بندۍ لاندې ځانګړې شوې بودیجه د ۱۳۹۸ کال په بودیجه کې د پلان شوي لګښت ستره برخه تشکیلوي (د بشپړې بودیجې ۱۷ سلنه) او پر کرنه، د سونګ توکو او انرژۍ، ترانسپورت، صنعت او زېربنا لګښتونه رانغاړي.. تر دغې کړنې لاندې د طبقه بندي شوي لګښت ستره برخه د ترانسپورت زېربنا (د بشپړې بودیجې ۳۵ سلنه یا ۲۳ بیلیونه افغانۍ) ورپسې پر کرنه، ځنګل پوهنه او کب نیولو او د سونګ توکو او انرژۍ پلان شوي لګښت پورې تړاو لري. دغه درې کټګورۍ په ګډه د دغې کړنې ۸۰ سلنه تشکیلوي.

## د چاپېریال خوندیتوب

د چاپېریال خوندیتوب کړنه کې د کثافاتو د مدیریت او د ناپاکیو د کمولو لپاره لګښتونه ګډون لري.

## کور جوړول او د ټولنې تهذیب

د کور جوړولو او د ټولنې تهذیب کړنه کې، د کور جوړونې د ودې، د ټولنې د ودې د چارو اداري، د اوبو د عرضې چارو اداري، د کوڅو د روښانولو او کور جوړولو لپاره لګښتونه ګډون لري. د پلان شوي لګښت ستره برخه د ټولنې ودې (د بشپړې بودیجې ۵۶ سلنه یا ۴.۶ بیلیونه افغانۍ) ورپسې کور جوړولو ته ودې ورکولو (د بشپړې بودیجې ۳۳ سلنه یا ۲،۷ بیلیونه افغانۍ) پورې تړاو لري. کور جوړولو ته وده ورکول، د کور جوړولو د پراختیا، د ځمکې د اخیستلو، اصلاح کولو او ساتلو د ملاتړ لپاره د پورونو، بخششونو او بسپنو په ګډون، د کور جوړولو د ودې چارو او خدماتو مدیریت پورې تړاو لري.

## روغتیا

د روغتیا په کړنه کې، افرادو ته او پر ټولیز ډول چمتو شوو خدماتو لګښت ګډون لري چې طبي تولیدات، درمل، اسباب او وسایل، د غاښونو په ګډون د ناروغانو خدمات، د روغتون خدمات، عامه روغتیایي خدماتو لپاره ملاتړ لکه د وینې راټولول، کتلوي معافیت، د ناروغیو کشف او د معلوماتو خدمات او څېړنه او پرمختګ پکې ګډون لري.

## تفریح، کلتور او مذهب

د تفریح، کلتور او مذهب کړنه کې، پر هغو خدماتو دولتي لګښت ګډون لري چې افرادو او ټولنې ته د قانون جوړولو او تطبیقولو، د تفریحي او کلتوري خدماتو چمتو کولو لپاره معیارونو او د تفریحي، کلتوري او مذهبي چارو او خدماتو د ودې لپاره چمتو شوي وي.

## پوهنه

د پوهنې پر کړنه دولتي لګښت کې پر هغو خدماتو لګښت ګډون لري چې د دولت د پالیسی د جوړولو او اداره کولو، د معیارونو د رامنځته کولو او تطبیقولو، د پوهنیزو تاسیساتو د منظمولو، اجازه لیک اخیستلو او څارنې او د پوهنې په چارو او خدماتو کې د تجربوي ودې او پلي کېدونکي څېړنې لپاره افرادو او ټولنې ته چمتو شوي وي. تر دغې کړنې لاندې د لګښت ستره برخه له ابتدایي څخه مخکې او ابتدایه زده کړې پورې اړه لري چې د بشپړې کچې ۴۴ سلنه یا ۲۲ بیلیونه افغانۍ جوړېږي. دویمه تر ټولو ستره کټګوري *پوهنه بل ځای کې طبقه بندي شوې نه* $n.e.c$ ده. دغه طبقه بندي د پوهنې له هغه لګښت سره تړاو لري چې هغو ډېرو ځانګړو طبقه بندیو ته ورکول کېدلی نه شي چې له ابتدایه څخه مخکې او ابتدایه زده کړه، ثانوي زده کړه، درېیمه درجه زده کړه او له ثانوي وروسته زده کړو په لست کې نه رازي. تر دغې طبقه بندۍ لاندې لګښتونه د کړنو له اداري، عملیاتو او ملاتړ سره تړاو لري لکه د بشپړو پوهنیزو پالیسیو، پلانونو، پروګرامونو او بودیجو جوړول، اداره کول، همغږي کول او څارل؛ د پوهنیزو تاسیساتو د اجازه لیک ورکولو په ګډون د پوهنې د چمتو کولو لپاره د قانون جوړولو او معیارونو چمتووالی او تطبیقول؛ د عمومي معلوماتو، تخنیکي اسنادو جوړولو او د پوهنې په اړه شمېرنو/احصائیو تولید او خپرول.

## ټولنیز خوندیتوب

پر ټولنیز خوندیتوب دولتي لګښت کې پر هغو خدماتو او انتقالاتو لګښت ګډون لري چې د دغو یادو شوو افرادو او کورنیو لپاره چمتو شوي وي: ناروغ او معیوب، د پاخه عمر خاوندان، د یوه ناروغ شخص وارثین، د کوچنیو ماشومانو درلودونکو کورنیو ته نغدي او د توکو مرستې، هغو وګړو سره نغدي او د توکو مرستې چې د کار کولو وړتیا لري خو مناسب کار موندلی نه شي، له کورنیو سره د کور جوړولو د لګښت په برخه کې مرستې او هغو خلکو سره نغدي او د توکو مرستې چې په ټولنیز ډول شړل شوي وي یا د ټولنیز شړل کېدلو له خطر سره مخ وي (لکه ډېر بېوزله وګړي، د کم عاید ګټونکي، کډوال، محلي وګړي، کوچیان، د جنایي تاوتریخوالي قربانیان او نور).

جدول ۱۱( د 1398 – 1401 کلونو لپاره د دندو پر بنسټ د حکومت لګښتونه)

| د فعالیتونو/ وظایفو پر بنسټ لګښتونه | ۱۳۹۶ لګښتونه | ۱۳۹۷ اصلي بودجه | ۱۳۹۷ حقیقی تر دی نیتی | ۱۳۹۸ بودجوي کال | ۱۳۹۹ وړاند وینه | ۱۴۰۰ وړاند وینه | ۱۴۰۱ وړاند وینه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د فعالیتونو/ وظایفو پر بنسټ لګښتونه ټولټال | 353,693,152,020 | 377,190,202,974 | 278,871,333,719 | 399,417,934,931 | 417,797,327,878 | 425,126,911,410 | 430,129,904,158 |
| ۱ عمومي عامه خدمتونه | 42,612,118,374 | 43,669,123,597 | 31,034,919,818 | 54,771,925,766 | 57,315,011,246 | 57,183,646,825 | 56,410,400,328 |
| ۱۱ اجرایوی او مقننه ارګانونه، مالی چاري، بهرنی چاري | 39,151,091,394 | 28,241,629,143 | 25,338,069,582 | 40,951,853,025 | 43,579,281,442 | 44,151,043,977 | 44,400,446,354 |
| ۱۳ عمومی خدمتونه | 2,730,763,037 | 14,706,874,577 | 4,758,474,507 | 12,768,169,771 | 12,626,081,331 | 11,862,686,542 | 10,776,667,873 |
| ۱۴ لمړنی څیړنی | 229,601,239 | 237,280,899 | 169,721,329 | 271,464,751 | 286,012,201 | 300,620,004 | 315,724,205 |
| ۱۶ عامه عمومی خدمتونه چی بل ځای کی طبقه بندی شوی نه دی | 500,662,704 | 483,338,978 | 768,654,400 | 780,438,219 | 823,636,272 | 869,296,302 | 917,561,896 |
| ۲ دفاع | 76,660,019,638 | 80,483,201,715 | 67,124,789,978 | 100,304,831,009 | 105,975,901,820 | 111,945,244,562 | 118,247,310,205 |
| ۲۱ نظامی دفاع | 58,798,112,045 | 62,218,042,773 | 47,538,509,841 | 78,840,354,009 | 83,338,775,660 | 88,095,219,929 | 93,126,939,173 |
| ۲۵ دفاع چی پل ځای کی طبقه بندی شوی نه دی | 17,861,907,593 | 18,265,158,942 | 19,586,280,137 | 21,464,477,000 | 22,637,126,160 | 23,850,024,633 | 25,120,371,032 |
| ۳ عامه نظم او مصونیت | 66,517,206,154 | 65,855,837,713 | 43,819,650,071 | 63,330,645,804 | 66,810,990,922 | 70,448,280,654 | 74,264,809,551 |
| ۳۱ دپولیسو خدمتونه | 57,163,593,443 | 56,032,940,899 | 37,433,869,825 | 55,332,800,025 | 58,379,021,269 | 61,576,916,210 | 64,937,431,700 |
| ۳۲ د اطفایی خدمتونه | 768,335,517 | 144,060,016 | 437,027,275 | 143,452,800 | 150,919,726 | 158,790,001 | 167,086,107 |
| ۳۳ محاکم | 6,985,145,770 | 7,216,106,051 | 5,948,752,971 | 7,854,392,979 | 8,281,049,927 | 8,712,574,442 | 9,160,291,743 |
| ۳۴ بندیخونی | 1,600,131,424 | 2,462,730,747 | | | | | |
| ٤ اقتصادی چاري | 67,259,690,942 | 60,127,060,003 | 55,147,344,772 | 67,850,533,538 | 66,904,211,645 | 62,511,036,021 | 56,322,970,568 |
| ٤۱ عمومی کاری چاري (انسانی خواک)، تجارتی او اقتصادی | 2,939,083,525 | 3,920,051,810 | 2,700,344,539 | 3,329,110,324 | 3,373,145,432 | 3,319,734,568 | 3,217,729,362 |
| ٤۲ کرنه، د ځنګلونو پالنه، ماهیګیری او ښکار | 15,996,260,340 | 15,593,741,380 | 11,199,244,893 | 15,775,667,030 | 15,604,428,094 | 14,667,673,716 | 13,333,568,307 |
| ٤۳ د سوند توکي او انرژی | 11,511,300,584 | 8,722,993,422 | 7,711,499,966 | 15,384,957,612 | 15,064,388,752 | 13,878,039,369 | 12,238,349,143 |

| د فعالیتونو/ وظایفو پر بنسټ لګښتونه | ۱۳۹٦ لګښتونه | ۱۳۹۷ اصلي بودجه | ۱۳۹۷ حقیقی تر دی نیتی | ۱۳۹۸ بودجوي کال | ۱۳۹۹ وړاند وینه | ۱٤۰۰ وړاند وینه | ۱٤۰۱ وړاند وینه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ٤٤ د کانونو کیندل، صنعتی او ساختمانی | 634,310,669 | 580,008,279 | 434,886,944 | 1,063,209,754 | 1,072,436,522 | 1,046,816,883 | 1,003,615,876 |
| ٤٥ ترانسپورتی | 28,412,211,766 | 25,685,076,640 | 22,766,800,779 | 23,733,944,389 | 23,345,394,544 | 21,708,805,857 | 19,420,810,399 |
| ٤٦ مخابرات وتکنالوژی | 1,805,269,346 | 2,303,647,472 | 1,391,949,991 | 4,361,945,000 | 4,315,300,623 | 4,058,260,853 | 3,692,000,564 |
| ٤٧ نور صنایع | 5,266,720,095 | 2,308,740,796 | 8,571,398,077 | 3,721,148,980 | 3,641,153,495 | 3,349,878,002 | 2,947,915,518 |
| ٤٨ په اقتصادی چارو کې پراختیا او څیړنه | 694,534,617 | 1,012,800,204 | 371,219,583 | 480,550,448 | 487,964,183 | 481,826,773 | 468,981,399 |
| ٥ د چاپیریال مصؤنیت (ساتنه) | 1,372,874,195 | 661,946,416 | 440,392,660 | 491,207,391 | 499,136,726 | 493,658,250 | 481,556,529 |
| ٥١ د کثافاتو (زباله ها) مدیریت | | 6,700,000 | | 20,000,000 | 19,570,000 | 18,004,400 | 15,843,872 |
| ٥٣ د ککړتیا کمښت | 26,136,400 | 6,790,771 | 4,535,319 | 7,155,034 | 7,543,429 | 7,953,572 | 8,386,713 |
| ٥٤ د ځمکی د طبیعی او بیولوژیکی تنوع ساتنه | 1,257,668,303 | 505,315,241 | 366,859,588 | 322,580,879 | 327,695,526 | 323,895,675 | 315,689,262 |
| ٥٦ چاپیریال ساتنه چی په بل ځای که طبقه بندی شوی نه دی | 89,069,492 | 143,140,404 | 68,997,753 | 141,471,478 | 144,327,771 | 143,804,602 | 141,636,682 |
| ٦ د هستوګنځی جوړونه او ټولنیز جوړښت | 7,915,388,018 | 8,314,306,464 | 4,744,871,500 | 8,279,333,663 | 8,131,911,781 | 7,538,639,808 | 6,712,444,195 |
| ٦١ د هستوګنځی پراختیا | 2,166,971,397 | 1,485,395,341 | 1,248,740,199 | 354,729,816 | 348,616,589 | 323,543,637 | 288,570,761 |
| ٦٢ ټولنیز پراختیا | 4,615,246,871 | 3,323,116,984 | 1,753,175,011 | 4,626,011,358 | 4,534,107,438 | 4,185,792,891 | 3,703,295,356 |
| ٦٣ د اوبو تامینول | 180,747,035 | 620,236,340 | 301,817,585 | 536,133,912 | 524,676,768 | 482,844,139 | 425,099,073 |
| ٦٦ هستوګنځی او ټولنیز جوړښت چی بل ځای کی طبقه بندی شوی نه وی | 952,422,715 | 2,885,557,799 | 1,441,138,705 | 2,762,458,577 | 2,724,510,985 | 2,546,459,142 | 2,295,479,005 |
| ۷ روغتیا | 18,760,338,027 | 15,038,486,413 | 15,371,886,940 | 17,365,523,313 | 17,307,577,454 | 16,513,590,303 | 15,340,669,693 |
| ۷۲ غیربستری ناروغانو ته خدمتونه (سراپا) | 12,448,710,005 | 9,572,368,659 | 10,810,583,994 | 11,268,758,940 | 11,131,433,419 | 10,433,573,070 | 9,444,464,686 |
| ۷۳ روغتیای خدمتونه | 798,886,513 | 762,385,351 | 717,698,053 | 726,989,325 | 711,359,054 | 654,450,330 | 575,916,291 |
| ۷٤ عمومی روغتیای خدمتونه | 162,103,054 | 227,468,013 | 142,254,308 | 164,592,705 | 167,945,354 | 167,582,144 | 165,409,644 |

| د فعالیتونو/وظایفو پر بنسټ لګښتونه | ۱۳۹۶ لګښتونه | ۱۳۹۷ اصلي بودجه | ۱۳۹۷ حقیقی تر دی نیتی | ۱۳۹۸ بودجوي کال | ۱۳۹۹ وړاند وینه | ۱۴۰۰ وړاند وینه | ۱۴۰۱ وړاند وینه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۷۶ روغتیای خدمتونه چی بل ځای کی طبقه بندی شوی نه وی | 5,350,638,455 | 4,476,264,390 | 3,701,350,585 | 5,205,182,344 | 5,296,839,627 | 5,257,984,759 | 5,154,879,073 |
| ۸ بیا پیداینبت (خلق مجدد) ، فرهنګ او دین | 3,065,973,412 | 3,108,177,534 | 2,102,630,636 | 3,272,592,679 | 3,389,499,243 | 3,467,761,551 | 3,529,801,974 |
| ۸۱ بیا پیداینبت (خلق مجدد) ، دخدماتو حمایه کول | 395,153,084 | 378,280,961 | 196,709,058 | 379,128,478 | 390,284,946 | 396,640,547 | 400,820,420 |
| ۸۲ فرهنګی خدمتونه | 348,248,556 | 329,864,262 | 173,974,175 | 356,751,341 | 359,003,113 | 348,665,871 | 331,952,858 |
| ۸۳ خپارندوی او چاپی خدمتونه | 749,396,293 | 691,735,478 | 553,715,878 | 708,564,858 | 737,063,996 | 759,884,900 | 780,661,458 |
| ۸٤ دینی او نور ټولنیز خدمتونه | 1,568,324,468 | 1,691,927,934 | 1,171,293,411 | 1,826,593,002 | 1,901,625,621 | 1,961,170,390 | 2,015,135,378 |
| ۸۵ په بیا پیداینبت (خلق مجدد)، فرهنګی او دینی برخو کی پراختیا او څیړنه | 4,851,011 | 16,368,899 | 6,938,114 | 1,555,000 | 1,521,567 | 1,399,842 | 1,231,861 |
| ۹ ښوونې او روزنې | 46,303,337,459 | 51,470,183,116 | 35,339,299,462 | 50,656,109,859 | 53,507,438,410 | 55,754,852,042 | 57,973,621,937 |
| ۹۱ ابتداییه دوری نه مخکی او په ابتداییه دوره کې ښوونې او روزنې | 21,353,307,288 | 24,054,234,316 | 17,369,057,423 | 22,278,327,491 | 23,492,191,617 | 24,710,223,420 | 25,969,790,446 |
| ۹۲ د ثانوی دوری ښوونې او روزنې | 71,871,147 | 87,379,768 | 65,476,308 | 69,185,727 | 73,215,567 | 77,463,341 | 81,953,056 |
| ۹۳ ښوونې او روزنې - ۱۴ پاس | 254,582,168 | 207,692,944 | 124,364,920 | 191,586,108 | 200,131,572 | 207,300,088 | 214,041,308 |
| ۹٤ لوړ او نیمه لوړ زده کړی | 7,228,154,063 | 7,782,527,664 | 5,232,257,241 | 8,238,678,220 | 8,491,032,690 | 8,615,250,346 | 8,681,456,480 |
| ۹۵ هغه زده کړی چی درجه بندی شوی نه دی | 3,875,181,366 | 4,574,194,513 | 2,426,045,874 | 6,389,488,805 | 6,998,795,939 | 7,098,456,660 | 7,145,827,725 |
| ۹٦ ښوونې او روزنی لپاره ملاترکوونکی خدمتونه | 56,098,865 | 31,475,220 | 27,592,508 | 29,621,794 | 31,134,582 | 32,727,556 | 34,405,104 |
| ۹۷ د ښوونې او روزنی په برخه کی پراختیا او څیړنه | 952,804,272 | 566,094,888 | 388,348,631 | 582,873,104 | 615,967,870 | 650,830,997 | 687,648,825 |
| ۹۸ ښوونې او روزنې چی بل ځای کی طبقه بندی شوی نه وي | 12,511,338,290 | 14,166,583,803 | 9,706,156,557 | 12,876,348,610 | 13,604,968,574 | 14,362,599,635 | 15,158,498,994 |
| ۱۰ ټولنیز مصونیت | 23,226,205,801 | 24,794,714,855 | 23,745,547,882 | 15,083,175,626 | 21,535,343,603 | 22,975,001,369 | 24,508,127,479 |
| ۱۰۱ ناروغی او معلولیت | | 3,067,876,454 | 1,037,531,087 | | | | |
| ۱۰۲ د عمر لوړوالی | 5,904,542,137 | 19,467,061,513 | 9,384,232,633 | 5,942,973,404 | 8,439,315,993 | 9,015,190,696 | 9,628,939,130 |

| د فعالیتونو/ وظایفو پر بنسټ لګښتونه | ۱۳۹٦ | ۱۳۹۷ | ۱۳۹۷ | ۱۳۹۸ | ۱۳۹۹ | ۱٤۰۰ | ۱٤۰۱ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | لګښتونه | اصلي بودجه | حقیقی تر دی نیتی | بودجوي کال | وړاند وینه | وړاند وینه | وړاند وینه |
| ۱۰۳ پرځای پاته کسان (بازماندګان) | 2,160,086,690 | | 1,014,151,566 | | | | |
| ۱۰٤ کورني/ او ماشومان | 391,706,699 | 448,700,898 | 326,042,527 | 7,550,137,454 | 11,429,178,309 | 12,217,932,482 | 13,060,873,974 |
| ۱۰۵ اوسګارتیا | 13,612,869 | 16,028,904 | 6,719,623 | 31,537 | 33,405 | 35,385 | 37,482 |
| ۱۰۷ نور بی برخي ټولنیز چی طبقه بندی شوی نه وی | 257,598,028 | 162,825,871 | 76,004,333 | 137,039,892 | 137,044,898 | 131,637,339 | 123,455,135 |
| ۱۰۸ په ټولنیز مصونیت برخه کی پراختیا او څیړنه | 10,963,458 | | 6,061,211 | | | | |
| ۱۰۹ ټولنیز مصونیت چی بل ځای کی طبقه بندی شوی نه وی | 14,487,695,920 | 1,632,221,215 | 11,894,804,902 | 1,452,993,338 | 1,529,770,997 | 1,610,205,467 | 1,694,821,759 |
| ۹۹ نه تخصیص شوی | | 23,667,165,148 | | 18,012,056,285 | 16,420,305,030 | 16,295,200,024 | 16,338,191,700 |
| ۹۹۹ نه تخصیص شوی | | 23,667,165,148 | | 18,012,056,285 | 16,420,305,030 | 16,295,200,024 | 16,338,191,700 |

# مالي ګواښونه

## عمومي مالي ګواښونه

د 1398 کال په بودجه کې د راتلونکو څو کلونو اټکلونه هغه انګیرنې (فرضیات) او قضاوتونه په بر کې نیسي- چې د بودجې د جوړونې پر مهال تر ټولو مؤثقو معلوماتو پر بنسټ ترلاسه شوي دي. یو لړ عوامل کولای شي چې په راتلونکو کې د حقیقي بودجې پایلو باندې اغیزه ولري. د دغو عواملو څرګندول به د مالي اټکلونو روښتیا لا هم زیاته کړي.

هغه پیښې کوم چې کولای شي مالي پایلې اغیزمنې کړي، په لاندې ډول دي:

- په اقتصاد او نورو پارامترونو کې بدلون، په ځانګړي ډول نړیوال اقتصادي پراختیا کې؛
- هغه موارد چې د وخت، اندازې او احتمالاتو له کبله په مالي وړاندوینو کې په پام کې نه دي نیول شوي؛ او
- د احتمالي شتمنیو او مقروضیتونو تحقق.

## امنیت

په افغانستان کې روانه شخړه، بودجه له ډیرو خطرونو سره مخامخ کوي. شخړې په پانګې اچونې، لګښتونو، په تولید کې ګډون او اقتصادي ودې باندې منفي اغیزه کوي. د شخړو هر ډول پراختیا کولای شي چې پر ودې منفي اغیزه ولري او د عوایدو د کمښت لامل وګرځي. د بدیل په توګه، د شخړو کمښت کولای شي چې د اقتصادي فعالیتونو د زیاتیدو او د عوایدو د ښه والي لامل وګرځي. په شخړو کې د زیربناوو د تخریب له لارې او یا د امنیتي لګښتونو له لارې، د پانګې اچونې لګښت هم زیاتوالی مومي.

له دې سربیره، د افغانستان د امنیت د تمویل یوه لویه برخه له ملي بودجې څخه بهر د غوڅ ملاتړ ماموریت لخوا برابریږي. غوڅ ملاتړ یو نړیوال ماموریت دی چې پر بنسټ یې بهرنیو حکومتونو پالیسیو څخه چې د افغانستان د حکومت مستقیم کنټرول نه بهر دي، متابعت کوي. که چیرې د غوڅ ملاتړ ماموریت لخوا د تمویل سرچینې د پام وړ کمښت سره مخامخ شي، نو دا به هرومرو د افغان امنیتي ځواکونو ظرفیت باندې مستقیمه او ځانګړې اغیزه واچوي. د افغانستان حکومت او نړیوالو ملګرو یې په دې توافق کړی چې تر 2024 کال پورې به افغانستان په خپله امنیتي لګښتونه له کورنیو عوایدو څخه تامین کړي. دې موخې ته رسیدل پر یو لړ عواملو مشروط دی چې کولای شي پر ملي بودجه او د حکومت د عادي بودجې پر توازن باندې ځانګړی فشار واچوي.

## داخلي بېځایه شوي وګړي او د کډوالو بېرته ستنیدنه

د تیرو لسیزو د شخړو او سیاسي بې ثباتي له پایلو څخه یوه یې د خلکو کډوال کیدل (مهاجرت) او له اصلي ځایونو څخه بې ځایه کیدل دي. له دې سربیره، طبیعي پیښې لکه سیلاب، د ځمکې ښویدل او په ځانګړي ډول وچکالي د خلکو د بېځایه کیدو اصلي لاملونه ګڼل کیږي. د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو د کمیشنرۍ د رپوټونو پر بنسټ، افغان کډوال د کمیت له پلوه اوس هم په نړۍ کې دویم مقام لري او په ټوله کې افغان کډوال د نړۍ د ټولو کډوالو 13

سلنه تشکیلوي. دا د دې څرګندونه کوي چې د کډوالۍ اړوندې ستونزې د حکومت او نور بنسټونو چې پدې برخه کې کار کوي، جدي پاملرنې ته اړتیا لري.

سره له دې چې د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو عالي کمیشنرۍ (UNHCR) احصائیه راښیي چې د 2002 کال له مارچ څخه د 2018 کال تر سپټمبر پورې ۵.۲ میلیونه افغانان بیرته هیواد ته ستانه شوي دي مګر د کډوالو او بیرته ستنیدونکو چارو وزارت د ارقامو پر بنسټ اوس هم له 6 میلیونو څخه زیات افغانان په مهاجرت کې ژوند کوي چې ډیرې یې په پاکستان او ایران کې میشت دي. په 1398 کال کې تمه کیږي چې شاوخوا 700 زره افغانان بیرته هیواد ته راستانه شي چې له دې څخه 600 زره یې له ایران او 100 زره به له پاکستان څخه بیرته راستانه شي. په راتلونکي کال کې به ډیرې بیرته راستنیدونکي له ایران څخه وي ځکه چې د نوموړي هیواد اقتصادي وضعیت د امریکا متحده ایالتونو د بندیزونو له امله ښایي خورا بد شي. دغه چاره کیدای شي ډیر کډوال هیواد ته په راستنیدو اړ کړي. همدا راز، له یوه پلوه په پاکستان کې د سیاسي رهبرۍ بدلون او د دې هیواد نوي سیاستونه او له بل پلوه د امنیت او ژوند نسبتاً ناوړه شرطونه کیدای شي د دې لامل وګرځي چې له پاکستان څخه لږ کډوال هیواد ته راستانه شي.

په ټولیز ډول، داسې نه معلومیږي چې دغه ستونزه به ژر تر ژه حل شي. له بل پلوه د نه ثبت شویو کډوالو په اړه د کره ارقامو او معلوماتو نشتون، دې ستونزې ته د رسیدګۍ لپاره وړاندوینې لاهم ستونزمنې کړې دي. که چیرې په هیواد کې شخړې ودریږي او د وچکالۍ او طبیعي پیښو سره د مبارزې اغیزمن پروګرامونه په ګټور ډول تطبیق شي، کیدای شي چې د بیرته ستنیدونکو تعداد ډیر شي مګر د دې برعکس د داخلي بیځایه شویو وګړو تعداد کیدای شي کم شي ځکه چې د وضعیت په برابریدو سره ښایي یو تعداد خلک بیرته خپلو کورونو ته ستانه شي او خپل عادي ژوند ته دوام ورکړي.

## د اقلیم بدلون او مالي ګواښونه

د اقلیم بدلون آسیایي هېوادونو په ځانګړي توګه افغانستان ته مهم ګواښونه پیښوي. دغه ګواښونه د کلنۍ زیاتېدوونکي تودوخي او فضایي شکلونو په بڼه کې د پسرلي په وربښتونو او ویلې کېدونکو واورو کې لیدل کېږي. دغه ګواښونه د مختلف توپوګرافي له امله یې د هېواد په ګڼو سیمو کې د وچکالۍ او سیلابونو لامل ګرځي. تمه کېږي چې اقلیمي بدلون څخه د افغانستان پراخ اغیزمنتیا، کلیوالي ژوندانه، د خوراکي موادو خوندیتوب او عمومي اقتصاد په جدي ډول اغیزمنه کړي. افغانستان پدې وروستیو کې د اقلیم بدلون عامه لګښت کتنه او د اقلیم بدلون تمویل نمونه یې چوکاټ (CPEIR+) خپور کړی دی چې دغه راپور په اقتصادي وده کې د اقلیم بدلون احتمالي اغیزه، د اقلیم بدلون اړوند اوسنی لګښت او د اقلیم بدلون د لګښت راتلونکي ګڼ شمېر سناریوګانې په پام کې نیولې دی. لومړی شکل چې د افغانستان د CPEIR له راپور څخه اخیستل شوی دی تر ۲۰۵۰ کاله پورې د سترو سرچینو د اقلیم بدلون زیانونه د افغانستان د ناخالصو کورنیو تولیداتو پر ودې ښیي. دغه شکل څرګندوي چې اغیزې پر کرنې او بشري روغتیا کولای شي د اقلیم بدلون له امله په اقتصادي وده کې د لوړې کموالي لامل شي.

**شکل ٦ (د زیانونو او تاوانونو سرچینې چې تر ۲۰۵۰ کاله پورې د ناخالصو کورنیو تولیدات اغیزمنه کوي)**




*سرچینه: په افغانستان کې د اقلیم بدلون اغیزې د پلان جوړونې او مالي چارو لپاره: د اقلیم بدلون عامه لګښت او بنسټیزه کتنه او د اقلیم بدلون تمویل نمونه یې چوکاټ، ۲۰۱۷*

له دې امله، دغه شکل پر راتلونکي اقتصاد باندې د اقلیم بدلون هغه اغیزې ښیي که چېرته موږ ورته محاسبه ونه لرو. د هېواد د ودې د متوسطې وړاندوینې سره سم، دغه چاره د افغانستان دولت لپاره د هغه په پراختیایي ستراتیژۍ کې د یو لوړ اهمیت ځای خپلوي. ***دغه د اقتصاد په مختلفو سکتورونو باندې د راتلونکي محافظه کارانه ودې او د هوسایني د پایلو، او د اقلیم بدلون اتکل شویو اغیزو ترمنځ مهمه اړیکه رانښیي.***

هغه عمومي مالي ګواښونه چې د اقلیم بدلون له امله رامنځته کېږي اوسمهال د تخمینولو وړ ندي او په ځوکلنو اټکلونو کې هم په پام کې نیول شوي ندي. مګر هر ډول مالي فشار چې د اقلیم بدلون لکه د وچکالۍ، زلزلې، ځمکې ښوېدنې، برف کوچ او سیلابونو له امله رامنځ ته کېږي باید له شته سرچینو څخه تمویل شي.

پدې موخه چې د اقلیم بدلون زیانونو او تاوانونو ته په فعاله توګه رسېدنه او له سترو مالي ګواښونو څخه مخنیوی وشي د مختلفو همکارو ادارو له لوري یو منظم اقدام ته د دولت تر رهبرۍ لاندې اړتیا لیدل کېږي ترڅو د دغو ستونزو د حل لپاره سرچینې او ظرفیتونه چمتو او بنسټیز اصلاحات وړاندې شي. د سترو پراختیایي پروګرامونو په پلان جوړونه او ډیزاین کې د اقلیم بدلون شاملول د ټولنې د قوت او انطباقي ظرفیت د ښه کولو لپاره په پراخه توګه باید په پام کې ونیول شي.

## وچکالي – د اقلیم بدلون په برخه کې ورروستۍ شاک/ضربه

وچکالي د هېواد ډېرې سیمې په جدي ډول اغیزمنه کړې ده؛ تمه کېږي چې په هر درې ولایتونو کې دوه ولایتونه به ناخوندي خوراکي موادو ستونزې سره مخ او مرستو ته اړتیا ولري. د واورې او ورښتونو لاندې اوسط (۷۰ سلنه کموالی) د اوبو سرچینو او سیندونو د اوبو د کموالي یا بشپړ وچوالي لامل ګرځېدلې دی.

وچکالي او د اوبو نشتون له هغو لاملونو څخه دي چې د ژمني کرنې او د هغه محصولات ورځخه اغیزمن شوي او تمه کېږي ۲۰۱۸ تر پسرلي او وړې دوام وکړي. د ټیټ کرنیز موثروالي څخه پرته، د کرنیزو محصولاتو نشتون هم څاروي لروونکي او شپانه لکه کوچیان له هغه ځایه چې څړځایونه وچ یا تږي دي اغیزمن کړي دي. په ورته وخت کې کرنیز

کاري فرصتونه او معاشات د سیمه ییزو کارګرانو د کډوالۍ له کبله زښت کم شوي. دغه لاملونه په ګډه د ګڼو خلکو لپاره د خوراکي موادو د ناخوندیتوب او د عوایدو د کمېدو لامل ګرځي.

وروستي ارقام ښیي چې د هېواد په کچه نیږدې ۱،۹ میلیونه خلک له جدي وچکالیو څخه په ۲۰ ولایتونو لکه بلخ، فاریاب، جوزجان، سمنګان، ډایکنډي، سرپل، بدخشان، بغلان، کندز، تخار، نورستان، بادغیس، فراه، غور، هرات، هلمند، کندهار، نیمروز، ارزګان او زابل کې اغیزمن شوي دي. پدې برخه کې حکومت اړ دی ترڅو د وچکالۍ سره د مبارزې پر یوه کڅوړه د مرستندویانو د ټولنې سره یوځای کار وکړي ترڅو د خوراکي موادو او خواړه، اوبو رسونې او د اوبو پاکوالی، بېړنیو پناه ځایونو او غیرخوراکي توکو د برابرولو په برخو کې مرسته وکړي. که څه هم دولت له خورا کمو منابعو څخه برخمن دی، بیاهم ژمنه لري ترڅو په دغو برخو کې پانګونه وکړي څو له دی لارې د افغانستان اغیزمنو خلکو ته مرستې وړاندې شي. د ۲۰۱۸ او راتلونکو کلونو د وچکالۍ سره د مبارزې عمومي اړتیاوې لاتراوسه مشخصې ندي، خو د مرستندویانو د پام وړ مرستو څخه وروسته هم حکومت اړ دی ترڅو د وچکالۍ سره د مبارزې لپاره بودجه جوړونه وکړي چې دغه کار له پخوا محدود شوي منابعو پر بکسې به لاډېر فشار وارد کړي.

## دولتي تصدۍ

دولتي تصدۍ او شرکتونه په هېواد کې د وروستیو بدلونونو برعکس په مختلفو کچو کې خپلو کړنو او فعالیتونو ته دوام ورکړي دي. دغه تصدۍ د انرژۍ، کانونو، امنیت، تولیدات، توریزم، ټرانسپورټ، اوبو، سوداګرۍ، مخابرات، بیمه او صنعت په برخو کې فعالیت لري. په ټوله کې ۳۵ دولتي تصدۍ، ۱٦ دولتي شرکتونه او ۳ دولتي سوداګریز بانکونه د نوي کابل بانک په ګډون په هېواد کې فعالیت لري. د دولتي تصدي ګانو، شرکتونو او دولتي سوداګریزو بانکونو فعالیتونه، هریو د خپلو اړوندو قوانینو او اساسنامو پربنسټ سمبالېږي.

### د مالي موقف په اړه معلومات

د هرې تصدۍ مالي وضعیت توپیر لري. مګر په ټوله کې دغه تصدي ګاني په دریو ګروپونو کې وېشل کېږي:

الف، هغه تصدۍ چې ګټه/مفاد لري؛

ب، هغه تصدۍ کوم چې کولای شي خپل لګښتونه یوازې د خپلو عوایدو له لارې تامین کړي؛

ج، هغه تصدۍ کوم چې غیراساسي عواید لري یا فعالیت نلري.

له پورتنۍ ډلې څخه ۱۰ تصدۍ مفاد لروونکي دي او پاتې نور د (ب) او (ج) په کتګوریو کې شامله دي. د دې په څنګ کې چې ځینې تصدۍ کافي عواید نلري، د حکومت لپاره فرصتي مصارف رامنځ ته کوي. که چېرته د دوی د برخلیک په اړه اړین ګامونه وانخیستل شي، د بیارغونې لپاره یې راتلونکي مصارف به څوچنده زیات وي؛ پدغو برخو کې پانګونه ښایي دولت له جدي مالي فشارونو سره مخ کړي.

ګڼ شمېر دولتي تصدۍ د ټیټ ظرفیت له امله نشي کولای خپل بیلانس شیټونه پروخت وسپاري. دغه چاره لامل کېږي څو اړین معلومات او هراړخیز مالي تحلیلونه په ټاکلي وخت کې ترلاسه نشي. دغه وضعیت ته په کتنې سره، د دغو تصدي ګانو د فعالیت دوام په هغه حالت کې چې د هغوی د مالي وضعیت په هکله سم انځور شتون ونلري، کولای شي

جدي مالي گواښونه پېښ کړي. له بله پلوه، دغه موضوع د دې لامل شوې چې پدې برخه کې مالي گواښونه نامعینه او د اندازه کولو وړ نه وي.

## د دولتي تصدي گانو او شرکتونو له اجرااتو څخه څارنه

له بلخوا، ځېنې دولتي شرکتونه او سوداگريز بانکونه خپل بېلانس شيټونه يا نور مالي معلومات په اړينه توگه د دولتي تصدي گانو لوی رياست سره نه شريکوي. دغه ستونزه تر ډېره له يوې قانوني تشې څخه سرچينه اخلي؛ اوسمهال د دولتي تصدي گانو لوی رياست د دولتي شرکتونو د قانون مسوده وروستي کړې او د هغه د پراوونو پر بشپړولو اخته دی. د دغه قانون په نافذېدو سره به دولتي شرکتونه او دولتي سوداگريز بانکونه اړ شي څو د تصدي گانو لوی رياست ته راپور ورکونه ولري او ټول هغه خنډونه چې په تېره کې دغو شرکتونو څارنه محدودول، به له منځه ولاړ شي.

که څه هم حکومت له تصدي گانو او دولتي شرکتونو څخه په مختلفو بڼو کې لکه د پورونو تضمين، مالياتي لگښتونو امتياز ورکونه، سبسايدي گانې او د پانگو بيارارټولونه ملاتړ کړی دی، تحليلي مالي معلومات له احتمالي راټول شويو پورونو څخه په سيستماتيکه توگه راټول شوي ندي. په ۱۳۹۷ کال کې حکومت د دولتي تصدي گانو رياست، د تصدي گانو او دولتي شرکتونو لوی رياست ته ارتقا ورکړه؛ مگر د ظرفيت جوړونې او يو اغيزمن څارنيز سيستم جوړولو بهير چې وکولای شي د تصدي گانو او دولتي شرکتونو اغيزمنتوب تضمين کړي، وخت او هراړخيزو مرستو لکه بشري سرچينو، تخنيکي ملاتړ او د قوانينو اصلاح يا طرحې ته اړتيا لري.

اوسمهال د تصدي گانو قانون مسوده د طی مراحل په حال کې دی او پدغه قانون کې د پيشنهاد شويو بدلونونو پربنسټ تمه کېږي چې تصدي گانې په مارکيټ کې ښې کړنې ولري او خپل عوايد ترټولو لوړ پړاو ته ورسوي. د يادونې ده چې د دغه قانون تصويب او تطبيق هم تر يو بريده وخت ته اړتيا لري او نشو کولای تمه وکړو چې ټول شته ستونزې به د دغه قانون په تصويب سره حل شي.
د دولتي شرکتونو قانون هم تر کار لاندې دی چې د دغو شرکتونو له فعاليتونو څخه د يوې قوي څارنې لپاره د حقوقي چوکاټ جوړولو په برخه کې له پراخ اهميت څخه برخمن دی. دغه قانون کولای شي د يو منظم څارنيز سيستم جوړولو او د مالي خطراتو ترټولو ټيټې کچې ته رسولو لپاره کولای شي گټور ووسي.

## تقاعد

حکومت د ملکي خدمتونو کارکوونکو د تقاعد د هغو عمده مقروضيتونو راټولولو په حال کې دی چې په پوره توگه د لگښتونو منځمهاله مالي چوکاټ او د راتلونکو کلونو په اټکلونو کې په پام کې نه دي نيول شوي. د ملکي کارکوونکو د تقاعد اوسنی سيستم، د تقاعد په وخت کې د عايداتو کچه د خدمت د کلونو او وروستي معاش پر بنسټ وړاندې کوي.

تقاعد په لاندې ډول محاسبه کيږي:

- تر ۱۰ کاله خدمت وروسته، په منځنۍ کچه د کارکوونکي د وروستيو دريو کلونو معاش ۴۰ سلنه د تقاعد د ورکړې وړ گڼل کيږي.
- د يوې بلې مادې پر بنسټ، د خدمت د هر يو اضافي کال په مقابل کې به دوه سلنه ٪۲ اضافه ورکول کيږي.

- داوطلبو ملکي کارکوونکو ته کیدای شي په ٦٣ کلنۍ کې تقاعد ورکړ شي خو اجباري تقاعد په ٦٥ کلنۍ کې ورکول کیږي.

- د نظامیانو تقاعد له پورته اصل سره توپیر لري:

- د کارکوونکي د تقاعد برخه د هغه د معاش د ۲.۳۵ سلنه برخې په تناسب د خدمت د هر یو کال په مقابل کې له لومړي کال نه په پیل ورکول کیږي.
- نظامي کارکوونکي کولای شي چې د ۵۲ او ۷۰ کلنۍ تر منځ د رتبې او خدمت د کلونو پر اساس تقاعد وکړي.

اوس مهال، حکومت د یو کارکوونکي د یو کال معاش ۸ سلنه د هغه د تقاعد لپاره ورکوي او هر کال د نوموړي کارکوونکي له معاش څخه ۸ سلنه د تقاعد د ونډې په توګه کموي. د نظامیانو لپاره، حکومت په کال کې ۱۱ سلنه ونډه ورکوي او د کارکوونکي له معاش نه هر کال ۵ سلنه ونډه کموي. اوسمهال د ملکي کارکوونکو او نظامیانو په هکله د حکومت ونډه ۱۰۰ سلنه تمویل شوې نه ده. په دې مانا چې حکومت د تقاعد حقونو د ورکړې پر مهال هیڅ ذخیره نلري او په هر کال کې یې له عادي سرچینو څخه ورکوي. د دې تر څنګ اوس حکومت د کارکوونکو ونډې چې هر کال د هغوی له معاشاتو اخیستل کیږي، نه ساتي او له هغو څخه د رسیدونو په توګه د هر مالي کال د عادي ورکړې لپاره کار اخلي.

په پایله کې، حکومت د یو لوی مقروضیت راجوړولو په حال کې دی چې د تمویل لپاره یې هیڅ ذخیره نلري او د اوسنیو او راتلونکو نا تمویل شویو تقاعدي مقروضیتونو په هکله دقیق اټکل نلري.

## د عامه سکتور د تقاعد د سیستمونو پارامتریک اصلاح

د تقاعد ښه سیستمونه د لاندې اصولو درلودنکي وي: (1) د ډیرو کټو یا مزایاو ورکړه (2) د وړتیا او اقتصاد چوکاټ (3) له مالي پلوه ثابت، (4) اداري اغیزمنتیا، او (5) اقتصاد د بازار او د کار د بازار نه پرځیدل. د تقاعد ښه سیستمونه د کاري ځواک لپاره یوه ستره ونډه، یا لږ تر لږه یوه زیاتیدونکې او یوشان ونډه تشکیلوي.

له بل پلوه، د تقاعد دوه اوسني سیستمونه د کاري ځواک یواځې شاوخوا 7.5 سلنه تشکیلوي او هغه افراد پکې شاملیږي چې په عامه سکتور کې نسبتاً په لوړو بستونو او ثابتو دندو کې کار کوي او په احتمال سره 55 سلنه هغه نفوس سره هم تړاو نلري چې د بیوزلۍ تر خط لاندې ژوند کوي. د تقاعد دغه سیستمونه چې ډیر لږ شی تر پوښښ لاندې نیسي- په ناوړه او ناپایداره مالي مسیر کې قرار لري، دغه سیستم په چټکۍ سره مخ پر زیاتیدو دی ځکه چې د کورنیو ناخالصه تولیداتو له 0.5 سلنې څخه تر 0.6 سلنې پورې د تقاعد په برخه کې لګول کیږي او هغه هم په داسې یو هیواد کې چې د کورنیو عوایدو مجموع یې د کورنیو ناخالصه تولیداتو 12.3 سلنه تشکیلوي. په پایله کې د تقاعد اوسني سیستمونه (د شهیدانو او معلولینو د امتیازونو او مرستو د سیستم په ګډون) له وړاندې څخه د بیوزلو او آسیب پذیره خلکو د ټولنیزو لګښتونو اجراآت اغیزمن کړي دي. په دې وروستیو کې د تحصیلي امتیازونو د ځانګړي زیاتوالي او د تقاعد په حقونو کې د ډیروالي د محاسبې پرته چې د تقاعد د بودجې د دروندوالي لامل شوی دی، د تقاعد کلنی لګښت له 14 څخه تر 16 سلنې پورې زیاتوالی مومي هغه هم په داسې یو چاپیریال کې چې 5 سلنه تورم شتون لري. د تقاعد سیستم یو اوږد مهاله مالي طرحه وي. دغه سیستم باید د کلني لږ خطرلرونکي بیلانس او د ډیموګرافیک د کچې سره د تړاو پر بنسټ تر

قضاوت لاندې رانشي. د دې پر ځای، باید دې ته پاملرنه وشي چې د څېړنو اصلاحاتو پرته، د تقاعد اسمي لګښتونه به په 5 کلونو کې دو برابره، په 8 کلونو کې درې برابره، په 10 کلونو کې څلور برابره شي لکه څنګه چې په 2018 کال کې ده.

د دې سیستم په تطبیق سره د تقاعد د سیستم په برخه کې ستونزې لاهم زیاتیږي. په داسې حال کې چې په کابل کې د تقاعد د معلوماتو د مدیریت سیستم معرفي کول او هغه ولایتونو ته غځول د یو ژوندي شخص بانکي حساب ته د تقاعد د ګټو په لیږدولو او د بایومتریک د تصدیق په برخه کې د غلطیو، درغلیو او فساد کچه کموي، د تقاعد د ادارو اوسنی وضعیت داسې دی چې د تقاعد د قوانینو او مقرراتو له حکمونو څخه لرې فعالیت کوي. په بل عبارت سره، د تقاعد اوسني سیستمونه مشارکتي سیستمونه دي چې پر مطابق یې کارکوونکي (لکه د ملکي خدمتونو کارکوونکي او د امنیتي ځواکونو پرسونل) او کار ورکوونکي (لکه دولت) مکلف شوي دي چې خپلې ونډې د مزد په تناسب ورکړي. له دغه ونډې څخه د تقاعد د اوسنیو لګښتونو د ورکړې او د تقاعد د راتلونکو مقروضیتونو د ورکړې لپاره د ذخیرو جوړلو په موخه استفاده کیږي. مګر د امتیازونو راټولول او د تقاعد د سیستم د ذخیرې د ریزرف ځانګړتیاوې په افغانستان کې نه پلي کیږي؛ ځکه چې د عامه تقاعد داسې یو نهاد شتون نلري چې وکولای شي د بودجې له کلني فعالیت څخه د تقاعد اوږدمهال سیستم تطبیق جلا کړي. په حقیقت کې د تقاعد د ونډې لپاره د معاشونو کسر (که اوسمهال د بودجې د عواید په توګه تنظیمیږي) د وجوه واقعي جریان پرته په سیستم کې درج کیږي او دولت هم د تقاعد د قوانینو او مقرراتو مطابق د مزد په تناسب (یا له هغې څخه کمې) ونډې ورکولو په وړاندې خپل مکلفیت نه اجراء کوي. د تقاعد د مقروضیتونو له څېړنې تجمع یا تراکم څخه ولاړ راتلونکو مالي ضررونو د کموالي لپاره هیڅ ډول سیستم شتون نلري.

په دې توګه، د 2018 کال د اپریل په میاشت کې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د تقاعد یو لړ پارامتریک اصلاحاتو په اړه پریکړه وکړه چې بنسټیزه موخه یې د مالي ثبات او استطاعت ښه والی دی. د تقاعد د ګټو د سیستمونو د برخې په اصلاحي اقداماتو کې لاندې موارد شاملیږي: (1) د تقاعد د میزان ضریب تعدیلولو (د خدمت په یو کال کې د تقاعد څومره لګښت به لاسته راوړي)، (2) د کارکوونکي د ونډې د میزان زیاتول، (3) د مزد د محاسبې لپاره له تقاعد څخه وړاندې د مزد د اوسط دوره زیاتول، (4) د ژوندي شخص لپاره د تقاعد د ګټو لپاره د عمر حد ټاکل. د تقاعد د ګټو په فورمول کې بدلون به د اشخاصو د تقاعد پر ګټو باندې اغیزه ولري چې د اصلاحاتو له تصویب څخه وروسته تقاعد کیږي.

د تقاعد د حقونو په برخه کې یو مناسب امتیاز د مالي ثبات د ښه والي سره یوځای تصویب شوی چې پر بنسټ یې د تقاعد د حقونو یو اتومات شاخص معرفي کیږي. دغه موضوع د یو متقاعد د عمر په اوږدو کې د تقاعد د حقونو اخیستلو ځواک حفظ کوي. په دې توګه د تقاعد لګښت په اتومات ډول د تورم د شاخص په تطبیقولو سره د 10 کلونو لپاره په کال کې 1.5 سلنه زیاتوالی مومي.

همدا راز کابینې دا هم تصویب کړې ترڅو د کلنی بودجې له دوران څخه د تقاعد د مالي چارو د سیستم جلا کولو په موخه د عامه تقاعد لپاره یو ځانګړی صندوق رامنځته کړي. د بیلګې په ډول، د متقاعدینو د مالي اړتیاوو د ورکړې لپاره د اوسنیو کارکوونکو د تقاعد ونډې راټولول باید د تقاعد ریاست ته انتقال شي. دغه اقدامات اوسمهال په نافذه قوانینو او مقرراتو کې د شامل کیدو په موخه د تصویب په حال کې دي. په همدې وخت کې، د اصلاحاتو لپاره لازیات اقدامات تر لاس لاندې دي چې پر بنسټ یې کیدای شي چې د عامه تقاعد صندوق تنظیم شي او د پانګې اچونې د مدیریت لپاره داسې لارې جوړې شي چې احتمالاً د صکوکو د وسایلو په کارولو سره دولت وکولای شي د عامه تقاعد صندوق ته د تقاعد د امتیازاتو د ورکولو پر مهال د نقدو پیسو په برخه کې د مالي ضرر مخنیوی وکړي.

## عامه او خصوصي مشارکت

د افغانستان حکومت عامه او خصوصي مشارکت ته خپل اقتصادي پالیسۍ په سر کې، د خدمتونو او فزیکي زیربنایي چارو د وړاندې کولو، د خصوصي سکتور تشبثي مهارتونو جلبولو، د عامه ملکیتونو او شتمنیو څخه د اغیزمنې ګټې اخیستنې او په خصوصي سکتور او بانکونو کې د موجودو پانګو څخه د ګټورې استفادې په موخه، ځای ورکړی دی. پورتنیو موخو ته د رسېدو لپاره د افغانستان اسلامي جموري دولت لاندې لاسته راوړنې لري:

د عامه او خصوصي مشارکت قانون د کابینې له لوري تصویب، د تقنیني فرمان پوسیله توشیح او په ۱۲۲۸ ګڼه رسمي جریده کې خپور او نافذ شوی دی. د مالیې وزارت، د عامه او خصوصي مشارکت قانون سره سم د دغه قانون حقوقي او اداري چوکاټ چمتو او د مشارکتي پروژو د پړاوونو د ترسره کولو چارې یې پیل کړې دي.

قانون، پالیسي، د مشارکت معیاري اسناد – د اهلیت د پخواني ارزونې د اطلاعیې په ګډون، د پیشنهاد د غوښتنې سند، د مشارکت د مودلونو قرارداد، فورمې او معیاري چک لستونه، د پروژې د تطبیق د مناسب والي د ارزونې او کاري لارښودونه چمتو او نهایي شوي او اړوند ادارات له هغه څخه ګټه اخلي.

د مشارکت اداري چوکاټ د عامه او خصوصي مشارکت قانون پربنسټ جوړ شوی دی، چې د مالیې وزارت په چوکاټ کې د مشارکت مرکزي څانګې او په اړوندو وزارتونو کې د پروژوي واحدونو جوړول په بر کې نیسي. د عامه او خصوصي مشارکت لوی ریاست د ۲۰۱۷ کال له منځ څخه راپدېخوا په بشپړه توګه په هېواد کې مشارکتي فعالیتونه رهبري کوي.

د مالیې وزارت د ظرفیتونو د لوړولو او د پوهاوی په موخه څه باندې څلوېښت کورنۍ او شپږ نړیوال پروګرامونه د دولت لوړپوړو چارواکو، متشبثینو، د پوهنتونونو استادانو، اکادمیسنونو، د مدني ټولنې غړو، رسنیو او نورو شکېلو غاړو لپاره برابر کړي. دېرش دولتي کارکونکي د مشارکت تصدیق پروګرام په اړه چې یو نړیوال پېژندل شوی پروګرام ده زده کړې کړې او خپلې تصدیق پاڼې د هغه په لومړي موديول کې ترلاسه کړي دي.

د عامه او خصوصي مشارکت پنځه کلن پلان د ټولو اړوندو خواوو سره په همغږۍ کې ترتیب شوی او په څنګ کې یې له ټولو اړوندو ادارو سره د عامه او خصوصي مشارکت لوی ریاست اړیکې جوړې کړې. همداراز د عامه او خصوصي مشارکت د بالقوه پروژو لیست چې شامل پر ۲۰۰ پروژې د مختلفو وزارتونو او ادارو کېږي، ترتیب شوی دی.

د اقتصاد عالي شورا له لوري د ۱۷ پروژو طرحه (د کابل ښار په ۱۲مه ناحیه او ۲۲مه ناحیه کې د اوبو رسونې شبکې جوړول، د جناح او جمهوریت روغتونونه، د برېښنایي جواز سیرو وېشل، کابل ښار کې د جامدو کثافاتو طرحه، د قیمتي ډبرو د بازار طرحه، د شبرغان له ګازو څخه د برېښنا تولید، د کجکی د برېښنا بند دوهم فاز، د کندهار لمریز برېښنا، هرات، مزار، کندز او کابل کې د ۵ مسلخونو جوړول، د باغدره برېښنا بند طرحه، د سروبي‌بند دوهم فاز، د نغلو او حصار شاهي لمریز برېښنا او د شیخ زاهد او وزیر اکبرخان په روغتونونو کې د تشخیصیه ماشین آلاتو د نصب طرحه) منظور شوی ده.

د اقتصاد عالي شورا لخوا د عامه او خصوصي مشارکت د ۱۳ پروژو د تطبیق د ممکنوالي او مالي مودل مطالعه، چې د مشارکت قانون سره سم د مشارکتي پروژو دوهم پړاو جوړوي، منظور شوی ده. هغه پروژې چې د ممکنوالي او مالي مودل مطالعه یې منظور شوي پدې ډول دي: د کجکي بند ۱۰۰ میګاواټه برېښنا، د شبرغان له ګازو څخه د ۹۰ میګاواټه برېښنا تولید (د غضنفر ګروپ او بیات پاور شرکت لخوا)، هرات، کندز، مزار او کابل کې ۵ مسلخونه، د باغدره د برېښنا بند طرحه، د سروبي دوهم فاز، د

نغلو او حصار شاهي لمريز برېښنا او د شيخ زاهد، وزير اکبرخان، جناح او جمهوريت په روغتونونو کې د تشخيصيه ماشين آلاتو نصب او په کندهار کې د ۳۰ ميګاواټه لمريز برېښنا توليد.

د ملي تدارکاتو کميسيون د عامه او خصوصي مشارکت قانون سره سم د انرژۍ د ۵ پروژو قراردادونه (د کجکي برېښنا بند دوهم فاز، د کندهار سولر او د شبرغانو ګاز) منظور کړي ده.

اړوندې اداري او د عامه او خصوصي مشارکت لوی رياست د ۵ پروژو تطبيق د ملي تدارکاتو د کميسيون پواسطه منظور کړي او قراردادونه يې د دولت او خصوصي شرکاؤو ترمنځ امضا شوي او عملاً د تطبيق چارې يې رواني دي.

## د عامه او خصوصي مشارکت د پروژو پر وړاندې ګواښونه او د دولت مستقيم او احتمالي ژمنې

د عامه او خصوصي مشارکت پروژو ماهيت ته په پام سره دغه پروژې تر ډېره اوږد مهاله وي چې ځينې وخت د بشپړېدو چارې يې لسيزې وخت نيسي. دولت د دوو اصلي لوريو(دولت او خصوصي سکتور) د يو په توګه د عامه او خصوصي مشارکت پروژو په تشخيص، چمتو کولو، تدارکاتو، تطبيق او څارنه کې عمده نقش لوبوي او په پروژو کې د عمده لوری په توګه، د عامه او خصوصي پروژو ژمنې پر غاړه لري، چې دغه ژمنې په لنډ مهاله او اوږد مهاله موده کې کولای شي دولت له مالي مسؤوليتونو او ګواښونو سره مخ کړي چې مستقيمو او احتمالي ژمنو باندې شامليږي. مستقيمې ژمنې هغه ژمنې دي چې وخت او اندازه يې د عامه او خصوصي مشارکت په قرارداد کې ذکر شوي وي. لکه د حمايتي وجوهو (Viability Gap Fund)، ليتر آف کريډت، ګمرکي معافيت، او نورو اړتياؤو وړاندې کول چې دولت له ځانګړو مسؤوليتونو سره په ټاکلي وخت کې مخ کوي. د دولتونو غيرمستقيمې ژمنې د پروژې د ګواښونو د کمولو په اړوند د دولت د ضمانتونو پر مختلفو ډولونو شامليږي چې د وزارتونو، بنسټونو، دولتي تصدي ګانو او شرکتونو د اجراآتو تضمين، د امنيتي ګواښونو تضمين، د پروژې د تطبيق کوونکي شرکت د پور (Partial Risk Guarantee) تضمين، د سياسي او غيرسياسي ناڅاپو پېښو پر وړاندې تضمين او د تضمينونو او ژمنو نور ډولونه په بر کې نيسي د هغو پروژو لپاره چې قرارداد يې بشپړ وي د دولت ژمنې په لاندې ډول دي:

## د شبرغان ګازي برېښنا پروژه

د جوزجان په ولايت کې د ۴۰ ميګاواټه ګازي برېښنا توليد دستګاه جوړېدل. د دغې پروژې د قرارداد وخت پنځه کاله دی چې د افغانستان دولت په دی اړوند لاندې مستقيمې او احتمالي ژمنې پر غاړه لري:

۱. **مستقيمې ژمنې**

ليتر آف کريډت او د سپما حساب مجموعاً ۱۵.۳۰۰.۰۰۰ (پنځلس اعشاريه درې ميليون) امريکايي ډالره، د پروژې تطبيق کوونکي شرکت ته د افغانستان برېښنا شرکت د تادياتو د تضمين په موخه.

۲. **غيرمستقيمې ژمنې**

- د برېښنا شرکت د نيمګړتياؤو او د سياسي ناڅاپه پېښې له امله د قرارداد د فسخې په صورت کې جبران خساره؛
- د غيرسياسي ناڅاپه پېښې د رامنځ ته کېدو له امله د برېښنا د خريداری قرارداد د فسخې په صورت کې جبران خساره؛

## د مزارشریف ګازي برېښنا پروژه

د مزارشریف په بلخ ولایت کې د ۵۰ میګاواټه ګازي برېښنا د تولید دستګاه جوړېدل؛ چې د افغانستان دولت مستقیمې او احتمالي ژمنې په دې اړوند په لاندې ډول دي:

### ۱. مستقیمې ژمنې

د مؤقتو تادیاتو تضمین د لیتر آف کریدت په بڼه کې د ۵ میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت د اوږد مهاله تادیاتو د تضمین تر چمتو کولو پورې.

### ۲. احتمالي ژمنې

- د تادیاتو تضمین د قرارداد تر ختمېدو پورې د لیتر آف کریدت په بڼه کې د ۱۰ میلیون امریکایي ډالرو په ارزښت چې د IDA بنسټ لخوا دی، وړاندې کېږي؛ یاد بنسټ له لورې د دغه تضمین د نه وړاندې کېدو په صورت کې، د افغانستان دولت دغه تضمین په غاړه لري.
- د افغانستان برېښنا شرکت د نیمګړتیاوو او د سیاسي ناڅاپه پېښې د رامنځ ته کېدو له امله د برېښنا د خریدارۍ قرارداد د خسارې جبران؛
- د ناڅاپه پېښې د رامنځ ته کېدو له امله د خسارې جبران

## د کندهار لمریزه برېښنا پروژه

د کندهار د لمریزه برېښنا د تولید دستګاه په کندهار ولایت کې د ۳۰ میګاواټه په ظرفیت جوړېږي چې د دولت مستقیمې او احتمالي ژمنې پدې اړوند په لاندې ډول دي:

### ۱. مستقیمې ژمنې

د پروژې د مالي خلا د ډکولو په موخه دوو تطبیق کوونکو شرکتونو ته د ۱۴ میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت د توافق شوي مهال وېش سره سم د حمایتي وجوهو وړاندې کول.

### ۲. احتمالي ژمنې

د افغانستان دولت د پروژې تطبیق کوونکو شرکتونو ته د ناڅاپه سیاسي او غیرسیاسي پېښو څخه د خسارې جبران مسؤولیت پر غاړه لري.

## د کجکی برېښنا بند دوهم فاز پروژه

د کجکی برېښنا بند دوهم فاز د ۱۰۰ میګاواټه لمریز برېښنا د تولید دستګاه په هلمند ولایت کې جوړېږي چې د دولت مستقیمې او احتمالي ژمنې پدې اړوند په لاندې ډول دي:

### ۱. احتمالي ژمنې

- د قرارداد تر ختمېدو د برېښنا شرکت د تادیاتو او ژمنو د تضمین لپاره د دولت د اجراآتو تضمین (Sovereign Gurantee)؛

- د سیاسي ناڅاپه پېښې د رامنځ ته کېدو له امله د قرارداد فسخې په صورت کې د خسارې جبران؛
- د ناڅاپه پېښې د رامنځ ته کېدو په صورت کې د خسارې جبران

# د بودجې د اجرا اصول

په دې برخه کې د بودجې د تطبیق اصول څرګندېږي.

## د بودجې د تطبیق حقوقي چوکاټ

۱. د عامه لګښتونو او مالي مدیریت قانون له ۳۷ مادې سره سم، ټول بودجوي واحدونه اړ دي څو خپلې بودجې د هغې د اجراء له اصولو سره سمې ولګوي. د اساسي قانون په استثنا له نورو نافذو قوانینو سره د هر ډول تناقض په صورت کې د بودجې د اجراء اصول د تطبیق وړ دي.

## د ملي بودجې د تطبیق لپاره اداري اړتیاوې

### عمومي حکمونه

۲. د ۱۳۹۸ مالي کال، د ۱۳۹۷ کال د جدي میاشتې له لومړۍ ورځې څخه پیل او د ۱۳۹۸ کال د قوس تر وروستۍ ورځې دوام کوي.

۳. د کابینې، پارلمان او جمهوري ریاست تر تصویب او توشیح وروسته، بودجه نهایي او ټول بودجوي واحدونه اړ دي څو له توشیح شوې بودجې سره سم خپل فعالیتونه ترسره کړي. د وزارتونو او خپلواکو ادارو په لګښتونو کې په کوډونو (باب) کې هېڅ ډول اضافي لګښت د مالیې وزارت د بودجې لوی ریاست له موافقې پرته د اجرا وړ ندی.

۴. بودجوي واحدونه اړ دي څو خپل تدارکاتي او مالي پلانونه د مالیې وزارت لخوا د لېږل شوي متحد المال له لارښوونې سره سم د مالي کال تر پیل وړاندې له تصویب شوې بودجې سره په مطابقت کې چمتو کړي. مالي پلانونه باید د میاشتې، د لګښتونو د کوډ او د ولایت پربنسټ د دواړو عملیاتي او پرمختیایي بودجو لپاره ترتیب او د بودجې لوی ریاست ته وسپارل شي او خپل لګښتونه د مالي او تدارکاتي پلان سره سم ترسره کړي.

۵. د تدارکاتو قانون د ۱۲ مادې له دویم بند سره سم، هیڅ ډول تدارکاتي فعالیت تر هغې نشي پیل کېدای څو عامه وجوه د عامه مالي لګښتونو د مدیریت له قانون سره سم نه وي تخصیص شوي. اما د کابینې لخوا د ۱۳۹۸ کال د بودجې تر تصویب وروسته بودجوي واحدونه کولای شي خپل تدارکاتي طرزالعملونه د وخت د سپمولو په موخه پیل کړي. قراردادونه د پارلمان د تصویب او د ولسمشر له لوري د بودجې تر توشیح وروسته لاسلیکېدلی شي.

۶. د اساسي قانون د ۴۲مې مادې او د مالي چارو او عامه لګښتونو قانون د ۲مې مادې سره سم د بودجوي واحدونو څخه د دولتي چارواکو هېڅ څوک (حقیقي یا حکمي) نشي کولای ملي عواید تصاحب، استفاده او وساتي یا په دولتي او خصوصي بانکونو (ولایتي او مرکزي څانګو) کې د مالیې وزارت د لیکي هوکړې څخه پرته د ملي عوایدو د راټولولو په موخه بانکي حسابات پرانیزي. همداراز، په بهر کې مېشت د افغانستان څانګې اړ دي ترڅو ترلاسه شوي عواید په ربعواره توګه هغه واحد حساب ته چې د مالیې وزارت لخوا ځانګړی شوی وي وسپاري او د اړوندو ادارو لګښتونه د ملي بودجې او د تخصیصونو د صدور له لارې اجرا کړي.

۷. مالیات، گمرکي محصول او عوارض، حق العبور او د پیسو اړوند او مالي نور التزامات چې د نفتي موادو او د هغه مشتقاتو لکه پطرول، ډیزل، گاز، خام تیل او نورو له تورید او صدور څخه لاسته راځي، د اړوندو تقنیني اسنادو سره سم تادیه کېږي؛ مگر دا چې د هغوی تادیه د قانون او موجوده توافق لیکونو سره سم معاف وي.

۸. د بودجې د اجرا اصول چې د بودجې د سند سره یوځای د ولسي جرگې له لوري تصویبېږي د قانون حیثیت لري او له هغه سره په ټکر کې اجراآت د قانون څخه سرغړونه گڼل کېږي.

۹. د عادي بودجې په جدول کې د ټولگټو، مالیه، کار او ټولنیزو چارو، حج او معلولیت لرونکو او د شهیدانو د پاتې کسانو څخه د ملاتړ وزارتونو او ادارو او د جمهوري ریاست د چارو ادارې لپاره د عملیاتي لگښتونو څخه پې پرته د هرې ادارې لاندې نور مصرفي موارد هم په پام کې نیول شوي. دغه وجوه یوازې د ځانگړو مواردو لپاره چې د عادي بودجې په جدول کې راغلي د مصرف وړ دي. اړوندې ادارې په هیڅ صورت کې نشي کولای له هغه څخه د نورو موخو لپاره گټه پورته کړي.

## بدلونونه او تعدیلات

۱۰. تعدیلات له یو باب څخه بل باب ته د مالیې وزارت صلاحیت دی. قراردادونه او نورې پیرودنې د تصویب شوې بودجې او د بودجوي فصولو له حدودو سره سم باید تنظیم شي. هیڅ بودجوي واحد نشي کولای په عادي بودجه کې د اجناسو او خدمتونو هغه قراردادونه لاسلیک کړي چې د تصویب شوې بودجې تر محدودې زیات وي؛ او په څو کلنو اختیاري پراختیایي پروژو کې او یا په هغه صورت کې چې د قرارداد قیمت له منظور شوي بودجه څخه زیات وي، د مالیې وزارت لیکلې هوکړه حتمي ده.

11. د ۱۳۹۸ مالي کال عادي بودجه د هر باب له جزییاتو سره محاسبه کېږي. بودجوي واحدونه اړ دي ترڅو د هرباب په محدوده کې مصارف رعایت کړي. د تېرو کلونو طلبات او باقیات د ۱۳۹۸ مالي کال له بودجې څخه د اجرا وړ ندي؛ مگر دا چې خپل پخواني لیکلي موافقې تر ارزونې او تحلیل وروسته پدې اړوند نظر ورکړي. له دې امله، ټول بودجوي واحدونه اړ دي ترڅو خپل تدارکات، د توکو او خدمتونو د برابرولو قرارداد او ټولو طلباتو تادیه په هماغه مالي کال په ترڅ کې پروخت ترسره کړي.

۱۲. د ۱۳۹۸ مالي کال په بودجه کې لاندې فصول نورو فصولو ته د تعدیل وړ ندي:

الف. معاشات (د ملي دفاع وزارت، د کورنیو چارو وزارت او ملي امنیت لوی ریاست څخه پرته)؛

ت. د خوړو پیسې (د ملي دفاع وزارت، د کورنیو چارو وزارت او ملي امنیت لوی ریاست څخه پرته) ؛

ج. د برېښنا لگښت؛

ح. اوبو؛

خ. صفایي؛

د. مخابراتو محصول؛

ذ. د وسایطو حفظ او مراقبت؛

ر. د ودانیو د حفظ او مراقبت لګښت؛

۱۳. په ممنوعه کوډونو کې انتقالات یا تعدیلات باید د مالیې وزارت لخوا تصویب شي. د اضافه کارئ وجوه هم ممنوعه کوډ کې شامله ده. بودجوي واحدونه کولای شي د اړتیا په وخت کې د اضاف کاري د مقررې او منظور شوي بودجې سره سم له هغه ګټه پورته کړي او په هیڅ صورت کې له نورو فصولو د معاشاتو د اضافه کارئ لپاره تعدیل نه ترسره کېږي.

۱۴. د مرستندویانو لخوا تمویلیدونکې عملیاتي بودجه په کورنیو چارو او ملي دفاع وزارتونو کې نورو کوډونو ته د دغو مرستندویانو د توافق په صورت کې د انتقال یا تعدیل وړ ده. د مرستندویانو تر تمویل لاندې له نورو کوډونو څخه ممنوعه کوډونو ته انتقالات جواز لري. د امنیتي شرایطو له کبله، د ملي دفاع وزارت، د کورنیو چارو وزارت او د ملي امنیت لوی ریاست د کوډونو تر منځ ۵ سلنه تعدیلات استثنا بلل کېږي چې دغه موضوع د عامه مالي مدیریت قانون په ۴۷ ماده کې ذکر شوې.

۱۵. له نورو فصولو او کوډونو څخه اوپراتیفي کوډونو ته تعدیل ممنوع دي. اوپراتیفي لګښتونه یوازې د لاندې وزارتونو او بودجوي واحدونو لپاره د اجرا وړ دي:

الف. د دفاع وزارت؛

ب. د کورنیو چارو وزارت؛

د. د ملي امنیت لوی ریاست؛

ر. د جمهوري ریاست د دفتر ریاست د دولتي لوړ پوړو چارواکو د ساتنې او امنیت ریاست؛

ط. د ملي امنیت شورا.

۱٦. له یوه باب څخه بل باب ته تعدیل د مالیې وزارت له صلاحیتونو څخه دی. همدارنګه د بودجوی واحدونو د چارو د وروسته پاتي کیدو دی مخنیوای په موخه مالیې وزارت صلاحیت لری چې د بودجې د کمیټې د موافقې پرته تعدیلات اجراء کړی. تعدیلات له ۲۱ باب څخه نورو کوډونو (باب) ته د اجراء وړ ندي. امنیتی اداری (د ملي دفاع وزارت، د کورنیو چارو وزارت او د ملي امنیت لوی ریاست) له دی امرڅخه مستثنی دي.

۱۷. که چیرې د مالي کال په اوږدو کې د پلان شوي عوایدو په پرتله راغونډ شوي عواید زیات وي، په دي صورت کې مالیې وزارت کولای شي چې د عوایدو هغه اضافي برخه د منظور شوې بودجې د کسر د تمویل لپاره وکاروي او بودجې ته یې شامل کړی.

۱۸. که چېرته د مالي کال په څلورمه ربع کې حکومت له سختو مالي شرایطو سره مخ شي چې بېړنیو تدابیرو ته اړتیا ولري، د مالیې وزارت کولای شي د عادي او پرمختیایي بودجې ترمنځ د تعدیل طرحه کابینې ته وړاندې کړي او د کابینې تر تصویب وروسته د معلوماتو لپاره ملي شورا ته واستوي.

۱۹. هغه وزارتونه او ادارې چې د حفظ او مراقبت د لګښتونو په بهير کې شامل شوي دي بايد هوکړه شوي ولايتي تخصيصونه، او يادي شوي بسپنې د مالي کال په پيل کې ټولو ولايتي ادارو ته ابلاغ کړي او د مالي پلان پربنسټ دې ولايتي ادارو ته وليږدوي، ترڅو ټول ورستينی کړنې د ولايتونو په کچه ترسره شي. دغه بسپنې د مالي کال په بهير کې بې له کوم مؤجه دلايلو او د بودجې د لوي رياست هوکړې نه پرته د يو ولايت نه بل ولايت ته د تعديل وړ ندي.

## د پروژو او قرارادادونو مديريت

۲۰. په قراردادونوکې د هر ډول اضافه کاری لپاره (د پيل نه د مخه) د پروژې د بسپنه ورکوونکي (تمويل کونکي) کتبی هوکړه او د اختياري بسپنو په صورت کې د ماليې وزارت د بودجې د لوي رياست کتبي هوکړه اړينه ده. د اختياري پروژو په قراردادونو کې له ۱۵٪ څخه زيات اضافه کاري د اجرا وړ نده.

۲۱. هغه پروژې چې د دوو کلونو په تېريدو سره يې هيڅ ډول پرمختګ نه وي کړای، د بودجې کمېټې ته له وړاندې کيدو وروسته د لست څخه به ايستل کيږي، مګر داچې د نه پرمختګ او يا د لږ پرمختګ لپاره قانع کوونکي دلايل وړاندې کړي او يا دا چې د بودجې په سند کې پاتي شوي ارقام د تامیناتو د تادياتو او يا د پروژو د اجراء کولو د تضمين لپاره موجودي وي.

۲۲. ادارې نشي کولای چې د مرستندويانو د شفاهي ژمنو پربنسټ تړون لاسليک کړي، په دې اړه د بسپنه ورکولو لپاره ليکلې ژمنه اړينه ده. که چيری تمويل کونکی د مالی کال په بهير کې د خپل ژمنې څخه منصرف شي نو اړونده اداره مکلف دی چې د لسو کاری ورځو په لړ کې رسماً ماليې وزارت ته خبر ورکړی.

۲۳. په هېواد کې ټول تړونونه او د پيسو راکړه ورکړه بايد په افغانيو تر سره شي. هغه تړونونه او د پيسو ورکړې چې له هيواد څخه بهر ترسره کيږي، له دې امر څخه مستثنی دي. هيڅ تړون نه شی کيدای چې په عين وخت کې د دوه پولی واحد پراساس لاسليک شی.

۲۴. ټولې ادارې او بودجوي واحدونه مکلف دي ترڅو د خپلو اجراآتو راپور د ماليې وزارت د لاربنود سره سم د مالي کال د هرې ربعي د ختميدو وروسته د دوو اونيو په اوږدو کې د د ماليې او اقتصاد وزارتونو ته وسپاري. د ماليې وزارت دنده لري تر څو د اړوندو ادارو د راپورونو د تر لاسه کولو وروسته په راتلونکو دوو اونيو کې يو توحيدي راپور بشپړ او د ولسي جرګې مالي او بودجوي کميسيون ته وليږي.

۲۵. د احتياطی کوډونو په استثنا، د عادی او انکشافی بودجې تخصيصات د ماليې وزارت يو جلا متحدالمال پر بنسټ به تنظيم شي.

۲۶. ټول بودجوي واحدونه/اداري مکلف دي تر څو خپل مخکينی پيسی (پول پيشکی) د مالي کال تر پايه بايد تصفيه کړي او د مخکينی پيسې (پول پيشکی) د تفتيش د عالي ادارې د مفتيشينو لخوا د اداراتو د مالي څېړنې (بررسی) په وخت په جدی توګه تر څېړنې لاندی ونيول شی. په عادی بودجه کې د پيشکی د نه تصفيې په صورت کې، په راتلونکی مالي کال کې د پيشکی مستحق نه پېژندل کيږی. د قراردادونو او اعتبارليکونو (LC) مخکی ورکړی له دغه اصل څخه مستثنا دی.

۲۷. د اساسي قانون د ۹۶ مادې سره سم، که چېرې يو قانون يا مقرره د نويو مالياتو وضع کول يا د رسمي عوايدو کمولو ته اشاره کوي، د تلافي سرچينه يې د وړانديز په متن کې بايد مشخصه شي. هر هغه قانون يا مقرره چې د ملکي او

نظامي کارکوونکو د معاشاتو زیاتوالي یا هر ډول هغو امتیازاتو کموالي ته اشاره کوي چې پخوا په بودجه کې (د راتلونکو کلونو د اټکلونو په ګډون) نه وي ذکر شوي، که چېرې په قانون کې نه وي ذکر شوي، دغه امتیازات یا نوي لګښتونه د راتلونکي مالي کال په پیل کې نافذ ګڼل کېږي.

۲۸. د سړکونو د حفظ او مراقبت د بسپنې (وجوه) د ښه ګټې اخیستنې په موخه، د ټولګټو وزارت باید د حفظ او مراقبت ټول قراردادونه د اختیاري پراختیایي بودجې لاندې ترسره کړي. سربیره پر دی، د سړکونو د حفظ او مراقبت پیسې٪۲۰ په جاری حفظ او مراقبت ، ٪۶۵ یې په اساسی حفظ او مراقبت او ٪۱۵ یې د سړکونو په عاجله بیارغونه د استفادی وړ دي.

۲۹. هغه ساختماني، اوبو رسونې او نور اړوند قراردادونه چې د پرانیستې تدارکاتو شوونتیا لري، نشي کولای له واحده منبع څخه قرارداد ته وسپارل شي.

۳۰. د اختیاري پروژو د تمویل پریکړه د افغانستان د اسلامي جمهوریت واک او د غیر اختیاري پروژو د تمویل پریکړه د مرستندویانو له واکونو څخه دي. د غیراختیاری پروژو حذف / شاملول او یا د بسپنو د زیاتوالی /کموالی، د مالي کال په بهیر کې د بودجې د ضمایمو په توګه د مالیې وزارت صلاحیت دی او د مالیې وزارت اړ دی ترڅو یاد مالومات د ۷ کاري ورځو په لړ کې ملی شورا ته ولیږدوي.

۳۱. د ضمیمی اجرا، د عادی بودجې حذف له غیر اختیاري بسپنو نه د مؤجه دلایل او اړتیاو او مالیې وزارت د منظوري پربنسټ د مرسته کونوکي د لیکل شوی ژمنې په اساس د مالی کال په بهیر کې د اجراء وړ ده او د ۷ کاري ورځو په لړ کې مالومات به یې ملي شورا ته لیږدول کیږي.

۳۲. هغه پروژو چې د فواید عامې وزارت اړونده د کلیو سړکونو ملی برنامه او د کلیو پراختیا او بیارغونې وزارت اړونده د کلیو د لاسرسی ملي برنامې لاندی ثبت دي، د یوه ورته بودجوی کوډ لرونکي دي او د ولسي جرګې د تصویب څخه وروسته د تغیر وړ ندي.

۳۳. د لوړو زده کړو، د علومو اکادمي، او د زده کړو د نورو مؤسسو ښوونکي چې په نورو بودجوي واحدونو، تصدیو او دولتي ادارو کې په کار ګمارل شوي وي، د علمي کادر له امتیاز څخه ګټه نشي پورته کولای. همداشان ښوونکی او د علومو اکادمی پوهانو نشی کولای د اداری بستونو له معاشاتو څخه ګټه واخلی.

۳۴. ټولې هغه ادارې چې د ملي بودجې له لارې مالي بسپنې تر لاسه کوي، مکلف دي چې نوموړې منظور شوی پیسې مصرف کړي او د نوموړو لګښتونو په اړه ولسي جرګې ته ځواب ورکونکي دي ، خو د ستونزو د شتون په صورت کې باید د هغوی د هوارولو لپاره د مالیې وزارت سره په کتبي ډول اړیکي ونیسي.

۳۵. مالیات پر معاشاتو او قراردادونو دی پر عوایدو د مالیاتو قانون سره سم واخیستل شی. البته نړیوال تړونونه او د دسترخوان خرڅ/لګښت د دی امر څخه مستثنی دی.

۳۶. ټولی ادارې بالخصوص د بهرنیو چارو وزارت د امکان تر حده پورې د باالمقطع کارکونکو د استخدام څخه ډډه وکړي . هیڅ یو کارکوونکی نشی کولای چې د هېواد نه بهر په خدمتي ډول وګمارل شي . د خدمتي کارکوونکو ګمارل په سفارتونو او دیپلوماتیک دفترونوکې د تشکیل په محدوده کې د بهرنیو چارو وزارت په صلاحیت کې دی. د بهرنیو چارو وزارت مکلف دی چې په بهر کې د خپلو نماینده ګانو سیمه ییز کارکوونکو د معاشاتو او امتیازاتو نورم د مالیه وزارت سره په همغږی ترتیب او له منظوری وروسته به اجرا کړي.

۳۷. د بنسټیز (زیربنا) سکتور اړوند وزارتونه په خپلو ټولو هغو ټول ګډو ساختماني پروژو کې چې همغږۍ ته اړتیا لري، باید د پروژې د طرحې او دیزاین په وخت کې د همغږۍ چارو ته جدي پاملرنه وشي، بالخصوص د ټول ګټو وزارت، ښاروالیګانې، د مخابراتو وزارت، د کلیو د پراختیا او بیا رغونې وزارت، د اوبو او انرژۍ وزارت، د اوبو رسونې او کانالیزاسیون شرکت، د برېښنا شرکت او داسې نور د سړکونو د دیزاین په پړاو کې د نوري فایبر او د برق مزي (لاینونه)، د کانالیزاسیون او د اوبو رسونې موضوع ګانې په پام کې وساتي او د همغږۍ سره د پروژې په پلي کولو کې لازمي کړنې تر سره کړي. همداراز د تدارکاتو ملي اداره دې دا موضوع د تړون د لاسلیک په وخت کې په پام کې ونیسي.

۳۸. د بودجې اجرا، یواځې د وزیرانو او د صلاحیت لرونکو آمرینو مسولیت نه بلکې معینانو/د اداری مرستیالانو، د پروژې مسولینو او دی مربوطه ادارو د مشرانو مسولیت هم دی.

۳۹. ټول هغه قوانین، مقرري او پالیسي چې ملي بودجه باندی په مستقیمه توګه مالي اغیزه ولري، باید د کابینې لخوا تایید شي؛ د یادونې ده چې د کابینې د تایید څخه مخکې د مالیې وزارت توافق حتمي بلل کېږي؛ پرته له هغه، د مالیې وزارت د هغه د تطبیق لپاره اړ ندی.

۴۰. د افغانستان اسلامي جمهوریت او ډونر ترمنځ تړون لیک ته په پام سره په غیراختیاري بودجه کې د مالیې وزارت کولای شی اعتبار لیک (LC) پرانیزي او یوازې د مصرف وړ وجوه په ملي بودجه کې شامله کړي.

## د کارکوونکو اړوند موضوعات

۴۱. وزارتونه او اداري مکلفې دي چې خپل تشکیل د مرکز او ولایتونو په تفکیک د تشکیلاتو د کمیسیون لخوا د تایید شوي سقف سره سم چمتو کړي او د مالي کال په اوږدو کې باید د تشکیل د هر ډول زیاتوالي څخه په جدي توګه ډډه وکړي. د ملي بودجې په سند کې تصویب شوي تشکیل وروستی ګڼل کیږی.

۴۲. د دولت ټول کارکونکي (لوړ رتبه او ټیټ رتبه) نشي کولای چې په رسمي وخت کې له دوه مرجعو څخه معاش تر لاسه کړي.

۴۳. د اختیاري او غیراختیاري پرمختیایي پروژو کارکوونکو معاشونه چې د ملي بودجې له لارې یې پراونه ترسره کېږي، باید د معاشاتو د ورکړې د لایحې (NTA) له مخې ورکړل شي او په هیڅ وجه میاشتینی معاش له ۲۵۰۰۰۰ افغانیو څخه زیات نه شي.

۴۴. هغه دولتي کارکوونکي کوم چې تقاعد ته سوق ورکول کېږي، د دولتي ادارو له لوري په بیاځلي ډول نه استخدامېږي؛ په استثنایي حالاتو کې د مالیې وزارت او د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو کمیسیون لیکلي توافق باید ترلاسه شي.

# د ۱۳۹۸ کال نوي پالیسۍ

## لنډه کتنه

د افغانستان مالي منابع محدوده دي. له دې امله، د بودجې اټکل شوي پایلې باید د ملي لومړیتوبونو پربنسټ ولاړې وي. د هېواد تولیزه پرمختیایي موخې د افغانستان د سولې او پرمختیا په ملي چوکاټ (ANPDF 2017-2021) کې چې د هېواد د ځان بسیاینې او د خلکو د هوساینې لپاره پنځه کلن ستراتیژیک پلان دی، څرګند شوي دي. اړتیا لیدل کېږي چې د پالیسۍ ټاکل شوي لومړیتوبونه په مستقیمه توګه د اقتصادي ودې، د عوایدو راټولولو، د خدمتونو وړاندې کولو او د بیوزلۍ د له منځه وړلو په برخه کې، لکه څنګه چې د افغانستان د سولې او پرمختیا د ملي چوکاټ په سند کې راغلي او په لومړیتوب لروونکو ملي پروګرامونو کې په تفصیلي ډول څرګند شوي، پایلې ولري.

## د پالیسۍ نوي فعالیتونه څه دي؟

پدې برخه کې د پالیسۍ نوي فعالیتونه عبارت دي د حکومت له هغو پروګرامونو، پالیسۍیا پروژې چې په ۱۳۹۸ مالي کال کې (یا وروسته) پیل شوي وي. همداراز د پالیسۍ نوي فعالیتونه هغه پرېکړې په بر کې نیسي-چې پربنسټ یې عمده بدلونونه د تېرو پروګرامونو په محدوده یا قیمت کې تایید شوي وي.

د نوي پالیسۍ تعریف لاندې موارد په بر کې نیسي:

- په مالیاتو او نورو هغو اقداماتو کې بدلونونه چې د حکومت د عوایدو د زیاتوالي لامل ګرځي؛
- نوي مصرفي فعالیتونه یا نوښتونه؛
- هغه فعالیتونه یا نوښتونه چې د حکومت د پخوانیو نامؤثرو لګښتونو د کموالي لامل ګرځي؛
- د لګښتونو د فرضیاتو واقعي انعکاس په موخه د موجودو پروګرامونو د لګښتونو په مشخصاتو/تګلارو کې بدلون؛
- د راتلونکو درېیو کلونو او سږنۍ بودجې د اټکل په موخه د عوایدو او لګښتونو لپاره د څوکلنو اټکلونو په ګډون د لګښتونو د منځ مهاله چوکاټ تطبیق.

## د عوایدو د زیاتولو طرحه او وړاندیزونه

لکه څنګه چې څرګنده ده افغانستان په تېرو کلونو کې بهرنیو مرستو ته تکیه درلود چې د ملي بودجې یوه عمده برخه د بهرنیو مرستو له لارې تمویلېدل. مګر د وخت په تېرېدو سره بهرني مرستې، په ځانګړي ډول په ملي بودجه کې مخ په کمېدو دي او لازمه ده ترڅو د افغانستان دولت د خپل ځان بسیاینې لپاره مختلفې لارې ولټوي. یو له دغو لارو څخه د نویو عایداتي سرچینو معرفي دی چې د موجودو عایداتي ظرفیتونو د تحلیل له لارې د مرکز او ولایتونو په کچه ترسره کېږي.

د کورنیو عوایدو د لوړولو په برخه کې ترټولو مهم ګامونه په لاندې ډول دي:

- د مسلکي خدمتونو د وړاندې کولو او له اداري فساد څخه د مخنيوی په موخه د کارکوونکو لپاره د تشويقي معاشاتو اجرا کول؛ او د فزيکي پيسو په بڼه کې د عوايدو راټولولو په موخه د ماليې وزارت د افغانستان بانک سره په همغږۍ کې د بانکونو د څانگو د جوړولو امکان پذيري ارزوي او پدې اړه جامع ميکانيزمونه رامنځ ته کوي او د اړتيا په صورت کې اړوند قوانين هم تعديل او بياکتل کېږي؛
- د عامه پوهاوي پروگرامونو پياوړي کول او د مالياتي فرهنگ د ترويج په موخه پوهنتونونو درسي نصاب کې د مالياتو د مضمون شاملول؛
- د وزيرانو او دولتي اداراتو چارواکو سره د غونډو او ملاقاتونو له لارې د غيرمالياتي عوايدو په ښه توگه د راټولولو لپاره د لازمو گامونو پورته کول؛
- د کانونو وزارت دې د امنيتي سکتور سره په همکارۍ د کانونو د غيرقانوني او غيرحرفوي استخراج او قاچاق څخه د مخنيوی لپاره اقدام وکړي او د هغه حق الامتياز او نور مالياتي او گمرکي وجايب د دولت حساب ته انتقال کړي او د امکان په صورت کې هغه تصدي گانې چې د کانونو په برخه کې فعاليت لري پياوړي او پر هغه پانگونه وکړي؛
- د ماليې وزارت، د کانونو وزارت سره په تفاهم کې د کانونو واحد حساب د هغه د عوايدو د راټولولو په موخه په مرکز او ولايتونو کې بايد جوړ کړي ترڅو د دغه وزارت د عوايدو په راټولولو کې له بې نظمۍ څخه مخنيوی وشي.
- د مالياتي تېښتې څخه د مخنيوی په موخه د مالياتي استخباراتو ادارې جوړول، د ماليه ورکوونکو د شمېر زياتول او د ماليې د کتمان څخه مخنيوی؛
- د ولايت مقام په چوکاټ کې د ولايتي عوايدو کمېټې جوړول؛ د ولايتي شورا ريس، د ملي امنيت ريس، د امنيت آمر، د بهرنيو چارو نمانيدگي ريس، د عدليې ريس، د اقتصاد ريس، د مخابراتو ريس، د ټرانسپورټ ريس او د مستوفيتونو د عوايدو د څانگې آمرين او مديرانو په گډون؛
- مرکزي او رياستونو او ولايتونو کې د مالياتي حسابونو د ارزونې او تصفيې د پروسې ساده کول؛
- وزارتونه او خپلواکه ادارې بايد خپل د فيس ډول او اندازه اقتصادي او ټولنيز وضعيت ته په کتنې هر درې کاله بررسي کړي؛
- د وزارتونو او خپلواکو ادارو د عايداتي منابعو ارزونه او تحليل ترڅو هغه ساحې چې په هغې کې عوايد ضايع کېږي وپېژندل شي او د عوايدو د ضايع کېدو څخه د مخنيوی لپاره د پاليسي گانو طرحه کول او د وزارتونو او خپلواکو ادارو د بهاداره اوراقو د کيفيت ښه کول؛
- د دولت د بهرنيو واحدونو د غيرمالياتي عوايدو د پروخت راټولولو او انتقال لپاره د يو واحد ميکانيزم جوړول (سفارتونه، قونسلونه، ټرانسپورتي آتشې او سوداگريزې آتشې)
- د اظهارنامې د وړاندې کولو او آنلاين مالياتي فورمه جاتو ته د ماليه ورکوونکو د لاسرسی برېښنايي سيستم په نورو اداراتو کې؛

- د مالیه ورکوونکو مالیاتي چارو خدمتونو ته د رسېدنې لپاره د مالیاتي محاسبینو/وکیلانو د پروسې پیل (د وکیلانو پواسطه مالیاتي خدمتونو ته د مالیه ورکوونکو لاسرسي)؛ د قانوني مرجع په توګه؛
- د ګمرکاتو او نورو اړوندو ادارو سره په همغږۍ د ارزښت پر زیاتوالي مالیې تطبیق لپاره د لازمو تدابیرو اخیستل؛
- په پنځه دوهم درجه نویو ولایتونو کې د خطر پربنسټ د اطاعت پذیري برنامې اجرا، د خطر پربنسټ اطاعت پذیري کمېټې لپاره هماهنګي او د خطر پربنسټ بررسي پروسې پراختیا او تطبیق.

## د ۱۳۹۸ مالي کال په بودجه کې اصلاحات

**بودجې سره د پالیسی اړیکه:** د بودجې د څو کلنو اټکلونو د پالیسی په تطبیق سره د حکومت له لوري یوه لیرې سنجوونکی بودجه چمتو کېږي چې د هغې پربنسټ پرېکړې نه یواځې بودجوي کال، بلکې د منځ مهاله مودې لپاره کېږي. د بودجې د څوکلنو اټکلونو تګلاره د بودجې د موجودو محدودیتونو په چوکاټ کې، د دولت د اوسنی پالیسی د لګښتونو څخه یو جامع اټکل ښیي. د پالیسی نوي وړاندیزونه په موجوده پورټفولیو کې د سپما یا د لاسرسی وړ مالي محدودیې له لارې، د حکومت لومړیتوبونو ته په پام سره د خلکو د هوساینې د ښه کولو په موخه به تمویل شي.

ملي لومړیتوب لروونکي پروګرامونو ته په پام سره چې د هغوی تطبیقي پلانونه په بشپړه توګه چمتو شوي، د وزارتونو موجوده پورتفولیو د ملي لومړیتوب لروونکو پروګرامونو د موخو سره د سازګاري اصل ته په کتنې سره ارزول شوي دي. په څو راتلونکو کلونو کې به حکومت د موجودو پالیسي ګانو د فرضیاتو د اساس پر ارزونې تمرکز وکړي چې په پایله کې به هغه فعالیتونه چې ناسم اجراآت او ټیټ لومړیتوب ولري حذف شي. دا پدې مانا ده چې د منابعو د سپمولو لپاره حکومت ګامونه اوچت کړي چې په هغه کې به نوي پروګرامونه د افغانستان د سولې او پرمختیا د ملي چوکاټ موخو سره د مطابقت پربنسټ په پام کې ونیول شي.

**په ۲۰۱۸ کال کې د ملي لومړیتوب لروونکو پروګرامونو تشریح:** د افغانانو د ژوندانه کچې او اقتصاد د ښه کولو او د یوه سوله ییزه او پرمختللي افغانستان د جوړولو په موخه د افغانستان د سولې او پرمختیا ملي چوکاټ د تطبیق په هکله حکومت ژمنې ورکړې. عمل ته د ستراتیژۍ بدلول، د لګښتونو لومړیتوب ورکولو ته اړتیا لري، چې د ملي لومړیتوب لرونکو پروګرامونو له لارې د سولې او پرمختیا په برخه کې ټاکل شویو موخو ته د رسېدو لپاره مرسته کوي. د افغانستان ملي لومړیتوب لرونکي پروګرامونه، د پایلو پربنسټ ولاړ پروګرامونه دي چې وزارتونو سره د پالیسي او ستراتیژي اړوندو موضوعګانو په هکله د هغوی د ستونزو د حلولو په برخه کې مرسته کوي. د ملي لومړیتوب لرونکو پروګرامونو بودجه، د لاسرسی وړ مالي محدودیې او د لګښتونو ربښتینې اټکلونو ته په پام سره او د عامه مالي مدیریت ریفورم (PFM) پروسې سره سم، چمتو شوی ده. لومړیتوب لرونکي ملي پروګرامونه، له بودجې سره د پالیسی د همغږۍ د ښه کولو په برخه کې کلیدي نقش لوبوي. د دغو پروګرامونو پراختیا اسانه کار نده. مګر موږ توانېدلي یو د اصلي لومړیتوبونو په برخه کې د پام وړ پرمختګ ولرو.

ټول ملي لومړیتوب لرونکي پروګرامونه ګډ اصول لري. د لومړیتوب لرونکي ملي پروګرام لاندې عامه پانګه اچونې لپاره نوي وړاندیزونه باید پر لاندې اصولو تکیه ولري:

- باید په ملي کچه کې وي او جغرافیایي او جنډر مسایلو له اړخه د متوازن پرمختیا په برخه کې دقیقه پاملرنه ولري؛
- د افغانستان د خلکو بیوزلي کمه، اقتصادي وده ګړندۍ او هوساینه ښه کړي؛
- د حفظ او مراقبت اړوند لګښتونو دقیقه اټکل په برخه کې د حکومت نوي پالیسي په پام کې ولري؛
- قوي منطق او د ستونزو د حل لپاره د همغږۍ تګلاره ولري.

| هغه ملي لومړیتوب لروونکي پروګرامونه چې بشپړ شوي او اوسمهال د تطبیق چارې یې روانې دي: | هغه ملي لومړیتوب لروونکي پروګرامونه چې په ۲۰۱۸ کال کې بشپړ شوي: |
|---|---|
| ۱ـ د ولسي تړون پروګرام (د ۲۰۱۷ کال په مې میاشت کې پیل شوی)<br>۲ـ د ښځو اقتصادي ځواکمنتیا پروګرام (د ۲۰۱۷ کال په مارچ میاشت کې پیل شوی)<br>۳- د زیربنا ملي پلان (۲۰۱۶)<br>۴- د عدلي او قضایي سکتور ریفورم پروګرام (په ۲۰۱۷ کې تصویب شوی)<br>۵- د کرنې د پراختیا جامع پروګرام (د ۲۰۱۶ په اکتوبر کې تصویب شوی)<br>۶- ښاري پراختیا پروګرام (د ۲۰۱۶ د جولای په میاشت کې تصویب شوی) | ۷- د خصوصي سکتور د پراختیا پروګرام<br>۸- د کانونو او منابعو د پراختیا ملي پروګرام<br>۹- د اغیزمنه حکومتولۍ پروګرام<br>۱۰- د بشري سرچینو د پراختیا پروګرام |

**د عامه پانګونې په برخه کې اصلاحات:** نوي لومړیتوبونه به سږ کال د افغانستان د سولې او پرمختګ د ملي چوکاټ (ANPDF) او د وزارتونو د چمتووالي سره سم د پروژې د طرحې د اسنادو د کیفیت پربنسټ وارزول شي. مګر، د راتلونکي کال لپاره بودجوي وړاندیزونه باید د مالي او اقتصادي لګښتونو له اړخه تحلیل شي. د افغانستان په ملي بودجه کې مالي منابع په راتلونکي کې به همداشان محدوده پاتې شي. له دې کبله، د مالي بدیلې ګزینې ترمنځ تبادله باید مخکې له هغې څخه چې د بودجوي واحدونو وړاندیزونو ته ژمنه ورکړل شي، واضحه شي.

**د بودجه جوړونې له پروسې څخه د پروژه جوړونې پروسې جلا کول:** په روان کال کې د پراختیایي پروژو د ترتیب پروسه د بودجه جوړونې له پروسې څخه جلا شوی ده. په بودجوي واحدونو کې د پراختیایي پروژو د ترتیب ټیم کولای شي د کال په اوږدو کې د خپلو نویو پراختیایي پروژو پر طرحې او ترتیب کار وکړي او بودجوي امکاناتو ته په کتنې، دغه پروژې د کال منځنۍ ارزونې یا د ملي بودجې د ترتیب پروسې په وخت کې په ملي بودجه کې شامله کړي. په ۱۳۹۷ مالي کال کې د بودجوي واحدونو لپاره د قیمت ګذارۍ فارمټونه ترتیب او وړاندې شوي ترڅو د نویو پروژو د څو کلنو لګښتونو څخه واقعي اټکل وړاندې کړي. همداراز، د پروژو شرحه یا کانسپټ نوټ په سمه توګه ترتیب او چمتو شوی ترڅو ادارې وکولای شي د پروژو له تصویب څخه دمخه، د خپلو نویو پروژو مفکوره په اسانه توګه اړوندو ادارو

سره شریکه کړي. نوي پروژې او فعالیتونه باید د ستونزو د حل لپاره ښه منطق ولري او د څو کلونو لپاره د بدلون مشخصه موخه او د لګښتونو د پیدا کولو لپاره واقعي طرحه ولري.

## د زیربنایي پروژو ارزونه (Portfolio Review)

د بودجې د اصلاح پروسې د یوې برخې په توګه، د افغانستان دولت د عامه پانګونې مدیریت د پیاوړتیا لپاره په ۱۳۹۷ مالي کال کې د زیربنایي پروژو د پورټفولیو ارزونه ترسره کړه. دغه ارزونه وښودله چې ګڼ شمېر زیربنایي پروژې د څو کلونو لپاره څنډول شوي دي. ټاکل شوی ده دغه پروژې د کلنۍ ارزونې په موخه د بودجې کمېټې ته واستول شي چې دغه ارزونه قیمت ګذاري، د پروژو پلان جوړونه او د پروژو د بودجې د اټکلونو تصحیح په بر کې نیسي چې دغه کار د زیربنایي پروژو د ملي پایلو د ښه کولو لپاره یو پرځای ګام بلل کېږي.

د مالیې وزارت په ۹ لویو زیربنایي وزارتونو کې د پروژو نمونه یي ارزونه د پروژې د تطبیق او د حساسو محدودیتونو د پېژندلو په ګډون د خدمتونو وړاندې کولو، د مطابقت او پراختیایي پروژو د اغیزو د ښه کولو په موخه ترسره کړې ده. دغه نمونه یي ارزونه د عامه پانګونې، مطابقت او د اوسنیو زیربنایي فعالیتونو د اجراآتو د ښه کولو په موخه د حکومت د بودجې د اصلاحاتو د اوسنۍ پروسې برخه ده. د دغې ارزونې اصلي تمرکز پر هغو ۹ لویو زیربنایي وزارتونو ده کوم چې د ۲۰۱۶-۲۰۲۱ په ملي زیربنایي پلان کې ذکر شوي دي. دغه اداري/وزارتونه شامل پر ټولګټو وزارت، انرژي او اوبو وزارت، د افغانستان برېښنا شرکت، کور جوړونې او ښاري پراختیا وزارت، کرنې وزارت، ملکي هوایي چلند اداره، کانونو او پطرولیم وزارت او مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت کېږي.

**د زیربنایي پروژو د لګښتونو ارزونه:** په ۲۰۱۷ کال کې د ملي زیربنایي پروګرام لګښت ۶۳۲ میلیون ډالرو ته رسېدل چې د ۲۰۱۵ کال د ۵۲۷ میلیون ډالره لګښت څخه ۲۰ سلنه زیاتوالي ښیي. د ټرانسپورټ او انرژي سکتورونه د بودجې د تخصیص او مصارفو پربنسټ د مخکښو سکتورونو په ډله کې راځي چې فیصدي یې په ترتیب سره شاوخوا ۷۶ سلنه او ۷۲ سلنه کېږي. په ۲۰۱۸ کال کې د پراختیایي بودجې تخصیص ۶۴۴ میلیون ډالره کېږي چې د پراختیایي بودجې ۴۲ سلنه جوړوي او دا لومړنی کال دی چې له تېرو کلونو څخه د نه لګول شویو تخصیصاتو لېږدول په هغه کې توقف شوی او د پروژې پربنسټ د بودجې تخصیص د کال د مالي مقرراتو له ډلې څخه شمېرل کېږي.

**د پروژو تولیزه کتنه/زیربنایي پورټفولیو:** زیربنایي برخه د پراختیایي پروژو یوه لویه فیصدي جوړوي چې دغه پروژې د تطبیق په موده کې یې د ځنډ له امله تمدید شوي دي. دا پخپله په پراختیایي پروژو کې چې د اختیاري او غیراختیاري بودجې څخه تمویلېږي د یوې سیستماتیکې ستونزې لامل ګرځېدلې دی. څکه، د لاندې لاملونو له کبله دغه پروژې د تطبیق په ټولو پړاوونو کې ګڼو ستونزو او ځنډونو سره مخ کېږي.

د داوطلبي د اسنادو چمتو کولو او تصویب په پړاو کې د مدیریتي ظرفیتونو محدودیتونه، کمزورې تدارکاتي پروسه او د پروژو د تطبیق ارزونه.

**د ارزونې پروسه:** د زیربنایي پروژو ارزونه په دوو پړاوونو کې ترسره کېږي: ۱- لومړنی مطالعه او ارزونه د مالیې وزارت له لوري د اړوندو بودجوي واحدونو سره په مشوره. ۲- د پروژو د اوسنۍ وضعیت تفصیلي ارزونه او د پروژو د ستونزو د پېژندلو په موخه د فورمول جوړول:

| د قناعت وړ پروژې (شين) | ګواښ سره مخ پروژې (زيړ) | ستونزمنې پروژې (سور) |
| --- | --- | --- |
| • هغه پروژې چې د قناعت وړ دي او د لګښت کچه يې د منلو دی | • هغه پروژې چې له ۲-۴ کلونو په بودجه کې موجودې وی او د لګښت کچه يې ۷۵ سلنې څخه کمه ده.<br>• هغه پروژې چې له ۲-۴ کلونو په بودجه کې موجودې وی او تراوسه قرارداد نلري. | • هغه پروژې چې له ٦ کلونو څخه زيات په بودجه کې موجودې وي او د لګښت کچه يې تر ۲۵ سلنې کمه ده.<br>• هغه پروژې چې له ۵ – ٦ کلونو په بودجه کې پاتې وي او د لګښت کچه يې تر ۵۰ سلنې کمه ده.<br>• هغه پروژې چې ۴ کاله يا له څلورو کلونو څخه ډېر په بودجه کې پاتې وي او تر اوسه قرارداد نلري. |
| ۱۲۸ پروژې (۴٦%) | ۵۷ پروژې (۲۰%) | ۹٦ پروژې (۳۴%) |

نوټ: په ځينې مواردو کې د پروژو AFG کوډ د څو پروژو لپاره کارول شوی او يا هم کله چې پخوانۍ پروژه پای ته رسېدلې د هغې استفاده د نويو پروژو لپاره دوام کړی ده

له دې امله، اوسنی پورټفوليو شامل پر ۲۸۱ پروژو کېږي چې له هغې ډلې ۹٦ پروژې ستونزې لري (۳۴ سلنه د پورټفوليو)، ۵۷ پروژې له ګواښ سره مخ دي (۲۰ سلنه) او ۱۲۸ پروژې د قناعت وړ دي (۴٦ سلنه). دغو مشخصاتو ته په کتنې سره، ۵۴ سلنه پروژې له ګواښ او ستونزو سره مخ دي.

په وزارتونو کې د ګواښونو پروفايل توپير لري او په دی توګه دي: د ټولګټو وزارت ۵۴ سلنه، د افغانستان برېښنا شرکت ۷۳ سلنه، د انرژۍ او اوبو وزارت ۷۵ سلنه، د ملکي هوايي چلند اداره ۵۲ سلنه، د کرنې وزارت ۳۹ سلنه، د کور جوړونې او ښاري پراختيا وزارت ۴۴ سلنه، د کابل ښاروالۍ ۲۹ سلنه، د مخابراتو وزارت ۴٦ سلنه او د کانونو وزارت ۲۷ سلنه. هغه وزارتونه او ادارات (د ټولګټو وزارت، د افغانستان برېښنا شرکت او د اوبو او انرژۍ وزارت) چې په ۲۰۱۷ کال کې د اختياري بودجې د ۷۲٪ څخه زيات زيربنايي تاديات په غاړه لري، د احتمالي ستونزو او ګواښونو يوه لوړه فيصدي سره طبقه بندي شوي دي.

**د پروژو د تطبيق وضعيت:** بودجوي واحدونو سره د ترسره شويو مشورو پربنسټ، د پروژو د تطبيق د وضعيت تحليل وښودله چې له ۲۸۱ پروژو څخه ۲۱۱ پروژې (۷۵ سلنه) د تطبيق په حالت کې دي، ۲۷ پروژې (۱۰ سلنه) له مالي او فزيکي اړخه د بشپړېدو په حال کې دي، ۳۰ پروژې (۱۱ سلنه) تراوسه قرارداد نلري او ۱۳ پروژې (۴ سلنه) په لومړنيو پړاونو کې د سروی، ډيزاين يا امکان سنجونه په حال کې دي. د ۲۱۱ پروژو (د پروژو ۷۵ سلنه) له ډلې څخه چې د تطبيق په پړاو کې دي، ۱۳۷ پروژې (د پورټفوليو ۴۹٪) د تطبيق په حالت کې دي، ۱٦ پروژې (٦ سلنه) تمديد ته اړتيا لري، ۹ پروژې (۳ سلنه) امنيتي ستونزه لري او اوس د تطبيق وړ ندي، ۱٦ پروژې (۵ سلنه) لاينحله ستونزې لري او ۳۳ پروژې (۱۲ سلنه) د تدارکاتو په پړاو کې دي.

**وړاندیزونه:** د پروژو د پورټفولیو د ارزونې موندنې د بودجې په استماعیه غونډو کې له وزارتونو سره شریکې او له هغوی څخه غوښتنه شوی ترڅو د پروژو د تطبیق چارې ګړندی او له نیردې یې وڅاري. د ځانګړو حل لارو اړوند ګامونه هم د هرې پروژې لپاره پیشنهاد شوي ترڅو وزارتونه د هغو پروژو په تطبیق کې چې ستونزو سره مخ دي، مرسته وکړي.

له هغه ځایه چې مالي محدوده سږ کال محدوده ده، ۳۰ هغو پروژو ته چې تراوسه یې قرارداد عقد شوي ندي باید په ځای د دې چې نوي پروژې پیل شي، لومړیتوب ورکړل شي. ګڼ شمیر نور وړاندیزونه هم په لاندې ډول دي:

- اوسني هغه پروژې چې د تطبیق په برخه کې ستونزې لري، لاندې برخو کې پریکړې ته اړتیا لري: د پروژې د مودې تمدید، تدارکات، امنیت، ناحل شوي ستونزې، د اړتیا په صورت کې د پروژې توقف، د پروژې د کاري ساحې کمول او د وجوهو بیا تخصیص.
